تریکې

د ملا اسد الله (حنیفی) اثر

دکتاب نوم : څرېکې
شاعر :ملا اسد الله (حنیفی)
د چاپ شمیر : (۱۰۰۰) ټوکه
د چاپ کال : ۱۳۶۹ هـ ،ش د لړم میاشت
کمپوزر : مامور علیجان (سلطانی)
د چاپ مسئول : ملا در محمد (گوهری)
خپرونکی اداره: د جمیعت طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان فرهنگی او مطبوعاتی انجمن

PROPERTY OF ACKU
1859

څړیکې

فون د ۲۱۲۵۳۵
مکتبه سرحد خیبر بازار
پیښور

د ملا اسد الله (حنیفی) اثر

دکتاب نوم : څرېکی
شاعر :ملا اسد الله (حنیفی)
د چاپ شمیر : (۱۰۰۰) ټوکه
د چاپ کال : ۱۳۶۹ هـ ،ش د لړم میاشت
کمپوزر : مامور علیجان (سلطانی)
د چاپ مسئول : ملا در محمد (گوهری)
خپرونکی اداره: د جمیعت طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان فرهنگی او مطبوعاتی انجمن

بسم الله الرحمن الرحيم

اهدأ

د افغانستان ټول مؤمن ولس ته، د اسلامی
انقلاب ټولو دردیدلو برخه والو ته په تیره
بیا د اسلامی ادب گردو مینه والو ته

والسلام

له شاعر نه

دلته دی اثر کی می‌رژره او ځگر څیریکی دی
دلته له جفا د ناسور شوی پرهر ځریکی دی
دلته نه ساقي شته ده‌نه خم شته نه پیالی شته دی
دلته ټولی څیریکی دجهاددرو گر څیریکی دی

دلته دویدو زړو ویښه ول او تخنه ول په کی
دلته د احساس را پاره ول او خو ځول په کی
نه په کی خوبان شته نه نغمی په کی د مینی شته
دلته د مؤمنو پرگنو بیدا رول په کی

دلته فریادونه دی ژړا وي دی ویرونه دي
دلته د مظلوم ولس د حال حکایتونه دی
نه دلته خوښی شته نه قلم خوښی لیکلی ده
دلته ټول دردونه دي ناخوالی دی غمونه دی

۱۳۶۹/۶/۱۹

جهاد گلی

4

هغه محترم ورونه چې پدې کتاب یې لیکنې کړی دی

مخ		گڼه
لومړی	محترم مولوی عمادالدین د جمعیت طلبه حرکت صدر	۱
څلورم	محترم مولوی فقیر محمد خنجری د جمعیت طلبه فرهنگی آمر	۲
پنځم	محترم فضل ولی (ناگار)	۳
دولسم	محترم شهرت ننگیال	٤
څوارلسم	محترم ملنگیار	٥
ولسم	محترم ربیع الله (مجددی)	٦
نولسم	محترم محمد اسحاق (نظامی)	۷
یوویشتم	محترم أمان الله (نصرت)	۸
درویشتم	محترم ملا در محمد (گوهری)	۹

aa

بسم الله الرحمن الرحيم

زه په دی ویاړم چه للّه الحمد د جمعیت طلبه حرکت انقلاب اسلامی په گلشن کښی داسی تازه اوښایسته گلونه راټوکیږی چه په خوشبویی یی افغانستان څه چه ټوله اسلامی نړی معطره، او ددوی دقلمی آثارو په برکت د هرښا درده او ښاد رکه مسلمان دماغ تازه او زړونه یی پری خوشحاله کیږی یوازی دا نه چه زړونه یی خوشحالیږی بلکه له هغه نه الهام اخلی.

له دی اسلامی او مذهبی بڼ څخه یو نوی راټوکیدلی تازه گل طالب العلم اسدالله (حنیفی) دی، اسدالله (حنیفی) که له یوی خوا خپل زیاتره عمر د دینی علم په زده کړه کښی تیر کړ خو چه کله په افغانستان کښی دالحادلمن راخپره شوه نوئی وسلوال جهاد ته ملا وتړله چه ددی ترڅنگ یی خپلی قلمی مبارزی ته هم په ډیره پیاوړتیا او لیوالتیا دوام ورکړ، چه د جمعیت طلبه حرکت په مرکزی دفتر کښی یی دیادونی وړ خدمتونه ترسره کړل.

(حنیفی) صیب دادب په ساحه کښی چه څومره مهارت او بصیرت لری غواړی چه هغه ټول د مجاهدینو او مظلوم وولس خدمت ته کښی وقف کړی په همدی سلسله شپه او ورځ په دی هڅه کښی دی ترڅو خپله شعری قوه د مسلم وولس دویښتیا په غرض په جهادی او حماسی شعرونو جوړولو کښی په کار واچوی او اسلامی ټولنی ته دخپل توان او استعداد په درلودلو سره ښه خوا په خواږه شعرونه وړاندی کړی.

٣٦٧

دوهم

داجوته ده چه له نثرڅخه نظم ډیرموء ثر وی لکه چه ویل شوی دی .

النظم ابلغ من النثر

بیا دارنګه حماسی شعرونه خوډیرزردوګړوپه زړونوا ثرغورځوی دیوه فردپه لبوستلوسره لوستونکی دیته رابولی چه ټول کتاب ولولی .

ځکه چه دارنګه شعرونه دهرمظلوم دزړه دخړیکو هنداره ده ددی شعرونوپه هرېندکښې دمظلوم وولس دزړونوځړیکی ، آهونه اوفریادونه پیچلی دی .

ما دده شعرونه څخه ولوستل واقعاً چه دادب له لحاظه خورا ښه او دا سلامی ټولنی له پاره داستفادی وړووده داشعرچه وایی :

زمونږجهاددی چه له خوبه جهانیان ویښ وی

الهام ښئونکی دی هرلورته موء منان ویښ وی

وینه یی ګرمه کړه رګونوکښې دهروګړی

دآسیازړه نه زمزمه شو آذریان ویښ وی

راپاڅوی راخوځوی راوینوی پرګنی

دهندپه وراندی دکشمیردغروبازان ویښ وی

هلته پاڅون، دلته پاڅون، ټوله نړی شوه ویښه .

دکمون بوټی ورکه وی اروپایان ویښ وی

زماپه زړه ډیره اغیزه وکړه زماپه زړه کښې یی ددی مینه پیدا کړه ترڅودجمعیت طلبه حرکت له لوری دده دشعرونودغه مجموعه چه ستاسوپه لاسونو کښې ده چاپ اوتکثیر شی ځکه چه له یوی خوا به

دریم

دحنیفی صیب ځوانه او انقلابی جزبه لاپسی ګړندی شی او له بله پلوه به دده له دی شعری اثرڅخه مسلمان وګړی ګټه واخلی ، نوپه همدی منظور موددی بیش قیمته کتاب په طبع کولو لاس پوری کړ.

زه له هرمسلمان اوپه تیره بیا له هرطالب العلم څخه غواړم چه خپلی جها دی جزبی لاپسی ګړندی کړی اودهررا زدښمنا نودسیسوته پوره متوجه اووسیږی او وسی اوپری نږدی چه دښمنان خپل ناولی پلانونه زمونږ ترمینځ خواره کړی .

والسلام

(مولوی عمادالدین دجمعیت طلبه حرکت عمومی صدر) تاریخ ۱۳۶۹/۷/۲۲

څلورم

اسدالله (حنیفي) چي په شعرا وشاعري کښې ړومبی قدم کښیښود ما به دهغه شعرونه کتل سره له دي چي نوموړی یوابتدائی طالبالعلم وخوپه اشعاروکښې ئې سوزا ودردله‌ورا په‌ښکاریده ما به‌ورته دا شعارودا دا می توصیه کوله‌اوپه ځنی اوقاتوکښې به‌می دده دا شعارو غزلونوا ومقامونو اصلاح هم کوله ولی کله چي په‌ګران هیوادکښې دروسانوپه ملاتړ خونړی کودتا وشوه‌او وزړونه‌یی په ځړیکورا وستل او وحشی کمون دبیګناه انسانانو دوینوڅخه سیلابونه وبهول حنیفی صاحب هم‌دخال اوخط جام اومی له شاعری څخه لاس‌په سرشودقلم خوله‌ئې دجهادی موضوعاتوپه‌لوررا واړوله‌دده اشعارچي په (ځړیکی) کښې ذکردي ځماله نظره تیرشوی دی واقعا" په هغوکښې درد، ځوګ، شور اوسوزښته دی له ټولو لوستونکوڅخه داامیددی چي ددی مجموعي څخه استفاده وکړی .

په‌درناوی

ستاسوورور مولوی فقیرمحمد (خنجری) دجمعیت طلبه حرکت دفرهنګی کمیټی آمر

جهادي ادب او څریکي

لکه څنګه چې زموږ جهاد يواځې زموږ لپاره نه بلکې د ټولې نړۍ لپاره د الهام خوږه پيلامه وګرځېده، په همدې ډول د دې جهاد اغیزې د خپل خط السیر د ننه ډیرې بنسټیزې وختي .
او هغه په دې مانا چې په ګرد ادب او بیا په تیره په شعر کې یو ژوربدلون را منځته شو. د روایت کړی ماتې شوی ، او شاعر د خپل نوي پیغام سره د میکروا و بتکدو نه را ووت . زمونږ تیر ادب که ښه وڅیړل شي ، نو د جاهلیت نښې نښانې پکې له ورایه څرګندیږي .دا بیله خبره ده، چې افغانان جنګیالي او ننګيالي ولس دي ، د هغوي غیرت او حماسې هم د هغوي د شاعرانو په شعرونو کې منعکس شوي دي . د مثال په ډول که تصوفي ادب وڅیړو، نو پرته له اصلاحي نښو نښانو پکې د تحرک او خوځښت هیڅ بوی نه لګي . روښاني تحریک چې ډېره موده یې مغولي امپراتوري نا آرامه کړې وه ، پخپله د روښان د ډیرو لنډو ملګرو او مریدانو په اشعارو کې د دغه غورځنګ نژدې یادښت قدري هم ندې شوې .د افغا - نانو جنګي تشخص او انقلابي هلې ځلې یواځې د خوشال بابا په اشعارو کې موندل کیږي ، او له بنه بخته چې هغه پر علم او پوهه سربیره د دغه ډګر یو ننګیالي قوماندان هم و . که څه هم زموږ د ادب ارزښتناکې تذکرې "پټې خزانې" د غوري دوردنو میالیو شاعرانو څو قصدې ثبت کړې ،چې د نوعیت له

شپږم

مخې دپېرې خوځنده‌ا وحما سي وی ، خومتا ء سفا نــــه چې لـه دی قصیدوا ود"ا مرکرور" لـه‌ا تلی سنـــد ری پرتـه لـه نورخه‌لاس‌ته‌ندي را غلی خبره‌مودنـــز دی ما ضي دا دب‌کولـه ، زموړپه با سوا دوا وپه ا صطــلاح روشنفکروشا عرا نو هم دشلمی پیړی دنوی جا هلیــت پوره ا غیزه پریوتی وه ، څه خوشعوری وو ،ا وځینـو دوخت ددغی مسلط جریا ن په ا غیزی دی ډگرتـــــــه وردا نگلی وو ، که عشقی غزلی به‌وی ، نودا ســـــی به‌وی چې :

نیمه‌شپه‌ می را غلـله‌کوتې ته‌یوجلیه

ا وکه روشنفکری شعرونه به‌وو ، نو:

لـری لـری ، ملا لـری

دا یوجا رح جریا ن وء ا ولـه‌پوځی یرغلـه‌یی ږومبـــی زمونږپرا دب را منده‌کړی وه ، ددی ا دب دوه‌مهـــم سمبولـونه "ملا" ا و"رند" وو .ملادتپولنی مذهبـــــی نما ینده‌وه ، ا وپه همدی توربه غندل کیده ،خوپـــه مقا بل کی یی " رند" هغه‌بی دینه سمبول وء ،چــی گردسره ا خلاقی پولـی یی نړولـی وی ، ا وهره‌گنـا ه به‌یي دشرا بوغوندی رنگینه‌ا ومرغوبه گنلـــــه ،ا و دتپولنی حسا سي پدیدی ا ودملاتیر"څوا نا ن" بـــه یې ورگوما رل .

خولـه سپه بخته‌زمورا نقلابی ا سلامی پا څون لـه‌یـــوی مخې ددغه ږول جا هلـی ا فکا روا وخیا لاتوصفا یـــــی وکړه ، ا ونن چې مونږکوم کتا ب (همدا څریکـــــی، لـولو ، نوگورو ،چې شا عرددغه جریا ن دا فکا ر وا و جوړښتونویونما ینده شا عردی ، ا ودولسونولپـا ره

اووم

دورانسازی شاعری کوی .دا شاعرزمونږ محترم ورور" اسدالله حنیفی) دی چی متعهده شاعری کوی ، اوله خدای (ج) نه هم غواړی چی :

زه عاجز بم دا زمینت وسه می نشته
ته توفیق دابتلاء او امتحان را
چی کاته می دحرامو په لورنه وی
الهی (ج) داسی نظرداسی چشمان را

اوراځی چی " خبرېکی" دهمدی ځوان او متعهد شاعرله خولی وبېژنو .

دا هره خړیکه دملت دزړه له تله ځینی راولاړیږی نری جوړیږی دغمونوخړیکی دهربا درده باا حساسه بدن خړیکی وهی دا دیتیم دزړه دوینو اوتېو نوخړیکی ما مخکی عرض وکړ ، چی جها دی ادب درواییت کړی ماتی کړی ، اوداځکه چی دنن شاعرله هری پیښی سره تیغ په تیغه لاس او گریوان دی ، هغه ته دتشبیها تو ، کنایا تواویاپه تالازمه التزام (التزام مالا یلزم ، اعنات) کی دځان اچول ضرورت نه محسوسیږی ، نوځکه هم پتمن شاعرخپل غزل دتخیل له کړلیچو نوراوباسی او په ډانگ پییلی وایی :

که غواړی چی خپلواکی شی دالحا دکړی کړه ما نه همت درسره مل کړه حماسی درسره وړه مسلم ځوا کونه یوکړه چی طاغوت پرمخی پریوځی دنیا کړه ورته وراته زلزلی درسره دوره

(حنیفی) صاحب پرشاعری سربیره دیگر اتل هم دی ، هغه که پرالحاد دشعرتوره پړکولی ،

اتم

نوله سنګرونه يې هم پر الحادي تيارې خپلې رڼې مرمۍ ورولې دي . دا خومره د پاملرنې او حتی د حيرانتيا وړ ده، چې زموږ ځوان نسل د دې پر ځای چې سينما او نورو عياشي ځايونو ته لاړشي، جومات او مورچل ته ځي ، او "حنيفي" پکې لا بيا آن منبر ته خيژي ، او د انقلاب شپېلۍ پوکوي او دا خطاب په ژبه وايي :

چې ته د خپل منبره کوږ شوې د غليم په ليکه
د ملت سوال ته ځواب ورکړه فيصلې دې څه شوې؟

شاعري لېونۍ بوهه ده ، حنيفي صاحب هم ځوان دی هم لېونی او هم روښانفکره ، ځکه کله کله داسې خبرې کوي ، چې کول يې آسان کار نه وي . د حنيفي صاحب به ځينو نظمونو او د شعرونو سلګې هم شته ، خو ما يې په همدې غزلو اکتفا وکړه نورې يې نه سنايم ، ځکه بيا خدای (ج) مکړه ، ترڅو به شعرونه به نه وايي ، او په همدې به بسيا شي حنيفي ځوان دی ، د شاعرۍ ورځ يې پورته ده ، زه ورته د لوی خدای (ج) له درباره د قلمي جهاد د لانورو دي او نيزې غواړم ځکه په مونږ کې د ډېرو خلک ډېر دي خو د قلم لړ په خدای (ج) سپارلی

فضل ولي ناګار نېټه ۱۳۶۹/۶/۲۶ هـ ش

نهم

څریکی د جهادیو بنه اثر

دڅوا ن شا عرا وحسا س لیکوا ل محترم ا سدا لله (حنیفی) ا شرچه د (څریکی) په نا مه دی ما ولوست هسی خوما دده شعرونه ، ا دبی پا رچی ا ونورپه مختلفو جریدوا وا خبا رونوکی لوستی دی خوپه دا سی مجموعی توګه نه .

دده په ا شعا روکی دوطن په مینه برسیره یوه ا سلامی جذبه لیدل کیږی چه په رښتیا سره هرموء من وګړی ورکشوی . دده شعرونه ډیرروا ن ، پا خه ا وسلیس دی هغه چه وا یی (آ ثا رنا تدل علینا) دده شعرونه دده دپا ک ا حسا س ا یما نی جذبی ښه ترجما نی کولی شی ا ودشعری تلازما تو ، تشبها تو ا ستعا را توا ونوروپه لحا ظ هم دی دا دب په میدا ن کی بریا لی وتلی دی .

په رښتیا سره چه شعردزړه ا حسا س دی ،دفکر ترجما ن دی ا ودټولنی ا نځورا وتمثیلوونکی دا و س وخت جها دی شعرونه که ډیری پیړی وروسته څوک ولولی نوپه هغوکی دا فغا نا نوقهرما نی ا ومظلومیت ا ودروسا نوبربنډتیری ا ودهغوی دا ستعما ری پلانونو طرحه ښه پکی شکا ریږی . شعرهغه دی چه له زړه څخه را ولاړشی ا وپه زړونوبا ندی پریوزی ، شعر د ا نسا ن دا حسا س دسرچینی زیږنده دی ا ودټولنی دژوندمنعکس .

ما په یوه قطعه کی دشعردا سی پیژندنه کړی ده چه :

لسم

شعرنه دی دزړه وينه بل څه نه دی
دګہلی ولس مينه بل څه نه دی
را ټول شوی حقائق دی که يی ګوری
وهرچا ته خبر سپينه بل څه نه دی

که‌سړی له‌حق څخه سترګی پټی نکړی نو محترم حنيفي دا دب دجهاد په ډګرکی ډيرکار کړی دی ، دا سی شعرونه‌يی ويلی چه ديوه موء من افغان ځوبن پری کښينی اودده . شعرونه هرڅوک خوشوی همدا خبره ده چه شاعريوی کورنی ته منسوب نه‌وی بلکه هغه دټولی جامعی شروت اودارايی کښل کيږی .

دده دااثرچه (ځيږکی) نوميږی واقعاًچه اسم بامسمی دی په دی کی دافغانستان دمسلمان مظلوم ملت ځږيکی نغښتل شوی دی . دده شعرونه انسان دصحابه‌وء زمانی ته‌بيايی چه اسلامی شاعراً نولکه عبدالله بن ابی رواحه اوحسان بن ثابت دا سلامی ټولنی اودجهاد دپيا وړتيا دپاره څومره لوی خدمت کړی دی .

اودوی شعرونه دخدای رسول صلعم ستايلی اوهغوی ته‌يی دبرکت دعاء کړی ده .

دده ځږيکی هم ددردڅخه ډکی دی ، سوز اوګداز ويره ملګری دی ، اودا ځږيکی يوازی دافغانانو مظلوميت نه‌بيانوی بلکه‌حماسی رنګ هم لری چه دافغانانو ميړنتوب اوقهرمانی هم ستايی ددی ځږيکودمظلوميت اوحماسی رنګونوڅخه به‌دغه بيتونه راواخلو:

دهربا درده بااحساسه بدن ځږيکی وهی
دا ديتيم دزړه دوينوا وښپو نو ځږيکی

بوولسم

ځریکـــی دی ځړیکـــی هرسنګرا وهرډګرکی ځړیکـــی
دا دموځ منوپرګنوا وولسونـــو ځـــــړیکـــی
نوزه په دی لنډه کره کتنه اکتفاء کـوم
اوزلمی شاعرښاغلی حنیفی صاحب ته چـــه د ادب
دمیدان اسد (زمری) ګنړل کیږی نورهم توفیـــــق
اوبری ورته غواړم اوددی لویی اوښایسته شکلـــی
مجموعی تبریک ټولی افغانی ټولنی ته وایم.

والســـلام

عبدالباری (غیـــرت)

۱۳۶۹/۷/۵ هـ ش

bf.

دولسم

څریکی

تیرشوم تیرشوم زه‌له مالــه‌اولــه ســرنــه
(خو) ته‌تیرنه‌شوی له خپــل شخصــی نظرنــه

دورورحنیفی شعرونه په مجموع کی زمـــــوږ دمجا هدا وقهرما ن ولس دژوندا ومبا رزی ډیره‌رســا عکا سی ا وترجما نی کوی ددوی شعری سفر قدم په قدم دخپل ولس له‌حما سوا وحا دثو ، قهرما نیـــو ا وکړا وونوسره غبرگی غزونی کړی ا وپل په‌پـــل ورسره پدغه سفرکی‌مل را روا ن دی .

ددوی په شعرونوکی ویا ړنی هم شته ا وویرنـــی هم ـ که‌یوی خوا ته دخپل قهرما ن ولس پرقربا نیو ا ومبا رزو ویا ړی نوبل خوا یی په‌څریکوا وکړا وونو ژا ړی هم ـ که‌دخپل ولس سرښندنی ا ومقا ومت ستایی نودمشرا نودبی ا تفا قی ، خودخوا هی ا وبی تفا وتی غندنه‌هم کوی په جا رغندنه‌ا وپه‌وا زکومی غندنـه .

دورورحنیفی شعرونه دیوه فا تح ا وسرلـــوړی ولس دژوندا ومبا رزی دبیلابیلوا ړخونودا سی روا نـه ترجما نی کوی چی دملت فردفردپه‌هغوکی هم‌دخپـــل زړه "څریکی"ا وا رما نونه لیدلی شي ا وهم دخپلـــو قربا نیوا وسرښندنوتلپا تی تصوېرونه‌ا ویا دگا رونه .

موږورورحنیفی ته‌دلازیا ت توفیق دعا کوو چـی دخپل ولس دمبا رزی ا ومقا ومت په‌را بطه دخپلــو ا دبی تخلیقا تولمن نوره هم پرا خه ا ودخپـــل مجا هدولس حما سی ا وسرښندنی ا بدی ا وجا ودا نـــی

دیارلسم

وکرمحوی .

په قلم یی برکت شه ـ ملینه‌ا ودرنښت

(شهرت ننگیـــا ل)

۱۳۶۹/۷/۱۵ هـ ش

cb

ثوأرلسم

شعر او شاعر

شعردشا عردا حسا سا توا نځورا ودهغه دلوړوا وعا لی ا فکا روا رزښتنا که پا نګه ده .

لیکوا ل ، ا دیب ا وشا عردخپلی ټولنی دحا لاتو ځیرونکی ا وویښندوی دی . که سترګی وغړووګوروچی په هره زما نه کی دپیښوبهیر دوی خوندی کړی ا وپخپلوګوتویی تا ریخ ته شپا رلی .

شا عرا ولیکوا ل په ټولنه کی دژبی مثا ل لری لکه څنګه چی ژبه په ټول بدن کی دویلودنده لری شا عرا ن ا ولیکوا لان هم د خپلی ټولنی دهررا زحا لا توا وپیښوویونکی ، ښکا ره کوونکی ا وبیا نوونکی دی .

کله چی زموږ پرګرا ن هیوا دروسی ا ستعما ر تیری ا ویرغل وکړدا فغا نستا ن مسلما ن ملت دخپلوپا کووینوپه ا رزښت دوطن ا سلامی نوا میسو پت ا وخریت سا تنی ته چمتوشوا وپه دغه لاره کی یی خپل مرګ (شها دت) یوا لهی سوغا ت وګا ڼه ددی خا وری دا دیبا نوا ولیکوا لانو عا لی ا فکا ر دمجا هدوغا زیا نودمیړا نی لپا ره سرلیک شول دا سلامی ا نقلاب لیکوا لو دلودخپل دین ا وهیوا د دآ زا دی په لارکی دعقیدت شمعی ولګولی ا ودا سلامی جها دسوچه سنګرونه یی پری روښا نه کړل .

مجا هدولیکوا لانو دا سلام دسپیڅلی دین په لاره کی په یوه لاس توره ا وپه بل لاس قلم په ګوتو ونیوا وددی رنځیدلی ، ا وکړیدلی مسلما ن ولس

پنځلسم

ددردونوا وزخمونولپا رهٔئی دعلاج پټی جوړی کړی.
دا مینه دآزادی مینه‌ده دی وا یی.
چی وی مین هغه له یاره تیریدلی نه‌شـــــی
څوک چی آزادوی اسارت دچا منلی نه‌شـــــی

انسان چی کله خپل انسانی مقام وپیـــژنـــی
نوبیا دنفس او شیطان دښمنی ته راولاړیږی خپلـــه
آزادی ، دپاک خدای (ج) په‌بندگی کی گـــوری
دژوندترپایه دا سلام‌دسپیځلی دین قوانین خپلـــه
اساسی دنده بولی او هم دقرآنی احکامو په‌رڼا کـــی
ځانته لارلټوی ، دنفس له غوښتنوسره مبارزه‌کوی
ناروا کټی او قدرت ته‌رسیدل غندی چی حنیفی صیب
هم په دی برخه‌خپل احساس داسی بیانوی .
څوک پریشان او لیونی شول دقدرت پـــه مینـــه
څوک سپیلنی لوگی لوگی شول دیانـــت په مینـــه

ددیانت په مینه‌لوگی کیدل خوشهادت دی کومـــو
کسانوچی په دغه لارکی ځانونه‌شهیدان کړیـــدی
هغوی ابدی ژوندته رسیدلی دا ځکه چی لوی خدای
(ج) دغا زیانوپه بوله کبی شهیددغه مقام ته‌ټاکلی
وی نوزموږوروردا لارخوښوی او هم پرنوروشا عرانـــو
دا غږکوی .
وا وره شاعره مینه پریـــږده دخوبـــانو ســـره
دتکبیرچغی بدرگه کـــړه دغازیانـــو ســـره

داسمه ده‌چی دغازیانوسره دتکبیرپورته‌کول عملی
زیارغوا ړی الحمد لله زموږمجاهدملت دځان پـــه

شپاړسم

قیمت دا عملی گام پورته کړدتکبیر چیغه یـــــی
دعمل په ډگرد دنیا غوړونوته ورسولـــه او
ددښمن مقابلی ته په کلبکه ودریدا ولاترا وســــه
پری دا غږکوی .

که می بلی په تیـــــر بانـــدی لمبـــی شـــی
یا می غوښی په چـړو کتـــری شـــــی
مسلمان یم چاته ټیـــټ کتلـــی نـــه شــــم
که می بندپــه بنـد بـدن اری اری شـــــی

له پورته نظم څخه دمسلمان کلک دریځ ددښمـــن
په وړاندی ډیرښه بریښی اوهرمسلمان ته پکښـــی
داښوونه ده چی دا سلام په سپیځلی دین مـــــرگ
شها دت او ژوندجها ددی .
دا دی دحنیفی صیب ددردونو (څیړیکی) نورتا سوتـه
سپا رم دا تاسی دا هم دحنیفی صیب څړیکی .
والســــلام

ce

اوولسم

بنام جهاندار جان آفرین
حکیم وسخن برزبان آفرین

اثرمنظوم برادر ارجمندمحترم (حنیفی) صاحب قرار است طبع گردیده وبمعرض استفاده علاقمندان شعروادب اسلامی قرار گیرد.

مشخصات اثرمزبور عبارت از این است که مدون آن ازخیل طلبای دینی کشور است ودست پرورده علمای مجاهد وروحانیون مبارز کشور ما افغانستان اسلامی بحساب می آید.

ظهور چنین اشخاص با یک چنین استعداد ازآنجهت حائز اهمیت بسزایی است که ملت متدین ومبارز افغانستان به علمای مذهبی وطلبای دینی کشور اخلاص واحترام عمیق دارد - وگفتار ونوشتار شانرا عاری از انحراف تلقی میکندودر ابعاد مختلف زندگی آنها را مورد اقتدای خویش قرار داده است وبناء سی ازاین حقیقت اثر حنیفی صاحب نیزمورد علاقه، دلچسپی واستفادهٔ هموطنان مؤمن ما قرارخواهد گرفت هرچند اکثریت ملت مجاهد ومؤمن ما ازنعمت سواد محروم اند وبه همین علت نویسندگان، شعرا، وبخصوص نویسندگان وشعرای مسلمان بین ملت مسلمان مادر اقلیت قرار دارند، ولی نسبت به سایر طبقات ملت باایمان ما طبقهٔ علما وطلبای دینی ومذهبی کشور ماهر چه بشتر به قلت شعرا ونویسندگان مواجه اند وبه وجود آنها

CF

اتلسم

شدیدا " نیاز دارد بنابراین عرض وجود کردن هرشاعر ونویسنده ای چون (حنیفی) صاحب درمیان این طبقه گامی است درجهت رفع این نیاز . مندی .

تدوین اثرمنظوم برادر (حنیفی) صاحب بنوبه خویش منعکس کنندهٔ قهرمانیها ، حماسه آفرینیها وفداکاریهای ملت موٴمن وشهادت شعار افغانستان وبازگوکنندهٔ وحشت درنده گری تبهکاریها ، بیدادگری وجنایتگری امپراطوری روبه انقراض روس وعمال ملحد داخلی آن علیه ملت شهید پرور وطاغوت براندازماخواهدبود . بنده ضمن فراخواندن هموطنان موٴمن ومجاهد خویش به مطالعهٔ این اثر سودمند از آفریدگار توانا موفقیت مزیدی رابرای شاعرجوان کشور محترم حنیفی صاحب در ایفای مسئولیت های اسلامی شان استدعا دارم .

ربیع الله مجددی (۲۹ـ عقرب ـ سال ۱۳۶۹

da

نولسم

درنولوستونکوا سلام علیکم :

کلەچەومی غوښتل"دځړیکې" دشعرونودمجموعی پـــه ارتباط یوڅەولیکم نوددی لپارەچەپه هرکــتاب پەتیره بیا دشعرونوپه کتابونو او بیا پەهغی کـی په "ځړیکی" یوڅەلیکل څواسانه خبرەنده‌خدای"ج " حاضردی چه په دووکی حیران شوم یوخوا تەځمــــا داآرزوچه وه بایدیوڅه ولیکما وبل خوادا چەکەهرڅوــ مره اوهرڅەولیکم دابه لدی نەډیرټیټاونیمګړی وی چه مابه لکەڅنګه چه ښائی د"ځړیکی". شعرونو پەاړوندکما حقه توصیفاوتائیدکړی وی .

خو دومره ویلای شم چه وروسته لدی چـــی د "ځړیکی" شعرونه می ولوستل دی نتیجی تەورسیدم واقعا" چەځړیکی دحنیفی صاحب دنازکاحســـاس زیږندەاودخوږمن زړګی آواز دی چه دشعرپـــــه بیلابیلو ښارونوا وکوڅوګرځیدلی پەهرباغ اوګلزارـ ئی نغمه سرائی کړی اوله هری څانګی اوښاخ نــه ئی ګلونه راټول کړیدی چه دشعردیوه ځانګــړی لاری پیرونەبلکه دشعرونوپەګنو لارو اوګودرونــو بلددی اوهم ګران لوستونکی بەهغه وخــــت د "ځړیکی" دشعرونو سرەښەاشناشی چه یوځل نەبلکــه څوڅوواره د(ځړیکي) دشعرونوپەلارو اوکوڅـــو ښارونوا وګودرونوکی وګرځی راوګرځی اویوڅــــه داحساس لەمخی نەئی په غوراودقت سرەمطالعـــه کړی برسیره پدی چەزەئی وواییم پخپله لوستونکـی بەدی حدته ورسیږی چه د(ځړیکی) دهرشعربـنــد اوبیت دباطل اوباطل پرستانو پەوړاندی دحق اوحقیقت ځړیکه دتوروتیاروا وترګمو جهل اونا ـ

شلم

پوهی پهوړا ندی دروڼ سبا وون او لمرځریکه او دهر با احساسه انسان ضمیرته دتحریک او حرکت ځریکه ده.

زه دگران حنیفی صاحب لپاره برسیره پردی چه دلوی او توانا خدای (ج) څخه ئی دصحت او خوشحالی غوښتونکی یم دمقدس جهاد دفرهنگی مبارزی پدی حساس سنگرکی لابریالیتوب غواړم

والسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

(محمداسحق (نظامی)

۱۳۶۹/۶/۱۸ هـ ش

عج

یوویشتم

څړیکې

څړیکې د انقلاب دڅوان او حساس شاعر اسد الله (حنیفي) دشعرونومجموعه ده‌چې زمونږدروان جهاد او مقاومت او زمونږدا تل ، میړني اوخدای پرسته ولس دقربانیو ، سربښندنوا وقهرمانیوعکاسي پکښې شوې ده دادهغو دردونوا وپرهرونوڅړیکې دي چې دروسانودوحشیانه یرغل اوبې شرمانه‌تیري په نتیجه‌کې زمونږدولس‌له زړونوڅخه‌پورته شوي او بیا یې دوینوپه توده غیږکې دتوپانونوا وقیامتونو نویوه لویه دنیا کې جوړه‌کړې ده‌دا څړیکې دیو دردمندا وزوریدلی انسان دزړه‌څړیکې دي دژوند یوا وتازه زخمونوڅړیکې اوددین اووطن په مینه دسوزیدلوتننوا وانداموڅړیکې .....

دښاغلي (حنیفي) دشعراوشاعري بسم الله وده اوغزونې دجهادا ومقاومت په‌غیږکې شوې څکه خوشاعري یې مقصدي اوهدفمنده شاعري ده او د ژوردرد ، ژوندي احساس او سپیڅلي هدف څخه یې سرچینه نیولې ده نوپه زغرده‌ویلای شوچې ښاغلی حنیفي یودردمندا وخوږمن شاعردی اودجهاددڅوانو شاعرانوپه لیکه‌کې ددریدوحق لري .

ښاغلي حنیفي اوتانده شاعري چې دودي او وړتیا په حال کې ده سږي په‌پوره‌یقین

دوه ویشتنم

سره دا ویلای شي چې که‌هغه همدا سي خپل ادبي زیا را وهڅوته‌ا دا مه ورکړي نودبرتګ دروا زی ورته خلاصي دي او ددیرژربه دپخوشا عرا نوکتا رته‌ورسیږي او پښتوا دب ته‌به دقدرووړخدمتونه‌وکړا ی شي .

زه‌دحنیفي صا حب دا دبي شخصیت په‌هکله دیرڅه ګکه‌نه‌لیکم چې خدا ی (ج) مکره په‌خپل قضا وت اوسنجا وت‌کي را نه‌تیري اوتیروتنه‌ونه‌شي خودهغه دفرهنګي کوښښونو اوقلمي جها دا ومبا رزی ستا ینه یولازم اومنا سب‌کا رګنم اوسترګي پټول به تری پوره‌نا انصا في اوظلم‌وی .

هوکي ، هره‌هغه هڅه‌چې دجها دا ومقا ومت دبریا لیتوب په‌لاره کی کیږي په‌خپل ځا ی ښه‌ا ودقدر وړکا ردی اوپه همدی سلسله‌کي دښا غلي حنیفي ددغي شعري مجموعي چا پیدل هم ددیرا رزښت درلودونکي دي .

زه‌په‌دا سي حا ل کي چي محترم حنیفي ته ددغه قیمتي اثردچا پیدومبا رکي وا یم نوموړي ته‌د لازیا ت‌ا دبي پرمختګ اورشددعا کوم اودرا نه لوستونکي یي دشعري مجموعي لوستلوته‌را بولم .

قلم یي کښا ندا وزړه‌یي تپاندغواړم

په دیره‌مینه

اما ن الله نصرت

۱۳۶۹/۶/۱۱ ه ش

de

دشاعر پیژند لیک

ددی کتاب مصنف ښاغلی طالب العلما سدالله (حنیفي) صاحب چه دامان الله زوی دعبدالله خان لمسی په کال ۱۳۳۶ ه ش کښې دلوګر دولایت دبرکی برک دولسوالی دشیخیلو دپوټلن کلی پهیوه غریبه ، ولې دیندار او موء منهکورنی کښې سترګی دنیا ته پرانستلی .

حنیفي صاحب پهخته ستانیزی ، پهستانیزیو کښې پتک خیل او په پتک خیلوکښې بیا دشیخیلو په قبیلهپوری تړلی دی .

سرهله دی چه دحنیفي صاحب پلار دا قتصادله پلوهلهستونزوا وکړا وسرهمخا مخ وو ، خوله دی کبله چه دی یوصوفی او دیندار سړی وو اوله علما ئو سرهیی خاصه علاقهلرله غوښتل یی چه دغه دزړه ټوټه مشرزوی ددینی او مذهبی علمزدهکړی ته وقف کړی ، چهپه همدی آرزویی لومړی پهحنیفي صاحب باندی په خپل کورا ودکلی پهجومات کښې دعلم زدهکړهپیل کړه .

حنیفي صاحب لهوړوکوالی څخه خورا ذهین او پوهووپه دیرګړندیتوب سرهیی واړه کتابونه پهخپل کورکښې لهخپل مهربان پلار او دجمات له ملاصاحب څخه ولوستل .

څرنګه چه دحنیفي صاحب پلار ددهزکاوت او زمویه نویی حنیفي صاحب پهکال ۱۳۵۰ ه ش کښې لهخپل کورا وکلی څخه مسافرکړا وددینی علم دزدهکړی دپاره یی څرخ تهولیږه حنیفي صاحب دفقهی او

خلور ويشتم

مرڅوځني كتابونه په كوركښي لوستي وو په مدرسه كښي يي دصرفو په (مراح الارواح) كتاب شروع وكړه چه بيا يي دوخت په تيريدوسره دهيوا دبيلابيلو سيموته دعلم په زده كړه پسي سفرونه وكړل اوپه خوكلونوكښي يي زيا تره كتابونه ولوستل .

حنيفي صاحب دښوا خلاقو ښتن وو له هرچا سره په تيره بيا له خپلو همزولوطا لبا نو سره به يي ښه اخلاق او ديا دوني وړ سلوك سا تل .

ده له پښتو شعرا وشا عري سره زيا ته مينه لرله كله به يي چه دچاكوم شعر تر ستر گو شو په ډير غور به يي هغه شعر لوست او بيا به يي دهغه په معني كښي دذهن مرغه په ډيره چټكتيا وزغلاوه ترڅو چه به يي دشعرلب ا ولبا ب ا وحبوبا ت را ټول كړل بيا به يي تر ډيري مودي پوري دشعر په مطلب كښي دخپل فكر آسونه زغلول ، همدا ووچه دده دميني او علاقي سره سم دتحصيل په هما غه لاله ها نده ا وستوما نه دوره كښي دده هم په كال ١٣٥٢ ه ش كښي دشعرا لها م وشو ده به لومړي نعتيه كلامونه ، څلوريزي پښتولنډ ي اوغزلونه جوړول .

دحنيفي صا حب لومړي شعردا سي دي :

ما چه وليده زيبا دياربشر : زړه يي يووړ لوله ما په يونظر
درنگ سا عت په زمكه پريوتم بى هوښ
نه مي دم نه مي قدم زخمي ځيگر

دحنيفي صا حب ځني شعرونه دمنا جا ت شكل لري دي خپل ځا ن حقير بولي ، دقيا مت دلويي ا ووهم نا كي ورځي له دهشت نه ويريږي ، دخپلو گنا هونو دبښني سوا ل لوي ښتن (ج) ته دا سي كوي :

پنځه ویشتم

الهي ته هغه ورځ کړی را آسانه
چه له هرسړی ویزا روی موږا وپلاره
خدا یه زما له ګنا هونودرګذر شی
دیریم دیریم شرمنده ستا ددربا ره

حنیفي صا حب دنوروشا عرانو په ځیردپسرلی له تا زه ا ونمنا کی هوا سره دیره مینه لری دپسرلی نري نري با را ن ، ددنګوغرونوپه پلنوا وشګلنو لمنوکښی بخملی کیا ګا نی دده په شا عرا نه ما غزو دومره ا غیزه کوی چه دپسرلی دزړه را ښکونکی هوا ا ودکا ئنا تودخا لق (ج) دقدرتونوستا ینه په دی شعرکښی دا سی کوی :

پسرلی دی بیا تا زه مسته هو
هری خوا ته دبلبلو شور ده
دشبنم په ځیرنری با را ن وریږی
وچو کا نو ځنی پورته شنه ګیاده

حنیفي صا حب هم دنورومینا نو په ځیردخپل یا رله جورا وجفا ځخه دیرپه تنګ را غلی دی بخت هم ملګرتیا نه ورسره کوی ، دفا نی نړی له ریواجو نودومره موږشویدی چه نورنونه غوا ړی چه له بی وفا دنیا ا ودنیا وا لوسره سا زش وکړی ا وخپل زړه درددا سی ځرګندوی :

بخت چه ونکړی یا ری دنیا به ځه کړم
چه ونکړی ا شنا یی آشنا به ځه کړم
حنیفي چه حقیقت ته نظروکړم
وا یم پریږده دا فانی فنا به ځه کړم

حسیفي صا حب چه له هری خوا ما یوس شویدی هرچا ده ته شا کړیده نوله نا کا مه دغرونولوری ته ځی ا ودا شعروا یی :

شیرونیتم

خپل اوبل دوست او اشنا نشوراپاته
داشنا دلاسه عرض وکړمه چه پاته
حنیفي فنا دغرو په لوری ورمه
تول وطن خوشي کو مه ځپاشناته
هجر (بیلتون) یوداسي ما یوس کوونکي شي دي چه
هرڅوک تري نا لیږي . هجریوداسي تباه کوونکي
دښمن دي چه په هیڅ یي پیرزونه ده چه هوسا ژوند
وکړي یار له یاره وروړله وروره ، زوی له پلاره
مورله زویه اودوست له دوسته جلاکوي نو حنیفي
صاحب هم له دي دردوونکي مرض ځنې داسي نا لیښت کوي :

رسوا نه ومه رسوا کړم بیلتانه
گدا نه ومه گدا کړم بیلتانه
نه په سرا ومال خبریم نه پوهیږم
لیوني سرپه سحرا کړم بیلتانه

دحنیفي صاحب دا شعارولله دي کتاب څخه پرته
چه لولي یي نور شعرونه هم شته که خدای کړه چې
هغه په یوه قلمي (ناچاپ شوي) نسخه کښې
لیکلي دي چه دوخت سره سم به هغه هم چاپ شي .
دهغه کتاب دسریزي له پاره یي داسي شعرونه
لیکلي دي :

دا کتاب دغم دفتردی که یي گوري
که دي مینه وي په زړه کښې ځان خبر کړه
لار ښوونکي برابر دی که یي گوري

دحنیفي صاحب شعرونه تول دستاینې وړدي ځکه
دده جزبه ډیره ژوندي ، حوصله ئې ډیره زیاته او
علمي قوه یي هم ددیروشاعرانو په پرتله لوړه ده
دده دشعري قوې ترجماني دده دا شعرکوي .

هرطرف ته‌سترکی اړوم ړندیږم
ناکړ دومی دزړه غوځ کړل تنابونه
اوره‌کړی یم دوخت دفتنو ژرندی
نابېره می نسکورشول دکجامونه

حنیفی صاحب په کال ۱۳۵۵ هـ ش کښی دعسکری خدمت دپاره جلب شوځرنګه چه دی لاله تحصیل څخه نه‌ووفارغ شوی نویی وغوښتل چه ددینی علم امتحان ورکړی ترڅودا ساسی قانون سره سمـله عکسری خدمت څخه وبښل شی .

همدا ووچه دخپل ذکاوت په رڼا کښی دهمغه کال [دعقرب] دمیاشتی په ۱۵ نیټه‌دلوګردولایت دمرافعی په ریاست کښی دمدرسی امتحان په‌ورکولوپه‌لوړو لمبروبریالی شوا وهمدی کال دلیندی دمیاشتی په لومړی نیټه‌یی دمکلفیت له لوی مدیریت څخه دعسکری دمعافی سندترلاسه کړا وله‌عسکری خدمت څخه معاف شو له هغه رابیرته‌یی د ۱۳۵۶ ـ هـ ش کال دچنګاښ په میاشت کښی دا قتصادی ستونزو له‌کبله ایران ته سفروکړ هلته‌لادی په‌کاربوخت ووچه د ۱۳۵۷ هـ ش کال دغوایی دمیاشتی په ۷نیټه په‌افغانستان کښی کمونستی کودتا وشوه‌نویی په ایران کښی ژوندتیرول ناروا وباله ، دجهادی فریضی داداکولوپه غرض د ۱۳۵۸/۴/۴ هـ ش داسلام کلاله لاری هیوادته راستون شو ددی کال دمرغومی دمیاشتی په ۲۰ نیټه یی وادەوکړ .

د ۱۳۵۸ کال دشوردمیاشتی له ۱۹ نیټی څخه‌یی چه دلوګر دموء منومسلمانانودیومخیز پاځون ورځ وه په‌وسلوال جهادلاس پوری کړاوترکال

اته ویشتم

۱۳۶۱ هـ ش پورې یې دبرکي برک دولسوالۍ دآبجوش دمرکزله مجاهدینو سره اوږه‌په اوږه په ډیره میړانه‌نه‌ستړې کیدونکی جهاد وکړچې په‌یولړسترو جگړوکې سهیم اودیووا تل مجاهدپه صفت ئې جهاد وکړ.

په دې ترڅ کښې خوځله پیښورته دجهادي اکمالاتوپه غرض ولاړ چه هلته یې دحرکت انقلاب اسلامي له لوړرتبه مقاماتوسره مشوري اومفاهمې وکړې.

په دې لړکښې څوځله دفرانسوي ډاکټرانوله ټیمونوسره له پیښورنه‌دآبچوش ترمرکزپورې لاړچه دآبجوش په‌مرکزکښې یې دډاکټري کلینک پرانسته وکړه ترڅو دمجاهدینو له‌صحي چاروسره‌څه‌ناڅه مرسته وشي.

کله چه دې په کال ۱۳۶۱ کښې پیښورته ولاړ نودحرکت انقلاب اسلامي افغانستان دلوړرتبه مقاماتوله خوا دجمعیت طلبه حرکت په‌مرکزي دفترکښې دامنیې دمرستیال په صفت وټاکل شوچه بیاپه کال ۱۳۶۲ هـ ش کښې دجمعیت طلبه دامنیې کمیټې دآمرپه صفت مقررشو.

د ۱۳۶۳ کال دوړی دمیاشتی په ۲۰ نیټه‌یې کورنۍ هم دملحدرژیم دمظالمولدامله پاکستان ته‌مهاجره شوه.

څرنگه‌چه‌حنیفي صاحب په فرهنگی اموراتو کښې یوڅه‌مهارت درلودنوپه‌کال ۱۳۶۶ هـ ش کښې دجمعیت طلبه حرکت دصدر محترم مولوی عماالدین په لاس لیک دخپلې قبلي دندې ترڅنگ دجمعیت طلبه

نه ویننته

حرکت دفرهنگی کمیتی دمشا ورتوب دنده هم‌ورکړای شوه چه دخپل توان اوپوهی په‌درلودلوسره‌یی دحقیقت الاسلام جریدی په لاښا یست اوښه والی کی دیادونی وړکامونه پورته‌کړل چه لاترا وسه پوری په خپلودوا ړودندو کښی په ډیره پیاوړتیا هلی ځلی کوی .

ځرنگه چه مخکښی هم یادونه‌وشوه چه حنیفی صاحب دوبیښ ضمیر ښښن دی اودوخت دفتتہ‌گرودفتنوپسه وړاندی یی ډیرزر دصبرا وحوصلی جام ډکیږی نوپه همدی ارتباط په تیروخوکلونوکښی داعصابو ناروغتیا له‌کبله له ستروستړوبی ماریوسره مخامخ شوخودډیرو داکتری معاینا تو اودواگانوله خوړلووروسته‌اوس دصحت له پلوه‌خوراښه‌شویدی

حنیفی صاحب دښوا خلاقولرونکی ځوان دی له هرچاسره که‌پیژنی یی اوکنه په مینوا واخلاص خبری کوی .

تل مدام له ده سره دټولنی غم وی دده‌ټول سوچونه‌اجتماعی دی نوله همدی کبله‌یی له‌شعرونو ځخه‌هم اجتماعی خوندونه اخیستل کیږی ، په‌تیره بیادی غواړی چه ددینی مدرسو دطلبه کرامو ترمینځ نظم اوپیوستون رامینځته‌شی ترڅودطلبه وودیووالی له برکته‌دهیوا دټولی پرگنی سره یو موټی اوخپل آخرنی ارمان ته‌په ډیره چټکتیا ورسیږی .

داوودښاغلی طالب العلم اسدالله‌حنیفی صاحب په هکله یوڅه معلومات چه‌په لنډ ډول ما دخپلو خیړنوا وچشم دیدپه‌اساس دمحترمو

دیرشم

لوسونکوپەوڕاندی ذکرکڕل .

والسلام

ستا سوورورطالب العلم‌د : رمحمد (گوهری)

Fa

لړ

گڼه	سرلیک	مخ
۱	مناجات	۱
۲	مناجات	۳
۳	ستا په راتلو نبی(ص)	۵
٤	څرېکې	٦
۵	سره یو موټی یو قوت شی	۸
٦	راځی چی سره یو شو	۱۰
۷	راته را	۱۱
۸	راپاڅه هله زر شه	۱۳
۹	له نظره څنی	۱۵
۱۰	وڅکه چی خمار شی	۱٦
۱۱	رالټوم	۱۷
۱۲	غاړه غړی راشه	۱۹
۱۳	لوبی کوی	۲۱
۱٤	متانت	۲۲
۱۵	حنیفی ته به د هیلو جام چپه کړی	۲٤
۱٦	ورانه شوه دنیا د مینی	۲٦
۱۷	له اروپا څنی	۲۷
۱۸	برزخی شیبی	۲۸
۱۹	څوک یو شانی څوک بل شان	۳۰
۲۰	د کشمیر دغرونو بازه	۳۱

Fb

گڼه	سرلیک	مخ
۲۱	مجاهد ته	۳۳
۲۲	ماته خبری د پرون مه کوه	۳۵
۲۳	یم خوځیدلی	۳۶
۲۴	پاڅون	۳۷
۲۵	د تکبیر جگی ناری شوی	۳۹
۲۶	دښمن وټکوه	٤٠
۲۷	د زړه خواله	٤۱
۲۸	کاروبار د عشق	٤۲
۲۹	جهادونه کوم	٤۳
۳٠	چی تسکین می وشی	٤٤
۳۱	گړیدلی نه شم	٤٦
۳۲	د شهید په یاد	٤۸
۳۳	دغه سترګی عاشقان به صبا نه وی	٥٠
۳٤	اور یمه لمبه یم	٥۱
۳٥	ډیر ډیر	٥٤
۳٦	لویه خدایه!	٥٥
۳۷	که زه شهید شوم موری	٥٦
۳۸	ورټکور یی کړو ټپونه	٥۸
۳۹	هوډ	٦٠
٤٠	حسرتونه	٦۲

Fc

مخ	سرليک	گڼه
٦٤	د میړنو وطنه	٤١
٦٥	ای د سنگر زلمیه!	٤٢
٦٧	شپیلی د انقلاب کی	٤٣
٦٩	څو به زما قلم گیلی لیکی	٤٤
٧١	غلام د ستا	٤٥
٧٢	زما گرانه هیواده!	٤٦
٧٤	یتیم ته	٤٧
٧٦	شکوه او حکایت	٤٨
٧٩	دغسی ښه یم	٤٩
٨٠	د مجاهد غږ	٥٠
٨٢	آزادی ته	٥١
٨٥	د هری ټولو بانډو کی	٥٢
٨٧	سرښکته سرنگون دی	٥٣
٨٩	رانه لاړ	٥٤
٩٠	هغه وعدی دی څه شوی؟	٥٥
٩١	څه د ظلم پیلامه وه	٥٦
٩٢	راباندی وژړل	٥٧
٩٣	والله چی مینی دی همت د ابدالی راکړی	٥٨
٩٥	مه راځه اختره	٥٩
٩٧	مسلمانه ولی؟	٦٠

F d

گڼه	سرلیک	مخ
٦١	دی موجونو سره څه وکړو	٩٩
٦٢	اسلامي ترانه	١٠١
٦٣	هلته دلته	١٠٣
٦٤	نه مې زړه ځني صبرېږي	١٠٥
٦٥	څو به ګونګي یم؟!	١٠٦
٦٦	د وینې نذرانه	١٠٨
٦٧	مناجات	١١٠
٦٨	زړه ته	١١١
٦٩	د یتیم آه نه به جوړ درته طوفان شي	١١٢
٧٠	بهاره غوړ شه	١١٣
٧١	افغانستان جوړوو	١١٥
٧٢	د پسرلي موسمه!	١١٦
٧٣	ګما وطنه	١١٨
٧٤	د مجاهد آواز	١١٩
٧٥	د مجاهد د زړه ځړیکه	١٢٠
٧٦	له اسلامه قربانیږم	١٢١
٧٧	نوی وړمې ته ګوره	١٢٢
٧٨	درومې دورمې وړاندې درومې	١٢٤
٧٩	حماسي درسره وره	١٢٦
٨٠	دا اسلامي یون دی	١٢٨

گڼه	سرلیک	مخ
۸۱	پوښتنه وکوه	۱۳۰
۸۲	هغه څه ممکن شول چې به تولو ناممکن بلل	۱۳۱
۸۳	ای وطنه!	۱۳۲
۸٤	د اسلام د کور پاسداره سترګی مه شی	۱۳٤
۸۵	سترګی او ستومانه شوم	۱۳۵
۸٦	غرونه سحرا لټوم	۱۳٦
۸۷	تر کومه	۱۳۸
۸۸	په الحاد حملی دی نوی نوی	۱٤۰
۹۸	زمونږ جهاد دی	۱٤۲
۹۰	د مجاهد آواز	۱٤٤
۹۱	شاعر ته	۱٤۵
۹۲	ترانه	۱٤۷
۹۳	دمجاهد په یاد	۱۵۰
۹٤	بهاره راشه!	۱۵۱
۹۵	شهیدان می ژړوی	۱۵۳
۹٦	چی غزل ولیکم	۱۵۵
۹۷	بیدار شه!	۱۵۷
۹۸	خوځیدل دی	۱۵۹
۹۸	دی پښتون ته پښتون مه وایه	۱٦۱
۱۰۰	د میړنو وطنه	۱٦۳

FF

گڼه	سرلیک	مخ
۱۰۱	زه ټولی دنیا نه سترې شوی یم	۱۶۵
۱۰۲	توری شپې به سبا کیږی	۱۶۶
۱۰۳	شهیدان به کله هیر کړم	۱۶۹
۱۰٤	دا جزبې مو ولی مړې شوی	۱۷۰
۱۰۵	چې غزل ولیکم	۱۷۱
۱۰٦	د جنت په مینه	۱۷۲
۱۰۷	تر کومه	۱۷٤
۱۰۸	سترې مه شې	۱۷٦
۱۰۹	دغم دپاسه غم	۱۷۸
۱۱۰	جورج بشه کور دې وران شه	۱۸۰
۱۱۱	څما د زړه ټکوره	۱۸۱
۱۱۲	لندن ته روانیږم	۱۸۲
۱۱۳	دا وږمې د آزادۍ دی	۱۸۳
۱۱٤	مؤمن زلمیه!	۱۸٤
۱۱۵	شهیدان لټوه	۱۸٦
۱۱٦	خپلواکۍ په طرف	۱۸۸
۱۱۷	ای مؤمنو افغانانو	۱۸۹
۱۱۸	راپاڅه هله زر شه	۱۹۱
۱۱۹	د مجاهد غږ	۱۹۲
۱۲۰	تکلونه	۱۹۳
۱۲۱	حماسی جوړوه	۱۹۵

ععع

مناجات

ځما خدا یه ! ستا ولورته مې فنا ده
ستا په نوم مې پیلامه او ابتدا ده

هرعمل مې ستا دپاره کړی خاونده
ځما نا توان له تا دنیکو تمنا ده

ته را وو ببښې توفیق دښو سبحانه
ګنې ځما فقیر دژوند نظام تباه ده

ویرعاجز یم هرعمل مې دی نیمګړی
دا ستا فضل مې دهر کمبود دوا ده

دوا ړه لاس مې په زارو درته نیولی
لویه خدایه ! ستا رحمت بې انتها ده

بندګی سره مې مینه په نصیب کړی
دا مې سوال دا مې امید دا مې دعا ده

ته رحیم ئی ته‌کریم ئی ته رحمٰن ئی
ستا رحمت ډیر له دنیا او مافی‌هاده

هغه څه ته‌راته راکړی ما عاجز ته
چی پوښلی په کی ربه ستا رضاده

په ما خوار "حنیفی" رحم‌وکړی خدایه!
نیکی کمه‌په څو چنده می گناده

دهجرت جونگړه ۱۳۶۹/۴/۱۳ هـ ، ش

مناجات

لويه خدايه ! دزړه صبر اطمينان را
خوی خصلت دښه سپيڅلی مسلمان را

دشيطان له دسيسو نه مامون نه يم
الهی له لغزيدلو نه امان را

زه عاجزيم دا زميښت وسه می نشته
ته توفيق دابتلا او امتحان را

ته رحيم ئی ته رحمٰن ئی ته کريم ئی
ته په خپل رحم دنيکو وس او توان را

چه قدم قدم سی تله په نيغه لار وی
ته عمل په سپينه لاره دقرآن را

چی هميش می ژبه ښوری ستا په يادکی
داسی زړه داسی حلقوم داسی لسان را

چی له لاسه می موء من په ازار نشی
داسی کړه داسی عمل پدی جهان را

چی ټولی دصالحانو کی حساب شم
داسی عمر داسی ژوند داسی ايمان را
چی کاته می دحرامو په لورنوی
الهی داسی نظر داسی چشمان را

دگناه په رنځ بیمار یم لویه خدایه!
لدی رنځه دسالم صحت درمان را

پاکه ربه ستا دفضل امید وار یم
دخپل رحم په درشل کی خپل احسان را

رحم‌فضل په ما خوار (حنیفی) وکړی
شناعت د دوا ړو کونو دجانان را

۱۳۶۹/۳/۱۴ هـ ش جهادکلی

ستا په راتللو نبي (ص)

ما تې شوی تيا رې دجها لت ستا په راتلو نبي (ص)
رنگې شوی ما نې دضلالت ستا په راتلو نبي (ص)
ټول بتا ن نسکور شول مشرکينو ملاوی ما تې شوی
بلې شوی ډيوی دعدا لت ستا په راتلو نبي (ص)

ستا په پيدا ينبت دا نسا نيت زمزمی پيل شوی
لوړ په لوړ نړی کې سعا دت زمزمی پيل شوی
ته وی ستا جما ل وچې جها ن ئې کړ رڼا
سترتحول را غی ا حديت زمزمی پيل شوی

زړونه په تکل شول چې دحق پلو ته وخوځی
رنگه کړی دنيا دبربريت جونگړی وسوځی
پر يړدی دبا طل پلودحق حرم ته وه دا ننگی
ورا نې بتخا نې کړی دو حشت مخکښا ن و ځپی

نوردوحدا نيت دی په را تلو سره روښا نه شو
شمعې دحق بلې شوی با طل ترينه ستوما نه شو
لوړی شوی شغلې دا حديت دکهکشا ن پلور
حق په زمزموشورسيده ترخرا سا نه شو

خلاصې دروا زی ستا به را تلو درحمتونو شوی
محوه هرپلونه ترگمې دوحشتونو شوی
کوردعبدا لله نه دی چې نورپه بليدو شولو
وا ئې (حنيفې) گرا نه سيقل دتوروزړونو شوی

۱۳۶۹/۲/۲ با غوا نا ن پېښور

څړیکې

دا دی څما له زخمي زړه نه دزخمونوڅړیکې
دا له کرم کړم بدن نه‌ددردونو څړیکې

دا له دردونوکړاوونونه‌نشأت کانــدی
هرمحا هدته دشهیددپرها رونو څړیکې

دا هره څړیکه دملت دزړه له تله څنی
را ولاړیږی تری جوړیږی دغمونو څړیکې

څړیکې دی څړیکی هرسنګرا وهردګرکی څړیکې
دا دمو‌ٔ منوپرګنوا وولسونو څړیکې

دهربا درده با احساسه بدن څړیکې وهی
دا ده یتیم دزړه دوینو او ټپونو څړیکې

دا دملت دشا زلمیو له نیمګړو هیلو
په لمبو سوی او میدونو حسرتونو څړیکې

هره خوا څړیکی ورته ګوره دبیوزله ولس
دا دپیغلو ټوپه اورسوی او میدونوڅړیکې

هریوکلام دی څړیکه څړیکه دشاعر په ژبه
خیژی آسمان ته دخوږ زړه دغزلونوڅریکې

که هرڅوو ایمه دردونه دقلم په ژبه
خلاصی به نه کړمه عالمه! دو ختونوڅړیکې

زه (حنیفی) به‌گوتی ماتی کړم چی ونه‌لیکی
دهربیوزله دبدن دا ندامونوڅړیکې

۱۲/۶/۱۳۶۹ هـ ش
دجمعیت طلبه دفتر

سره یو موټی یو قوت شی

ورونو اراټول په صداقت شی چی تسکین می وشی
سره یو موټی یو قوت شی چی تسکین می وشی

را سره نه ښائی چی تا سوته خطاب کومه
خورب دپاره رااوچت شی چی تسکین می وشی

دا دملت دهر وګړی دضمیر آواز دی
تیرله دا خپل خیالی قدرت شی چی تسکین می وشی

دیتیما نوګړیکی وا وری څه په کوکوزاړی
په حال خبر دخپل ملت شی چه تسکین می وشی

موء من ولس موپه سروویښوکی رنګین شوخلکه
ورته په صدق په خدمت شی چی تسکین می وشی

آخربه آه دمظلومانونه لمبه لمبه شو
له داسی حال نه په نفرت شی چی تسکین می وشی

دشهیدوینی ځوښیدلی دی موجونه وهی
دداسی وینو په عزت شی چی تسکین می وشی

ولی ؟ ویده شوی ولی وینی درنه‌هیری شولـــی ؟
راځی راپورته په همت‌شی چی تسکین می وشـــی

دابه ترڅوپه بیلوبیلولاروتلـــه وی زمـــونږ
په یوه لارپه حـــرکـــت‌شی چی تسکین می وشـــی

دخدای (ج) رسی سره راټینګه کړی په‌ګـــډه‌ورونږو
له تفرق نه په نفرت‌شی چی تسکین می وشـــی

که مونږهمداسی‌کوسی کوسی خپل هدف‌نه درومـــو
بیا فلسطین نه په عبرت‌شی چی تسکین می وشـــی

د(حنیفی) ترخی خبری ښی په مینـــــــه‌وا وری
ورته غوږغوږښه په دقت‌شی چی تسکین می وشـــی

سکپ‌خوږ پیښور

۱۳۶۹/۷/۱۸هـ ش

راځي چه سره يو شو

راځي چې يوله بله وركړو دوروري لاسونه
له بيخه پريكړو دا ناولي غرضي لاسونه
دفتنګرو دا فتني او دسيسي كړو شنډي
سره يو موټي شو نا بود كړو الحادي لاسونه

كه سره يو شو بيا به ستونزي كړاوونه وي
بيا به په مونږ باندي له هري خوا بريدونه نه وي
بيا به طاغوت را ته سجدي دعظمتونو كوي
بيا به ښكيلاك بيا به زبيښناك او يرغلونه نه وي

بيا به سرلوړي په جهان كې يو غلامان به نه يو
بيا به آزاد بيا به خپلواك يو بنديوان به نه يو
راځي چې ټينګې كړو منګولي دالله په رسي
بيا به سوكاله يو هميش ستړي ستومان به نه يو

كه په اسلام سره را ټول شو بدبختي به نه وي
دا غريبي دا بې خوندي دا بدرنګي به نه وي
امن وامان به وي ورورى به وي خوندونه به وي
نه به يرغل وي نه تاړاك دا بې وسي به نه وي

د (حنيفي) دزړه ټپونه به دوا شي
دا تورتمونه دا تياري به سپين رڼا رڼا شي
دا لحا د بُت به را نسكور شي كرملين كي ورونو !
دهر موء من دچمن ګل به په سپړا سپړا شي .

۱۳۶۹/۷/۱۴ هـ ش باغوانان پيښور

راته را

خاونده ! دزړه خړیکی تودځیګر کړه راته را
ښه سوزا وښه ګدا ز پټ په صدر کړه راته را

چی ماتی پری تیاری دجهالت او دوحشت شی
سینه کی داسی نور لکه دلمر کړه راته را

چی مینه می په زړه کی په موجونو بیل وکړی
خالقه ! ستا دمینی سمندر کړه راته را

چی ښنده کړم پری ماته دجزا په لوی ډګر کی
په ورځ درستاخیز (کی) آب کوثر کړه راته را

چی زړه می په تپاندوی او په سرو لمبو وریتیږی
ای ربه ! داسی عشق دپیغمبر (ص) کړه راته را

چی کړمه تاړاکونه داسلام په دښمنانو
غیرت او شجاعت دخپل حیدر کړه راته را

چی عمرمی تیر یـــږی بندگی کی ستا خـــا ونـده !
ټول عمرپه دا رنگ شا م ا وسحرکــړه را تــــه را

تما م عمرمی تیرپه گنا هونوکـــی شـــوربـــه !
درحم په ځپـو دمـــرگ سفـــر کـــړه راتـــه را

بیـــږی می ډوبه شوی دغفلـــت په سمنـــدرکـــی
خا ونده دنجا ت سا حل گودرکړه راتـــــه را

چی لوندد (حنیفی) گریوا ن پها وښکووی سبحـــا نـه
چی ا وښکی ترینه ځی دا سی بصرکـــــړه را تـه را

جها دکلی دجمعیت طلبه دفتر

۱۳۶۹/۷/۲۱

راپاځه هلته زرشه

خما دزره ارامه خندیدو سره راځه
نسیم دآزادی شه میکدو سره راځه

راوینښه راخوځیږه راروان شه خما یاره
راپاځه هله ژرشه له پیالو سره راځه

غمونه رانه واخله خوشالی کړه راپه‌برخه
ټول خم درسره راوړه له نشو سره راځه

دهجر په دنیاکی می موړال له لاسه ورکړ
راځه دزړکی سره حوصلو سره راځه

زخمی په‌اندرون یم خولی نه‌وینه غورځوم
خما درنځ طبیبه درملو سره راځه

ترخځو به یم په کړیکوستا په دراوپه‌دیارکی
تحفه دوصل راکړه دیدنو سره راځه

جهان رڼا رڼا که دنیا رو پرده کړه څېری
بلېږه څراغان شه له ډېوو سره راځه

په تن کړم کړم یم ستا د جبر په نښړی کښی
دخدای دپاره راشه کرشمو سره راځه

راځه چې څوسنګرته له اسلامه قربانی شو
مرچلو دجهادته له حملوسره راځه

چې سوربُت رانسکور کړو دالحاد موږورته بوره
همدم د (حنیفی) شه زلزلوسره راځه

زمونږ دشهیدوینی سره ګلونه ټوکوه
بهار دخپلوا کی شه ټوکیدو سره راځه

۱۳۶۹/۷/۱۶ دهجرت جونګړه پیښور

له نظره ځینی

وینی می خاځی دزخمی زړه له پرهره ځنــــــی
اوس به ناسورشی ددی دهرله هنره ځنــــــی

پرهرپرهر په اندرون یمله ناخوالوخلکـــــه
دیرناکراریم له زخمونو دخگره ځنــــــی

له چافریاد وکړم دچاله لاسه کوګی وکـــــړم
شپه ورځ ځوریږم له جفا وودبشره ځنــــــی

داسی څوک نشته چی لاس راکاندی دخدای (۵) دپــاره
په جیغوسریم له کردو دلراوره ځنــــــی

هرچاد امونه راته ایښی چی می ګیرکړی په کـــی
پردی لاپریږدی په زړه مورشوم له دلبره ځنــــی

مادا خپل حال اوخپل روز ګارهره ګــــړی ژړه وی
ستړی ستو مانه شوم دهرسړی له دره ځنــــی

زه (حنیفـــی) پریښته نه یمه خاکی‌بنده بـــــم
ولـی ؟ به‌شوی بم دخلکو له نظره ځنــــــی

سکپ باغبانان پیښـــور ۱۱/ ۸ /۱۳۶۹ هـ ش

وښکه چې خمار شي

د توحید دمیو جام وښکه خومار شه
د غفلت له خوبه وخو څه بیدار شه

وښکه وښکه دغه مې نسه نسه شه
له هغه پس دعساقو دکتار شه

چې له سیلمي ټول دحق په نور روښان شي
دتوحید دګلو کرکوه مالیار شه

چې دي یون وي دنیکانو په کاروان کې
نیک خصلت شه لهکل بدونه ویزار شه

چې په حشرکې دعرش ترسیوري لاسدي
ئې ولاړ نوخاص بنده دکردیګار شه

چې نصیب دي شفاعت دخپل جبیب شي
پهقدم ئې قدم کیرده ترینه زار شه

حینفي چې ماته واثي ځان دي هیردي
دعمر (ض) دعدالت عالم بردار شه

۲۱-۸ - ۱۳۶۹ هـ ش
سکپ باغبانان
پیښور

رالټوم

که نن وی که سبا وی ټول جهان را لټوم
دزړه په سوز او څریکو جهانیان را لټوم

اواز دانقلاب می زمزمه شه ترکشمیره
په دنګو غروکی کشمیریان را لټوم

بوتان به بیانسکور شی د ډیلی په بتخانوکی
په الله اکبر به غزنویان را لټوم

طاغوت به په ګوندوټو لەنړی کی کوټ پەکوټ شی
شپیلی دانقلاب یم مظلومان را لټوم

خوځښت دی پیل شوی په هرلور دمسلمانو
دشعر په څپوکی مسلمان را لټوم

وبښ شوی مظلوما ن دی دالحا دپه کور ورخېـــــــږی
په کلیوپسـئ گر ځمـه ځوانا ن را لتـــــــــــوم

دیوا ل دبر لـن ما ت کړا را دی د بیـــــوزلانـــــــو
اوس پوری لـه آ مونـه بیوز لان را لتـــــــــوم

چـی ماتــی زو لنــی کړی ځا ن ا زا د کړی غلامیـنــه
الـها م ورتــه ببنمـــــه آ ذر یا ن را لتـــــــوم

په تورو تورو شپوکـی چی ډیوی په بلیدوکـــــړی
ختیځ نه ترلو یدیځـه موږ منا ن را لتــــــــــوم

چـی پورتـه جنا زه دځمکـی ســرنـه دښکیلاک شــــی
په دا ســی پاځـېـدو به (حنیفیا ن)را لتــــــوم

۱۳۶۹/۸/۴ هـ ش سکپ با غبا نا ن

پېـــښـــــــــور

غاړه غړی راشه

مونږه چې سلگی کړی جهانیان په سلکوسرشوله
لوی خلک خو پریږده ماشومان په سلگوسرشوله

چیرته چې ځوانان کړم کړم خاوروته لاړ له
هلته دلاله سره سره گلان په سلگوسر شوله

کوم خواچې دورا ری دژړاکوکې ناری خیږی
شا وخواتری سخت زړی انسانان په سلکوسرشوله

هرکورنه چې ورو ورو دزخمیانو زگروی پورته شول
بیا دهغه کور پریښتگان په سلکوسرشوله

ځنگه چې دپیغلو اوځوانانو هیلو اور واخیست
داسی ډیوی مړی شوی پتنگان په سلکوسرشوله

کور په کور چې کوندی په ژړا ژړا په کوکو دی
دغه راز شی پاس په سرمرغان په سلکوسرشوله

کوم یوغم به وژاړم دنیا غموپه‌مخه کــــړه
ما غونــدی بــی شمیره شاعران په سلګوسرشــوله

چــاچــی دیتیم په کړیکو کړیکو ژړا واوریــــده
ستړی شول له کریکو بیاسومان په سلګوسرشــوله

غــاړه غـړی راشــه (حنیفــی) چــی سره کوکی‌کړو
زمونــږپه حال ځنګلو کیی حیوانانپه‌سلګوسرشوله

۱۳۶۹/۸/۲۱ هـ ش دهجــرت

جونګړه پیشــــور

لوبې کوي

یوخوتنه زبیښونکی په انسان لوبی کوی
طاغوت دشرق اوغرب په گرد جهان لوبی کوی

زبیښاک چی زبیښی وینه شپه او ورځ دغریبانو
په وینه دبی وسه آن په آن لوبی کوی

مظلومی پرگنی چی استعمار په ښکیل کی ساتی
ددغو پرگنو په مال اوځان لوبی کوی

عزت ورځنی لوټی په آبروئی کړی بریدونه
په ننگ او په ناموسئی هرزمان لوبی کوی

ترڅو به داسی کړی چی بیوزله به محکوم وی
په پت او په حریت یی ظالمان لوبی کوی

بهار دمظلومانو خو همیش خزان وی
ترکومه بی پهکور سپیره خزان لوبی کوی

راځی چی سره یوشو یوآواز اویوقوت شو
ترڅو به موپه ژوند داسره لیوان لوبی کوی

ژړیږه (حنیفی) دخپل ولس په حال ژړیږه
په حق اوسرنوشت ئی غداران لوبی کوی

۱۳ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش
دهجرت جونگړه پیښور

متانت

زه خو خپلواک یم غلامی په ځان منلی نشم
دا دنګه هسکه سمله را کوزولی نشم

که می سرپری اوتن می ټوټې ټوټې قلم قلم شی
د بردګی زنځیر په غاړه ګرزولی نشم

که طواغیت راته یوموټی شی خو مړ به می کړی
مرګ می قبول دی د ذلت ژوندتیرولی نشم

د غزنوی ، دابدالی ، دلوی میرویس په قدم
اخلم قدم دبل په لیکه باندی تللی نشم

که می په تن لمبی بلیږی او سوځیږم په کی
له خپل مسیرنه بل پلونه ستنیدلی نشم

که دمنصور په څیر می پورته کړی په دار ملګرو
که دبلال (رض) په شان می وریت کړی په انګار ملګرو

او به می نه باسی دحق اوحقیقت له کسر نه
دحنظله (رض) په رنګ به ځان کړم تری نه ځار ملګرو

لکه خبیب (رض) له قتلګاه نه به رابیرته نشم
کړم به په وینو دخپل تن جامی سینګار ملګرو

زه (حنیفی) به خپل سنګرپه وینو کرم ساتم
بیا به تازه دکربلا کړمه یادګار ملګرو

زه قربانی نه په بل ګر لکه حمزه (رض) ور ځمه
دځان ایثار ته همیشه یم تیار ملګرو

سکپ باغبانان پیښور
۱۳ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU 1859

حنيفى تە بە د هيلو جام چپە كرى

تبا هى تەورخوخيرى جـــهـــا ن و رو ورو
دردوى مى اختراع داسنــــــا ن و رو ورو

تول جها ن ئى مالامال كە لــە اتــو م نـــە
يوەورخ بە داجها ن كـــرى نيـــرا ن و رووړو

دا توم مقابلى دى ســــــره كيـــړى
وحشتو نـــو تـــه بشــردى ر وان و رو ورو

دى جونگـــړو نەبـــە جو ړى هـــديرى شـــى
دبها رڅا ى تە را درومي خـــزا ن و رو ورو

كەدا حا ل وى تول بشربـە ســره لمبـــەكــړى
طوا غيـــت بە پرى ســره خپلـە سينـــەكــړى

* * *

لړرا ويبش شـى لـه خوبـونوخوبـەوليـــــــو
دهمت متى را نغـــا ړى كـــريدليـــــو

خوبە زیبێنی رانەوینی وینـــە خکـونکـــــــی
ای حما دعقیـــدی ورونــــــو سپیخلـــــــو

چی لە سیلمـــی نەزبیبنا ک ا وشکیـــلاک مات شی
داسی ترە ســرەوکـــــری دردیـــدلیـــــــو

چی نا بودئی ورتە نـــن لا اتوم بـم کــــــرو
دا ســلام پە دین مینوخـــوریـــدلیـــــــو

کەنەهرچا تە بەخپل کورهـــدیـــرە کــــری
جنیفی تەبە دهیلوجا م چپـــــــە کــــری

۱۳۶۹/۶/۶ هـ ش جمعیت طلبه حرکت

ورانه شوه دنیا د مینی

پریږده ځما زړگیه‌نور دمینی لمن خوشې کړه
مینه زیاتی نشته دادیا را وچمن خوشی کړه

ورانه شوه دنیا دمینی توله گندواله شوله
لاړشه‌گوه‌نشین شه نفرتونو وطن خوشی کړه

مینه خوهغه‌وه‌چی دنیا پری رانسکوره شوه
و سوله لمبه‌شوله دمینی خونه خپوره شوه
واوره ځما دله جای ئی پریښود نفر تونوته
مینه چی په لیږد شوه دا خلاص ناوی سرتوره شوه

ای د(حنیفی) زړه‌گوتی څومره خوشباوره‌ئی
څومره لیونی ئی څومره خوښ لدی هنره ئی
سترگی دی رونی کړه چی کوهی ته ورلاهو نشی
مه‌درومه‌گړنگ ته‌ورگډ شوی بی گودره ئی

۲۱/ ۵/ ۲۳۶۹ ه شباغوانان

له اروپا څخه

زړه‌مې په چاودون دی خدای کوخلکوله دنیا څخه
نه‌یم لیونی خولیونی به شم له دا څخه

کورکه‌ول مې خپل دی واک اختیار یې وی لما سره
ولی ؟ پریکړی کیږي ورونوپسی شا لما څخه

ما خودخپل تن په‌وینو تول وطن خروب کړلو
څې دوینوبوی له دریابودآ ریانا څخه

کوټ په کوټ وطن کې یتیمان راته ژړاکوی
لیک غمخورئی نشته چې کرارئی کړی ژړا څخه

بورووراروکوندونه‌مې دک کلې کورونه شول
چائې اوبنکې وچې کړی فریادوکړم له چا څخه ؟

وران مې‌جوما تونه‌مدرسې اودنګ کورونه شول
اوس راته تول واک تراشلي کیږي بلی خوا څخه

څومره اتلان مې پدی لارکې قربانی شوله
څنګمه‌ئی زغمو؟ داووتول له ظاهر شا څخه

دامې شهامت وچې سره پوځ سرراته بنکته که
زړه دکیبون خوړین شوله بچو داحمدشا څخه

لړد (حنيفی) په‌دامهجورولس زړه سواندی شی
ولی ؟ بیا رادرومې‌دامستان له‌اروپا څخه

۱/ ۵/ ۱۳۶۹ هـ ش ـ ا غوانان

برزخی شیبی

مه کوی چی تولەدنیا ورانه شی
جوری زلزلی شی انسانی مینەمحکومەشی
وسوزی لمبەشی دبشردعاطفی نری
سرەداورتبی شی دنمر ود په لمبو زمکه بیا
پورتەشی لوخری داسمان پلوته لوری شی
هیلی لولپەشی ارزوگانی پەکی وسوزی
پیل کری لەسره دریابو نەلیونیجپی
هلتمبه سیراب شی دانسان وینوته تری زره
هلته بەارام شی چی بشرله سیلمی ختم شی
زرەبەئی دمەشی چی مظلو می وینی وختی
مەکوی چی خونی موخرابی شی
مەکوی چی زرونەبەبرین شی لا
مەکوی چی نورلاهمبی رحمه شی
پیل شی برزخی شیبی
هرخه رادبره شی
ستری شی ستومانه شی
دغه انسانی نری
مەکوی چی راشی الهی نظام

هرخەخپل خبثتن تەورترغاره شی
هرچاته دخپلو کروهنداره ورتەووسپاری
هلتەبەدحق اودباطل وزن تەووکوری
بیابه (حنیفی) تەدطاغوت پلوسربنکته کری

١٣٦٩/٦/١٧ هـ ش دهجرت جونگره

جهاد نه دی قربان شم

دا ستا دتوری شرنگ وچی دکفر کوروران‌یـــــــــــږی
جهاد نه‌دی قربان شم‌دکمون جرړی غوځیـــــــــږی

داته‌وی چی‌دجبر کوردی وران که پـه نـــــړی کـــی
دیوال دبرلین مات شو لیتوانیا هم آزا دیـــږی

پرون خلق اوپرچم وسن ئی‌نوم حزب وطن شـــــــــــو
ځیری دی کله سری شی گلبدین رنگ شی بدلیـــــږی

ازبک دی که‌آذردی که‌پـه‌نسل کشمیـــــــــــری دی
الهام له‌تانه‌اخلی ولسونه دی خوځیـــــــــږی

داستاله عظمتونونه جهان لوگی‌لوگی شـــــــــــه
له مهودی ځاریږم دوحشت ځنځیـــــر ماتیـــږی

الحاددی په نړی کی پـه‌گوندوا وسرنگـــــو ن کــــــه
آسیاا وا روپا کـــــی‌دکمون تغــر تولیـــــــږی

حنیفی ستاله همتـه نظر وچ اوسپیلنی شــــــــه
سوربت‌دی رانسکورکه‌ورځ پـه‌ورځ ئی‌مختوریــــږی

۱۰/۴/ ۱۳۶۹ هـ ش باغوانان

څوک پو شاني څوک بل شان

څوک په وینوکی لت پت دی څوک خوشحاله دی میلی کړی
دچا کور په کونډودک دی څوک بی درده دی نشی کړی
څوک تو دی ساتی مرچلی له اسلامه قربانیږی
څوک پار کونودلندن کی دسروګلو تماشی کړی

څوک دپلار قبر ته ناست دی په دردناک اوازژړیږی
څوک بیا خاندی په خندادی ورځ کی یوکیلوغو تیږی
دچابوری مورته کورده دخپل زوی په غم ماتم کړی
دچا بنه کار برابردی په مزو یې وخت تیریږی

دچا خونی شولی ورانی کنډوالی ئی شول کورونه
چا په وینو دپردی زوی ودان کړی یلډ نکونه
چا ته غبرګی جنازی لجهادی ډګرنه راغلی
څوک خبر په جهاد نه دی کوی خپل تجارتونه

چا خرب کړله په وینو دوطن دری داګونه
چا بیا خرڅ کړو مونږ په نوروشورا خلاص پردی لاسونه
چا په صدق رهبری کړو په ایمان دی برکتوی
چا راوړی ګران وطن ته داغیارو مسلکونه

رب دپاره خلکو وا وری څه فتنی شوی را ته جوړی
آینده مودیروخیم دی دسیسی شوی را ته جوړی
حنیفی مهتی رانغاړه دجهادډکرته دانګه
دخوبونووخت تیرشوی خطری شوی را ته جوړی

۱۳۶۹/۳/۲۹ هـ ش جهادکلی

دکشمیر د غرونو بازه!

دکشمیر دغرونوبازه! چي دښمن ته سر ټیټ نکړي
ای دننګ اوپت اوازه! چي دښمن ته سرټیټ نکړي
سرو لمبوته ورلاهو شه! سنګرونه لاتاوده کړه
کشمیری نهضت پیشتازه! چي دښمن ته سرټیټ نکړی

آزادی دچمن ګل شه ! دکشمیرپه دننګو غروکی
دخپل واک وطن بلبل شه! دکشمیر په دننګو غروکی
ددښمن په سررا پریوزه! آسمانی تندرپه رنګ کی
دجهاددکاروان مل شه ! دکشمیرپه دننګو غروکی

افغانی جهادنه اخله الهامونه وراندی تله کړه
په تودووینوتودیږی سنګرونه وراندی تله کړه
ددیلی دشیاطینوورته ماتی ککړی کړه
کړه دفتحي ترپړاوه جهادونه وراندی تله کړه

دا يمان په زور سمبال ئى چې همت دى كاسته نشى
د دښمن تورى ته دال ئى چې همت دى كاسته نشى
تر روستى لمحې دژوندە له دښمن سره جنگيږه
ته عسكر د ذا لجلال ئى چې همت دى كاسته نشى

ته دخپل حق طلبګار ئى په جرئت دى برکت شه!
دا سلام دباغ ماليار ئى په جرئت دى برکت شه!
خپل هدف ته به رسيږې که دخداى (ج) په لاره نيغ تلى
حنيفى دزړه قرار ئى په جرئت دى برکت شه!

دکشمير دغرونو باز ه١

مجاهد ته

ځما پتمن زلمیه ! تا ته سلام کوم
ځما هودمن زلمیه ! تا ته سلام کوم
ای ساتنمن زلمیه ! تا ته سلام کوم

تا له خوبونوویښ کړه
دا خوبولی خلک
تا په پښو ودرول
دا کړیدلی خلک

ته دمظلوم حامی تا ته سلام کوم
دتوروشپورڼائی تا ته سلام کوم
ځما دچمن ښکلائی تا ته سلام کوم
تا مظلومان وژغورل
دسره ښامارلستونی
تا ټول جهان که خوندی
داستعمارله ستونی

ای باوفا اتله ! تا ته سلام کوم
دننسبا اتله ! تا ته سلام کوم
ټولی دنیا اتله ! تا ته سلام کوم
تا حماسی کړی جوړی
دځمکی سرباندی
غلیم دی وټکاوو
په هردگربانـدی

دیتیما نودا دئی — تا ته سلام کوم
دبی وزلانوډا دئی — تا ته سلام کوم
دغریبا نو دا دئی — تا ته سلام کوم
تا دکمون دا پېزم
جرړې را ویستلی
دا سری وحشي لښکری
دی گوډی ما تی کړلی

جها ن دی وخوځاوه — تا ته سلام کوم
دشمن دی وشرماوه — تا ته سلام کوم
وطن دی ولړزا وه — تا ته سلام کوم
ستا به صفت کومه
کهپدی وتوانیږم
دحنیفی جا نانه
ستا په کړا وکړیرم

۲۰/۳/ ۱۳۶۹ هـ ش — چرا ت دجمعیت طلبه دفتر

ماته خبرې د پرون مه کوه

لکه دګل پاڼه رژیږم خزانونو سره
عمرتیریږي له ربړونو کړاوونو سره

داخه سیلی اوتوپانونه دي چې وریږي مې په مخ
لاس اوګریوان یمه دوخت له ښکیلاکونو سره

ماته کیسې دسوکالۍ اوسباوون مه کوه
ننړا ته ګوره یا دښتونه دپرون مه کوه
وینه مې زبیښي دزبیښاک په لاس کیوتی یمه
له قصابانو نه مې هیله دژوندون مه کوه

۱۳۶۹/۶/۱۶ هـ ش
باغوانان

يم خوځيدلی

يم خوځيدلی ما تؤم دا ستعمار ککری
له سره کمون نه‌زيرېدلی دمکار ککری
دا دپريبونوا ودوکوځا له بی وسوزوم
کړم به سرخمه دزپيبونکو اوغدار ککری

را ته سربنکته سرنکون شول ير غلگر پوځونه
پدتيبنته لاړله وحشی اوځنا ورپو ځونه
تولـه نړی کي شوی نسکوری دکمون ړرجلی
چې حنيفيا نوپه‌گوندو کړه سره سوړرپوځونه

۱۳۶۹/۶/۱۶ هـ ش باغوان

پاخون

دا دوحشت تيا ري به تيرى شي رڼا به زا شـــــی
دآ زا دی ها ربې ترغا ړوی ليلی بــــه را شـــی

دا به دغروپه سروبيا شوغلی دلمـــرخپری شـــی
بيا به پرا نيزی ګلاب شونډی په خنـــــدا به را شی

دا شترا ک زنځيرته کوره چی توتی توتی شـــــی
دا زا دی نا وی که خدا ی ج کړل نن سبا به را شـــی

دغه آ رزوبه دا سلام دننګيا لـــو پـــوره شـــی
چی شنه ډولی دا زا دی په آ ريا نا بــه را شـــی

دا دشهيدوينی دی نن سبا به را وړی میــــــوی
ګوری سپرلی چی په تا توبی دبا با به را شـــــی

دا را ته زيری دشهيدوينی په خوا را کـــــــوی
دخپل وا کی طوطی ا لوتی په دی خوا بــه را شـــی

غا بن به شي ما ت دغا صبا نودا سلام په تــــوره
دخدا ی ج په ا مرله خندا ډکه دنيا بــه را شـــی

تەدهمت پە پت سینگا رئی سترگی ووغــــــــــروە
دا یما ن تورە درسرە ستا مدعا بە را شــــــــــی

تا کړە را ویښه دهرچا دآزا دی مفکـــــــــــــو رە
ستا پە پا ځون پسی پا ځون لە هری خوا بە را شـــی

ورکوەوینەدا سلام دحا کمیت پەخـــــــا طـــــــر
خزا ن وهلی گل اوبەکـــړە پـــە سپړا بــە را شـــی

حنیفی ورکړە دتن وینە توپا نونە جـــو ړکـــړە
تا ریخ دننگ پەمی خما رکړە پــە ښکلابە را شـــی

دغە غزل چی تا سووولوست څما دهغی ورکی قلمـــی
نسخی نەووچی دا یثا رمجلی لەلومـــړی
گڼی نەما ترلاسە کړ: (حنیفـــی)

د تکبیر جگي ناري شوي

هندوکش په گړ نگوکی دتکبیر جگی ناری شوی
دافغان ولس لەتوری هرموء من لوړی سملی شوی

دباطل په مقابل کی افغانان وتی دگرته
دآسیا دزړه په تل کی دجهاد دبلی دیوی شوی

دطاغوت خولەکړەورماتەد (مروبس) نیکەلمسیانو
سرەښکیلاک ځمځبرئی غوڅ کړملحدینو منی پری شوی

لەآسیانەاروپاتەخوځښتونەچی وربەدە شول
داجهادد ځماد ملت ؤچی سړی وینی نودی شوی

داهمت عظم متین دی دافغان په پرکنوکی
چی دروس وحشی لبنکری ورنه هیڅی پەسجدی شوی

چی دبوال د(برلین) ماتشودا ځما مجاهدتوو
دالحادپه شیاطینوله هرلوری تەحملی شوی

دازمونږ اسلامی یون دی خپل هدف تەبەرسیږي
استعماربەکوربه خیژی تری تەجوړی قافلی شوی

دسبا سترگه راخیژی توری شپی بەرون سحرشی
دافغان لەدنکوغروئی راڅرکند ی پلوشی شوی

سوربنا ماردی پورځولی (احمدشاه) نکورزمریانو
(حنیفی) داقافلی درومی هدف تەورنیږدی شوی
۱۳۶۸/۱۱/۲۷ هـ ش باغونان

دښمن ونکوه

وطنه ټول ښیرن ښیران شه دښمن وټکوه
ټول سنګروته ټول سوفان شه دښمن وټکوه

داچنبی مری کړه غوڅه دهمت په توره
ټول ورسه تندردا سمان سه دښمن وټکوه

دملحد یومیندی بوری کړه وطنه څما
ټول ورته قبر کورستان شه دښمن ونکوه

دکمونیزم کورخراب کړه همت مرچله
دمسلمان ددرددرمان شه دښمن وټکوه

تاکړلی ما نی سری لښکری غزنوی‌ټا ټهوبی
لاورته جوړ ګرنګستان شه دښمن وټکوه

سینه‌دی زنک شوه دمظلوموبرکوپه وینو
ورته ګلشن اوګلستان شه دښمن ونکوه

توره تیاره کړه دسبا په پلوشو بدله
دپسرلی په خیرخندان شه دښمن وټکوه

دا زادی دیوه کړه بله دنګو غروپه سرو
بیا (حنیفی) نه‌چیرا غان شه دښمن وټکوه

۷/ ۱۰/ ۱۳۶۸ هـ ش باغوانان

د زړه خواله

چې ونه تو کی گلو نه بها رخه کړم
چې نکورنګړی زخمونه نګا رخه کړم

چې خزا ن څپلی زړونه تا زه نکړی
په ړندوسترګو لیده دګلزا رخه کړم

چې وطن مې را نه ګل گلزا رنکړ ی
دا د دګا ن په غم کې سترګی ما لیا رخه کړ م

چې دکوندوبو روا وبنکي وچې نکړی
دا لیدرا ودا نیمګړی ، غمخوا رخه کړم

چې دا ستر اسلامی یون رهبری نکړ ی
دقدرت په ګدی مستا وخوما رخه کړم

چې ملی وحدت پوښلی په کې نوی
په ګوندونو ویشل شوی دیا رخه کړم

په هزا رګله را ټومه پسرلیه
تیریده دې را نه خیرمه کنا رخه کړ م

را شه را شه په رښتیا غیرې ته را شه
بیا را تله دې بې ثمره دوبا ره رخه کړ م

(حنیفی) چې نیمه خوا قبر ته لاړشی
بیا یوا زی دا وطن لاله زا رخه کړ م

۱/۵/۱ / ۱۳۶۸ هـ ش
بلغاریه	با غوا نا ن

کاروبار د عشق

ما چې ولیده هغه ښامار د عشق
په غضب ئې پما وکړ وار د عشق

سرترپایه ئې ایره کړمه په زهرو
هسې پریوتم تنها بېمار د عشق

په دارو د طبیبانو نه رغیږم
معلومیږي چې دغه آثار د عشق

سرتور سر چیري کریوان ولاړمه غروته
داسې کړمه وارختا پرهار د عشق

شوم تنها له کوراوکلي ځنې ولاړم
خدایه ! څومره سخت دی کاروبار د عشق

دا شنا په درکې خوار (حنیفي) پروت یم
غمازانو تیار کړی دار د عشق

ستاله دربار ره ۱۳۵۲ هـ ش قرباغ

جهاد و نه کوم

پهٔ سلامی سپیڅلی لارکی جها د و نه کوم
دا سلامی دین په دښمن بهٔ تا ړا کو نه کوم

جزبې مې ګوره چې ځوا نیږی ورځ لهٔ بلې ورځې
ځکهٔ حملې پرله پسې په ملحدینو کوم

دنړیوا ل کمون ږیښی بهٔ می همت کړی غوڅی
پهٔ صدا قت یم خوځیدلی غورځنګو نه کو م

دآ زا دی پهٔ لوړی ځم .وړا ندې قدم په قدم
دمقدس هدف پهٔ لوړی منزلو نه کوم

دا ستعما رځنځیربهٔ ما ت کړم دمولا په مرسته
دسره ښکیلاک پهٔ تا لی ځپو بهٔ بریدو نه کو م

هغه مې ویښ کړل چې ویدهٔ وو په خوبو نو باندی
لوی رهنما شوم دښونکی رب شکرو نه کو م

توري تیا رې مې کړلی ما تی سپین سبا پهٔ خا طر
دسباوون پهٔ لوری ځم په دین جنګو نه کوم

ا فغا نستا ن کې مې کوډی دکفرو را نهٔ کړله
آ مونه پوری پهٔ لحا دبه تا ړا کو نه کو م

چې یرغلګرې سرې لښکرې ټې بې پته کړلی
زهٔ (حنیفی) بهٔ دهغه ځوا ک صفتو نه کو م

۱۳۶۸/۱۱/۲۳ هـ ش با غوا نا ن

چې تسکین مې وشي

را ته دلبر را ته جانان شه چې تسکین مې وشي
را ته په خوب کې نمایان شه چې تسکین مې وشي

دریسي وینې تویه وم له خولې به لبو لیمو
را ته طبیب را ته درمان شه چې تسکین مې وشي

کړم کړم یم گرانه ستا د جدائي دلاسه
کړه برما رحم مهربان شه چې تسکین مې وشي

مدام کریږمه بیلتون مې کړوی دلبر
بوځل مونږ کره مهمان شه چې تسکین مې وشي

سکون مې نشته لالهانده ورځې شپې تیروم
را ته سکون او اطمینان شه چې تسکین مې وشي

لکه یعقوب (ع) دریسي ړوند به شم په غم گوستر گو
په تصورکې را عیان شه چې تسکین مې وشي

ته مې محبوب ته مې جانان ته مې سکون شه د روح
ته مې به حشر نگهبان شه چې تسکین مې وشي

ستا د فراق نرمو غرمو کې جل وهلی پروت یم
له رحمتونو ډک باران شه چې تسکین مې وشي

مجنون خونه‌یم خومجنون صفت له ربه غوا م
جوړه لبلی رانه هرن شه إ چی تسکین می وشی

زه دغفلت به دنیا گی خوب وړی بمه
ته‌می شفبع په لوی مبدا ن شه إچی تسکین می وشی

دگنا هونوسمندرمی بېړی ډوبه کړله
ته‌ئی ملاح اوچالوا ن شه إ چی تسکین می وشی

دسحربا ده هله شا بس رو نېږه زړشه
ځما له خوا پیغا م رسا ن شه إ حی تسکین ی وشی

زه (حنیفی) پا ره‌کریوا ن کړمه ستا مینه باره
ته‌می له ځا نه‌هم راکرا شه إچی تسکین م وشی

۱۳۶۹/۷/۱۵ دکورا و دفترترمنځ سه موټرکی
پیښو

ګړیدلی نشم

دا به ترڅو دچا له ویری څه ویلی نشم
زړګی څیریکی به په ډاګ بیانولی نشم

حوله می ګنونکی کوتی می بندی له لیکوخنی
زړه می دردیږی مګر دردا ظهارولی نشم

یا به احساس محکوم یا به می خلک وژنی
دغدارانو غداری جاته ښودلی نشم

به زنځیرونو یم تړلی دخپل کوروګړو
دخپل ضمیرآوارکاغر باندی لیکلی نشم

که غداری بیایوم رابانـدی تورلګوی
څه وکړم خدایه! غداری ورته ډاګلی نشم

داسی وخت راغی چی حق تریخ شو له زقومه څنی
دامراونهی حکم چابانـدی منلی نشم

دومره فتنی دی چی له خلکو سره لیوان جوړ شوی
لدی لیوانو اسلامی حقوق ساتلی نشم

که په میدان کی ورته وایمه په څغرده سره
بیائی له توراوله تهمت نه ځان ژغورلی نشم

دا سی نومونه په سړی پردی چی حیرت یم ورته
با وردی وشه چی بیا ګان تری خلاصولی نشم

دا زولنی دا ستعماریه ماتو مه ورونو!
زه دبنکیلګرو غلامی خلکه منلی نشم

حق به لیکم حق به ویل کوم ترمرګه پوری
دچا له ویری خوژوندی ضمیروژلی نشم

که می ځوک ګوتی پری کوی یا می په دار ځیژوی
زه به دحق ناروی ه سمکرا ریدلی نشم

زه مسلمان یم له جو ماتو نه راغلی یمه
له حق نه پرته په بل ډول ګرېدلی نشم

ما (حنیفی) دخدای (ج) رسی په صداقت نیولی
دچا زوروسوا ودبا ولاندی راتللی نشم

دهجرت جونګړه پیښور ۱۳۶۹/۷/۷ هـ ش

د شهید په یاد

شهیده ستا دګرموو ینوطهارت ته سلام
دستا ایثار ګان جارول او دیانت ته سلام

تیر دی سپرود دښمن دسروګولیو په لور
دستا سنګرکورا ودیارا وشهادت ته سلام

په پاکوو ینو به دی حوری سره خالونه وهی
په جنتوکی ستا مقام او منزلت ته سلام

لوګی لوګی شوې له‌ا سلامه‌قربانی دې وکړه
په وینو رنګ شوی ستا ایمان اوشرافت ته سلام

کرم کرم بدن دی ګرانه‌شاهدی ورکوی
په ورځ دحشردی جلال شان اوشوکت ته سلام

شهیده وینی دی قبولی شوې دخدای ج په دركی
ستا درجو ښومرتبوا وكرامت ته سلام

په وینوسوربدن دی ورورەدا یمان نه‌بنده ده
دستا غیرت ستری مېړانې شهامت ته سلام

چې دحمزه رض په پله روان وی شهادت په مینه
دستا اخلاص مینې جزبې اوصدافت ته سلام

چې دا ندم بې دی سیراب کړ په سیخلو وینو
له‌ګران اسلام سره‌ستا مینی اوالفت ته سلام

چې دحسین رض شهیدیا دګار دی دوباره‌تازه‌کړ
دمحمدص په دین شهید ستا همت ته سلام

چی پردښمن دی تررستی سلګی حملې کولی
دستا ثبات عظم متین او وفا طعت ته سلام

چی په جهادکی دی قدم په صداقت ایښی وو
ستا دا سپېڅلوکارنا مو مجاهدت ته سلام

چی په مزاردی ټوکیدلی دلاله ګلونه
ستا دزیبا ښکلی مزار زیب او زینت ته سلام

چی رنګارنګ ښکلې جنډې دې په قبره ریږی
دستا حریم او چاپیریال کی حرمت ته سلام

چی دکمون متې دې پرې کړې دا ېمان په توره
ستا دهمت غیبی رسا او فراست ته سلام

تا دالحاد مورکړله بوره دجهاد په ټکر
شهیده ستا دا جهادی زوراوطاقت ته سلام

نن دالحاد ټغرټولیږی دنړی له مخه
(حنیفی) وائی ستا میړانی او جرئت ته سلام

۱۳۶۸/۱۱/۱۴ هـ ش باغوانان

دغه ستري عاشقان به صبا نه وي

دا دسروگلو دوران به سباسه‌وي
دغه ستري عاشقان به سبانه‌وي

سور شمال به دخزان وربا ندي راشي
دغه باغ چمن بستان به سبانه‌وي

همدا واړه عاشقان ځي له دنيانه
جفاكاره خوبرويان به سبانه‌وي

ددنيا گر دښت ته‌گوره چي بدليږي
دغه واړه شاعران به سبانه‌وي

(حنيفي) بادي به خاوري شي امبار
دي به‌ولاړ سي صفت خوان به سبانه‌وي

نه به تاج وي نه به تخت نه‌به‌شاهان وي
ففيران او ملنگان به سبانه‌وي

گرديز

اوریمه لمبه یم

ځومره می را وبښکرله ویده‌زړونه
ځومره می آزادکړل زولانه زړونه
ځومره پرگنی می را بیداره کړی
ځومره ولسونه‌می یوموټی کړل
ځومره‌ولولی می زمزمه کړلی
ځومره حماسی می راژوندی کړلی
ځومره تورتمونه‌می روښانه کړل
ځومره وحشتونه‌می نابودکړله
ځومره دننگ سرونه‌می راخم کړله
ځومره خزانونه می بهارکړله
ځومره شوم‌پلانونه‌می خنثی کړله
اوریمه
لمبه‌یمه
شمعه یم
ډیوه‌یمه

* * *

سوزم وحشتونوکور
دادشکیلاکونوکور
جوړمی نهضتونه کړل
وبښ می ولسونه‌کړل

ما ت می تا ړا کونه کړل
غوا ړم ا سلامی نظا م
نه منم دهری نظا م
نه دغدا ری نظا م
سوله ا وورورۍ غوا ړم
مینه ا سلامی غوا ړم
پری میړدی چی ا ورشمه
وسوزم کفری نظا م
را شی چی یوموټی شودکفرځا له وړا نه کړو
ورکه ئی نطفه کړودا لله دزمکی سرځی
څومره می را ویښ کړله ویده زړونه
څومره می آ زا دکړل زولانه زړونه
ا وریمه
لمبه یمه
شمعه یم
ډیوه یمه

* * *

څومره پا کی وینی را نه نلی شوی
څومره ځوا نکی هیلی می مړی شولی
څومره شا زلمی می نیمه خوا شوله
څومره پنیا لی میندی می بوری شوی
څومره ملالی می شهیدا نی شوی
څومره پښتنی پیغلی بی وروڼوشوی
څومره ما شوما ن می بی پلارونوشول
څومره زا نګوګا نی بی ما شومه شوی
څومره دننګ کورونه بی څښتنه شول
څومره جوما تونه بی ا یما مه شول

ځومره مى را وينى كړله ويده زړونه
ځومره مى آزا دكړل زولانه زړونه
اوريمه
لمبه يمه
شمعه يم
ډيوه يمه

* * *

مه كوى چى ورا نه بشى
څما دزخمى زړه پهوينوسره خونه
آه بهكړم سينى نهبهدا ورلمبهراو باسم
اوربه كړم لمبه بهكړم دظلم اووحشت دنيا
مه مى كړوى خلكه
پريږدى چى دا خپل نصيب تهوژاړم
پريږدى چى غمونوتهوزګا رشمه
پريږدى چى وحشت سره په جنګ يمه
ورا نهپرى دنيا كړمه
كرم زړه پرى يخ كړمه
پريږدى چى دخپلويتيما نوا وښكى وچى كړم
پريږدى چى د ګوندوتسلى نه لړوزګا رشمه
پريږدى چى زخمى زړه مى ټكوركړمه
پريږدى چى دمه شم كړا وونوسترى كړى يم
پريږدى چى ټپونه (حنيفى) تهورښكا رهكړمه
ځومرهمى را وينى كړله ويدهزړونه
ځومره مى آزا دكړل زولانهزړونه
اوريمه
لمبه يمه
شمعه يم
ډيوه يمه

۲۰/۶/ ۱۳۶۹ ﻫ ،ش با غوا نا ن
پيښور

ډېر ډېر

خدا يه ! تهٔ ئی په هرجا مهربان ډېر ډېر
ما غافل بنده کړلی ځوځان ډېر ډېر

ستا صفت رحمٰن رحيم دی ځما ربه
مکر زه په خوب ويده کړم شيطان ډېر ډېر

يو نظر دکرم غواړم لنا خدا يه !
ګناهونه می بی حده پريمان ډېر ډېر

ته می خدای ئی زه بنده يم ستا خالقه
شرمنده به ستا پخوا يم روان ډېر ډېر

کهٔ را وه ببښی ګنا وی ځما ربه
زه په خپله يم بی غوره انسان ډېر ډېر

حنيفی ستا په دربار کی په ژړا يم
ځکه غرق يم پرګنا کی ببشان ډېر ډېر

لوګر ۱۳۵۲ هـ ش

لویه خدایه!

لویه خدایه! دزره صدق او وصفا را
توان دنیکوګوریز له بدوپه دنیا را

چې داستا رضا پوښلي په کي نوی
الهی له داسی کړو ځنی پنا را

ته کریم ئی ته رحیم ئی ته رحمٰن ئی
ته قادرئی ته محیط په ټول جهان ئی

بریالی موکړی پدی ستر امتحان کی
کوبنده دهرطاغوت او هرشیطان ئی

افغانان سره یوموټی یو قوت کړی
مجهز ئی په یووالی په وحدت کړی

حنیفی ته به دا مړا وی غوټی ګل شی
که توان من ئی په اخلاص او صدا قت کړی

پیښور ۱۳۶۹/۵/۵ هـ ش

که زه شهید شوم موری

که زه شهیدشوم موری تـه بـه ژړا نـه کـوی
تـه بـه پـه چیغوچیغوشورو اویـلانـه کـوی
دخدای (ج) پـه ا مرځمـه دجنگ ډگرتـه مـوری
پـه شها دت بـه ځـما کړیکـې وغوغـا نه کـوی

ستا پـه ژړلـو با نـدی خـدای ج خپـه کیږی موری
زما دشهیدووینوا جرسلبیـږی مـوری
دژړیدلوپرځای راتـه دوعـا وی کـوه
پـه تحمل اوصبـرب خوشا لیـږی مـوری

قربا نومـه وینـه لکـه حمـزه(رض) پـه ډگـر
خورمه گولـی ددښمـن دزړه پـر سرا وڅکـر
چې را تـه ونه ژاړی را تـه غمجنـه نـه شـی
که شم غلبیل غلبیـل شمـه پـرهـرپرهـر

زما درگونووینه راگرمـه شـوی مـوری
دا گرمه شـوی وینـه مـی خوښیـدلـی موری
یا به شهیـدشـم پـه دین یا بـه بـری ځمـا وی
ځما دننگـو نوکا سه را خوښیـدلـی مـوری

تا پښتنه غیرت کی په ننګ روزلی یمه
تا د ننګونو په تال کی زنګولی یمه
تا به په مینه مینه راته دښمن ښودلو
تا په پتیال کهول کی غښتلی کړی یمه

زه حماسی جوړوم زه زلزلی جوړوم
زه به الحادته موری نن هدیری جوړوم
زه دا یمان په توره مجهز شوی یمه
زه سره اورونه ورمه زه هنګامی جوړوم

که زه شهید شوم موری پما ویر ونه مه کړه
زړګی ته دا وږکوه خوشی غمونه مه کړه
د (حنیفی) په وینا باندی عمل وکړه
څما د قبر خوا کی ویرماتمونه مه کوه

۱۳۶۹/۶/۲۵

جهاد کلی

ورټګور ئی ګړو ټپونه

راشي راشي چې ښائسته ئې ګړو قبرونه
تا ورا تا وګړو ترينه شمې سره ګلونه

چې په وينوئې تمام وطن ګل ګون کړه
ترې قربان مې شه په مينه اندامونه

دا سلام ترې حرم ئې چې اوبه کړ
راځې بل ئې ګړو په قبر څرا غونه

چې نازک بدن ئې غوڅ ګړم شو
ځې چې ورشو ورټکورئې ګړو ټپونه

چې په تن کې ئې سړې ګرمې ګولې شوې
له هغه زلمې نه جار شه ډېر ميرونه

چې شهيد شو دا سلام په سپينه لارکې
مبارک ئې شه جنت کې نعمتونه

له هغه شهيدنه ځا رځما ځګر شه
چې تا وده ئې ګړل په وينه سنګرونه

چې ئې سرپه اسلامي عقيده‌وركړ
ځې پوره ئې كړو سپيڅلي ارمانونه

ځې چې تره داسلام چوكاټ‌كې ووكړ و
چې به اخلوله دښمن نه كساتونه

كمووينې دشهيد كما ئې نه‌كړي
بيابه نه وا يو بل ته اى پښتونه

(حنيفي) كه‌دى جا مې دتن كفن كړي
باوروكړه خداى (ج) به‌دركړي جنتونه

دهجرت جونكړه (كور) ۱۳۶۹/۷/۴ ه ش

هوه

کەمی غوبنی پەچڕوکتری کتری شی
تول بدن می پە ا روا ری ا ر ی شی
دا سلام لەعقیدی نەبنە وا نە وڕ م
کەهدوکی می دتن زری زری شی

* * *

کەپەدی لارەکی وو مرمە مڕنیم
نوشهید بە بریا لی یمە پڕنیم
خپل هدف تەبە رسا ا ورسیدەیم
پەنڕی کی بە سرلوڕی یم خڕنیم

* * *

دخلیل پە خیرمی ودا نکل لمبو تە
دشهید پەوینو کرمو سنکروتە
سنکرونەدجها درا تە کلزا ر شول
عبرت نا کەدرس می ورکڕسرو پوځوتە

* * *

تیرتاریخ دغزنویانومی ژوندی کړ
استعمارته می ختیځ ازغی ازغی کړ
دالحادجرړی می وایستی له بیخه
دکمون می ورته سوړگرم نغری کړ

* * *

(حنیفی) دخپلواکی په لوری د رومه
دښکیل گروورته پریکړه دښکیل لومه
چی ترپایه بیاتاریخ تەوی سرښکته
تمامی کفرزلیل کړهاومغمومه

باغوانان

۱۳۶۹/۳/۲۲ هـ ، ش

حسرتونه

په تقدير کښې راته ښکل دي کړاوونه
په نصيب زما هزار هزار غمونه

يوساعت مې خوشحالي په برخه نشته
په هجران کې مې لوګي شول ارمانونه

چې دا خپل نصيب ته ځير شم ژړا راشي
له چشمانو مې شي سرخو ناب رودونه

کاشکې نوي راپيدا په سر دغمکې
چې مې نوي خاوري شوي اُميدونه

هرطرف ته سترګې اړوم ړنديږم
ناکړدو مې دزړه غوټ کړل تنابونه

زه دوخت دفتنو ژرندې يم دل کړې
نا ببره مې نسکور شول دک جامونه

تورلوګي مې له دهانه را بهرشو
دفراق په اورمې وسول اندامونه

چې دجبر سمندریم لاهو کړې
دنجات په لاس را نغله گود رونبه

چې له ستونی می حلقه شوما ردزلفنو
هغه دم ئې په زړه را کړه لو تکو نه

دا لحا دئې په کوررا غله سیلابونه
(حنیفی) لادځوانی په خوند پوی نه وو

اسدالله (حنیفی) ۱۳۶۵/۱۲/۲۰ ھ ض
پیښور

د مېړنو وطنه

ځما وطنه دموږ منو پرګنو وطنه
ای دباتورو ننګیالیو مېړنو وطنه

ستا دپامیر په ګړنګونوکی بازان اوسیږی
ای دتا جکودا زبکو پښتنو وطنه

تا ټکولی څوڅواره یرغلګر ځواکونه
ای دغازی مشک علم دتوریالو وطنه

سنګرسنګر ئی ددښمن کودی دی ړنګه کړله
دا بدالی دغزنوی دپرګنو وطنه

درته سرټیټی دی دعصرطاغوتی ځواکونه
دبا همته ولسونو دپښتو وطنه

دښتی میری دی ښائسته دی دلاله په ګلو
دزړه را ښکونکو ښائسته ښکلو درو وطنه

حنیفی تانه مهاجر دی لالها نده ګرځی
دهرافغان دزړه سکون ددنګوغرو وطنه

۱۳۶۹/۳/۲ هـ ، ش جهادکلی

ای د سنګر زلمیه!

ای د سنګر زلمیه! — ای زړه ور زلمیه!
ستا له سنګره قربان — ای دلاور زلمیه!
ای هوډیالیه ځما!
ای ننګیالیه ځما!

دا یرغلګر پوځونه — دا وحشت ګر پوځونه
تا سرنګونه کړله — دا سره سوډر پوځونه
د ننګ نیښانه ځما! — غښتلي ځوانه ځما!
ستا له همت قربان — مړه مړا فغانه ځما!
ستا کارنامو ته سلام — ای نوریالیه ځما!
ای هوډیالیه ځما!
ای ننګیالیه ځما!

ای د ځواکونو میره! — د نهضتونو میره!
کمون دې وشکاوه — د غورزنګونو میره!
سلام سلام شه پر تا — رحم مدام شه پر تا
درومې په وړاندې درومې — درب نعما مشه پر تا
کفر دې وپرزاوه — ای جنګیالیه ځما!
ای هوډیالیه ځما!
ای ننګیالیه ځما!

تەجها دونەکوی - پری غورزنگونەکوی
پە ملحدینوبا ندی - همیش بریدونەکوی
تا حما سی کړی جوړی - تا زلزلی کړی جوړی
دسرە وحشت پەزوکړە - دی هدیری کړی جوړی
تا نەلوگی لوگی شم - ای بریا لیەځما !
ای هودیا لیە ځما !
ای ننګیا لیەځما !
ای مسلما ن اتلە ! - ای دا فغا ن اتلە !
دښمن دی ما توګوډکه - دټول جها ن اتلە !
دجګو غروزمریە ! - دسردروزمریە !
سرە یرغل ګرځدی ماتکړە - دکړنګو زمریە !
د "حنیفی" جا نا نە ! - ای میړنیەځما !
ای هودیا لیە ځما !
ای ننکیا لیە ځما !

۱۳۶۹/۳/۱۲ هـ ، ش جها دکلی

شپیلی د انقلاب کی

دهری زړونه به وچوی کمون به نا بودیږی
زمونږ په دنګو غروکی دطا غوت زا مه ما تیږی

ښکیلاک په زنکدن دی سا ئی ستونی ته را غلی
شپیلی دا نقلاب کی دبری ا وا زپوکیږی

که نن وی که سبا وی دا لحا دمتهی به پری شی
کا روا ن دا نقلاب موخپل هدف ته ورلنډیږی

تیا ری موکړی نا بودی توری شپی مو کړی په مخه
نیوی دآ زا دی مودتن وینی ځکی بلیږی

دا ستری ستری هیلی به دهغی مورپوره شی
چی کورئی کنډوا له شوزوی ئی وینوکی شلتیږی

دا سترا سلامی ځوا ک به دبا طل کوپره کړی ما ته
موږ منی پرګنی موښی پد لوړموراڵ جنکیږی

دا لویه قا فله به موآ خرهدف ته رسی
بیړی دا نقلاب مودسا حل خوا ته رسیږی

دا سوردا سرا فیل دی که تکبیـــردا فغا نا نـــــو
په غږئی له هیبته سری ما ټــــی گوری نـړیــــږی

بها ره راشه ! راشه! چی رنګین دی کړوپه وینــــو
زمونږ دبدن وینی لاله دینه هم گـــــرمیــــږی

که نا سته وی که ملاسته وی که ژونــدوی که مــرد ن
بار بار (حنیفی) وائی په اسلام کـــی دی تیریږی

جمعه ۱۳۶۹/۷/۶ هـ ض
پیښـــور

څو به څما قلم ګیلې لیکي

بیا مې قلم خوځي په خوځښت شوترا نې لیکـــــی
وینه ترې بهیـــږي دسرووینـــو پیما نـــې لیکې

ورا نې شوې کوڅې دمظلوما نـــې خونې رنګې شـــوې
دغوکنـــډوا لـــو نه دیتـــیم کوکې نا رې لیکـــې

هره خوا بریدونه دې جنګونـــه دې مرګـــونه دې
جنګ لیکي وژل لیکـــي بریدونـــه ا رحمل لیکـــې

کوم ظلم به‌ولیکـــي نـــړې ظلم پـــه مخه‌کـــړه
نوک دقلم چـــووې چـــې دظلـــم ا فسا نې لیکـــې

څومره میندې بورې شولې څومره‌خوندې ورا رې شـــوې
څنګه به‌توا نیږي چې دا ستـــړې حا دیشـــې لیکـــې

ګوټ په ګوټ نـــړې کې مسلما ن سوځي ا ورونوکـــې
لیکي دبا رو دودا ورونوســـرې لمبـــې لیکـــې

لږیو ښکیلاکونوپه بیوزلوجنګ تپلـــــی دی
څوپـــوری به جنګ وی څوبــــه دا قلم جګړی لیکـــی

وینی دی روانی دریا بونه تری جورشـــــوی دی
ځکه می قلم ټولی کیسی په وینوســـری لیکـــی

سره پوځونه مات شـــول دموږ منو پــرکنوله خوا
هرقلم چی خوځــی نوننګونـــه حماسی لیکــــی

ژاړی (حنیفی) دمسلمان په حال په کــړیکـــودی
وائی لویــه خـــدایه ! څوبه ځما قلم ګیلی لیکی

۱۳۶۹/۷/۱ هـ ش دهجرت جونکره

غلام د ستا

خوک چې وا وري خوږ شيرين کلام د ستا
شي بيزار له بلې خوا په نام د ستا

کله کله چې نظر وکړم خپل حال ته
وايم کاشکې وي نوکر غلام د ستا

خبر نيمه په شام او په سبا زه
ميني هير کړ لما صبح او شام د ستا

سر نګون له غمه پروت يم په بستر کې
زه رنځور ردعمر کړم ګلفام د ستا

هسې مست يم لکه مست چې خوک شراب کړي
چې مې نوش کړيو د مينې جام د ستا

حنيفي له همد وا ړولاس په سر يم
چې مې وليده په نازيو ګام د ستا

کابل: ۱۳۵۲

زما گرانه هیواده!

ځما گرانه هیواده! سلامونه درلیږم
په ښوهیلو پوسلی پیغامونه درلیږم

سلام می په هرآن شه ستا په دښتوپه سیندونو
سکون ځما دزړه ئی تیریا دونه درلیږم

کمون خزان کړی د بار وتوپه لمبو
دگلوگل دستوکی بهارونه درلیږم

دسروو ینولښتی دی چی بهیږی ستا سینه کی
ځما وینه درنه ځارشه یکجا مونه درلیږم

تیا رودوحشتونو دی فضا کښی خره پره
دیوی می بلی کړی مشالونه درلیږم

ورمات به سره بوتان کړم په الحاد به مورکړم پوره
هیواده! ستا حرم ته تاړاکونه درلیږم

موجونه ئی کړه پیل دشهیدوینی په جوش شـــوی
تری جوړبه رودنیل شی توپانونــــه درلیـــــږم

دالوئی قافلـــی به ستاولورتـــه درخوځیـــږی
دهجردنیاگـــی نه کاروانـــونـــه درلیـــږم

دستاپه دنگوغـــروبه آزادی ډیـــوی بلیـــږی
کڼن وی که سباوی ځراغونه درلیـــــــږم

هیواده! خومره‌گرا ن اوخومره خوږئی (حنیفی)تـــه
ژړیږم په فراق دی فریادونـــه درلیـــږم

دهجرت جونگړه (کـــور)   ۱۳۶۹/۷/۲۷
پیښور

یتیم ته

دا ستا وروورو سلګو ته سلام
یتیمه ا ستا کوکو ناروته سلام

یو دی دسوی زړه له آه نه لوګی
بل دی چا ودلو لو څو پښو ته سلام

چی تړمی اوښکی دی ګریوان ته درومی
دا ستا دا وښکو قافلو ته سلام

دا سپیره مخ اوببر سردی ځا رشم
ستا په لمبو سویو اسروته سلام

چی آرزوګانی دی لمبه لمبه شوی
ستا دما شوم زړګی آرزوته سلا م

چی دخپل پلار په مزار کړیکی وهی
ستا دا ماتم ویر غلبلو ته سلام

په وړکوتو الی چی بی پلاره شولی
ستا دا بیوزله ورځو شپو ته سلا م

تهچې دپلارفـــرا ق ا يـره ا يـره كـــړې
ستا خـــا ورې شـويـــو ا ميـــدوتـــه ســـلام

چې بې ا ســرې بې سرپرســـته شـولـــــــې
ستا بې كســـې ا وحــــــســرتــــو تـــــه ســـلا م

چې دنيستې تـــو پـــا ن پــــه مخــــه كـــړلې
ســـتا دا لـــــو ځ ســـر ځيـــرې جا موته سـلا م

چـــې دكـــړا وژرنـــــدې ميـــده ميده كـــړې
(حنيفـی) وا ئې ستا دردوتـــــه ســــــلام

۱۳۶۹/۷/۲۰ هـ ش كمپ با غوا نا ن
پيسا و پيښور

شکوه او حکایت

دا وحشت دا وحشتونه
دا یرغل دا یرغلونه

چی مظلوم په کی کړیږی
دا تورتم دا تورتمونه

دا سپیره سپیره باډونه
دا سیلی سختی توپانونه

چی یتیم په کی لړزیږی
دا دلی دلی غمونه

دا دسوی زړه آهونه
دا ناخوالی دا ظلمونه

چی انسان په کی سلگی کړی
دڅرخی پله زندانونه

دڅرخی پله زندانونه
دول دول شلاقونه

چې زغملی ئې څوک نه شی
دبندیانو کړاوونه

دغه دولس تیبر کلونه
دوحشی کمون تپانگونه

څومره وران څومره ويجاړ شول
دا خاورين خاورين كورونه

دپكتيا دغرو سرونه
كندهار ښكلي باغونه

په لمبو كې لولپه شول
ګل غوغنډۍ تنكي ګلونه

دا ساړه آهونه
دا دكوندو آوازونه

څوك ئې ناوري په غوږونو
دا دبوروپريادونه

دا په وينو سره لاښونه
دا دوخت سپيره تهانګونه

انسان څنګه ژوندي پاځي
څومره سختې ئې شو لهزړونه

دا دشوبلو تاړاكونه
دا تش لاسي غورځنګونه

څه ځوانان وينوكې سره شول
دا له تنه بيل سرونه

دا درانه درانه توپونه
دا درجن درجن جازونه

څه زلمي ئې شهيدان كړل
تله وينو ډك رودونه

دا په هر کورکې ویرونه
ژبغړاندی امیدونه

څنګه وسول په لمبوکی
تاریخی زاړه دودونه

دا نیمګړی ارمانونه
دا سپیره سپیره مخونه

دمظلوموا فغانانو
په نصیب شول غمونه

تیرشو تیرشو دیر ګلونه
دوام دا رشول شبخونونه

(حنیفی) زړه به دې وچوی
بس دی بند کړه نورشعرونه

۱۳۶۸/۹/۲۱ هـ ش

چرات دجمعیت طلبه دفتر

دغسی ښه یم

په اورسو ځم دهجران دغسی ښه یم
په ژړا یم هرزمان دغسی ښه یم

چی می مینی دخو بانو ته نظروو
که می پاره شی گریوان دغسی ښه ینم

چی می شپی ورځی خوښی کی تیرولی
خودپه گرزم سرگردان دغسی ښه یم

چی دیدن به می کاوه دخپل جانان
اوس جدا په ډیر ارمان دغسی ښه یم

چی به ماورته کتل یار به خندا کړه
اوس شړلی په گریان دغسی ښه یم

۱۳۵۲ هـ ش گردیز

د مجاهد غږ

ځما وطنه ستا له دنګو غرونه‌لوګی
ستا په سینه‌کی دجهاد ګرمومرچو نه‌لوګی

سنګرسنګرئی ددښمن خونه دی ورانه کړله
ستا دپا میرا وهندوکش له‌کړنګو نه لوګی

دا لحا دجرړی دی خنثی کړی (احمدشاه)وطنه
په‌شهیدانوښا ئسته ستا هدیرو نه لوګی

چی ستا په‌غیږکی می خوبونه دغرمی کوله
اوس دی دښمن سره په جنګکی له غرمونه‌لوګی

په‌هردیارکی دی میشته دی موږ منان وطنه
ستا دموږ منوپرکنو له حوطلو نه لوګی

دتن په‌وینوبه‌تا زه‌کړم ستا خزان کلبونه
که‌شم کباب په سرو لمبوهغو لمبونه لوګی

ریښتونی زوی دی یم وطنه قربانی می ګوره
مینه‌دی برخه‌دا یمان ده ستا درونه لوګی

که سی می بخی په ځګر کی دبمونو چری
ستا محبت کی ددښمن دبم جرونه لوګی

کەشم توتە توتەوطنـــە هیڅ پــروا مـــی نشتـــە
خوستا دمینی لەجزبوا وولـولــو نــە لــوکـــی

کەمی بدن تیکە تیکە شی ددښمن پـــە چـــړو
ستا مقابلکی ددښمـــن تیــرو چړو نـــەلــوکـــی

کەدځرخی پلە زولنی مـــبی لاس او پیښـــی ما تـــوی
دومره مین یم چی لەهغـو زو لنونەلـــوکـــی

کەغرغـــره می کړی پە دا رځـــوک د (منصور) پەرنګی
ستا پەا ړوندلە هغـە دا را وغـرغـرونە لوکـــی

پەغلیما نوبەدی میـنـدی بـوروم وطنـــــــــە
ستا لە دا ورا نوجوما تـــو نـــوا وحجـــرونە لوکـــی

نکړم خوبونەځومی ستا دښمن: ځپلـــــی نـــوی
ستا د (کـوکچـی) او د (هلمند) یخوا وبونە لوکـــی

چی صفتونـــە دسنکرا ودغا زیا نـــو کـــــوی
د(حنیفی) لە دا خوږوخوږوبیتـــو نـــە لـــوکـــی

۱۴/۱۲/۱۳۶۸ هـ ش دهجرت جونګره

آزادی ته

ترخی ترخی شپی تیروم ستا درا تلوپه تمه
دکمون جر ړی پری کوم ستا درا تلوپه تمه
دوروروپه وینه تودسنگرپه خپله وینه سا تم
دځگروینه ورکوم ستا درا تلوپه تمه

دا دولس کاله دول دول کړاوړنه گوره
پدی بهیرکی عزاب څه شها دتونه گوره
کلی با ندی می شولی ورانی ستا په تمه باندی
دآزادی شمعی بلیږه زندا نونه گوره

جنک اوجگړی می له دښمن سره دپټکولی
په سرولښکرومی حملی په مطانټ کولی
دغلامی ځنځیرمی غوڅ که دایمان په توره
دجنگ مرچلوکی می شپی په صدا قت کولی

اوس تورتمونه کړه روښانه خپلووړانکو باندی
دیوی کړه بلی په قبرودشهیدا نوبا ندی
دوراروبو رو پکریوان روانی اوښکی گوره
لاس دتښل کیږده په سردیتیما نوبا ندی

د (حنیفی) په کران وطن کی ولولی جوړوه
په مسلما نوپرکنوکی حماسی جوړوه
آزا دیه سرکښړه را وچت دلمرخا ته لهلوری
دا بدا لی په مینه شپی وکړه میلی جوړوه

با غوانا ن ۱۳۶۹/۳/۹ ه ش

شهیدان هیروی ولی؟

کورپه کورکلی پهکلی یتیمان هیروی ولی ؟
دا پهسرووینوکی لت پت شهیدان هیروی ولی ؟

کانړی بوټی دوطن دی پهسرووینورنګینه شول
شنی تپی پهلمبوسوی دپغمان هیروی ولی؟

راتهښکاری چی دنګ غرونه دوطن درنههیرشوی
لوړی څوکی دپامیرا ودواخان هیروی ولی؟

ټول وطن ئی درتهورا نکهدا لحا دوحشی لښکرو
وحشتونهدرنههیرشول سرهروسان هیروی ولی ؟

غرونه دښتی اومیری ئی پهمینونودرتهفرش کړی
پهمیرا ث لهروس نهپاتهارمغان هیروی ولی ؟

چی یونیم ملیون ځوانان دی لهاسلامه قربانیشول
دا له دینهلها سلامه قربانیان هیروی ولی؟

دا نکوندوبوررووورا روفریا دونهولی ناوری
دا په ترمو ترمواوښکولوندګریوان هیروی ولی ؟

هدیـری شوی درتـه جوړی لـه سپیڅلـــو شهیـدا نـو
تـری تـم درنـه‌ورک شوی ا تلان هیـــروی ولــــی ؟

چی ویا لـی دی را روا نـی لـه‌هرکوره‌دسرووینـــو
تـری جوړشوی دا دوینورودروا ن هیـــروی ولــی ؟

څومره پیغلـی دوطن دی حسرتونوســــــره لاړ ی
دغه‌رنگی نیمه‌خوا تللی ځوا نا ن هیـــروی ولــی ؟

دملت په‌حا ل خبرشه‌دسره‌ا ورپه‌مینځ کی ژوندکـړ ی
دهجرت په دنیا گــی‌کی ا فغا نا ن هیـــروی ولــی ؟

ستا بهیردرومی خوځیـــږی دهدف لورتـــه‌روا ن دی
دا په څه‌شوی پټی سترگی داکا روا ن هیـــروی ولــی؟

حنیفی درته‌گویا ن دی دبلبـــل په ژبـــه‌وا و ره
دا پټمن ا وننکیا لـــی ا فغا نستا ن هیـــروی ولی؟

۱۳۶۸/۱۲/۵ هـ ش جها دکلـی

د هري ټولو باڼدوکی

په هری کی ویرژړا وه، چی دوهمه کربلا وه
څومره وینی وی روانی، څه د ظلم انتها وه
دآسمان لمنی سری وی، ځای په ځای ناری سوری وی
هرسړي وینوکی رنګ وو، وحشتونو نظاری وی

په هرات کی توره شپه وه، څومره ستره سانحه وه
زښت زیات خلک شهیدان شول، څه دغم پیښه قصه وه

سری ګولی را وریدلی، هرخوا ویی بهیدلی
ټول هرات کی جوړ ماتم وو، بوری میندی ژړیدلی

توری وریځی را خپری شوی، آرزوګانی هیلی مړی شوی
خوشالیو کډی وکړی، دغم ویړی بستری شوی

کور په کور د ښار کوڅو کی، دهری ټولو باڼدوکی
هرموء من په غم اخته وو، دهرات دښتو میروکی

په هرات کی ویر او غم وو، هره خوا ژړا ماتم وو
تړمی تړمی اوښکی تللی، هرسړی سترګو کی نم وو

خزا ن توی کړلدګلونه ، نیمه‌خوا شول اُ میدوه
ن نه‌دولسکا له‌وړا ندی تا ړا ک وځپله زړونه

په‌وحشت یکه‌فضا وه ، په هرا ت‌کی ویر ژ ړاو ه
څومره میندی شولی بوری ، په‌هرکورکی وا ویلاو ه

را خپری توری تیا ری شوی ، په‌هرا ت می زلزلی‌شوی
روستنی ا ونی دکب وه ، چی له‌روس نه‌پری‌حملی شوی

څه‌دوینو رودروا نوو، په‌ژړا ځمکه‌آ سما ن و و
دهرلوری دې وې مړې وې ، ز لزلی سره‌توپا ن و و

په‌زرکونوشهیدا ن وو ، په‌هرکورکی ها ی فغا ن و و
(حنیفی) له غمه‌نه‌مړ ،چی ورا ن شوی خرا سا ن و و

۱۳۶۸/۱۲/۱۵ هـ ش پیسور

سرښکته سرنګون دی

بېدینۍ تېغرتهولیږی دا لحا دزړه پهچا و دوندی
سوروحشت بهرا پورزیږی ورتهشوی لوی ترون دی

افغانانولههمت نه د(لینن) فارمول خنثی شو
فلسفه ئی شوهمردودهرا دبرهستربدلون دی

سرهښکیلاک زا مه کړه ماته د(میرویس)ځیګهلمسیانو
استعمارکړی شوی غوڅیکورورا نشوی دکمون دی

دغرورلهتختهپریویست افغانی مجاهدینو
سورما دی ځوا ک افغانانوتهسرښکتهسرنګون دی

سرهپوځونهپهګوندوشول دموۍ من ولس پهوړاندی
آریانا په سردروکی بریالی اسلامی یون دی

توری شپی بهرون سحرشی کهدلوی الله (ج)رضاوه
دسبا سترکه راخیژی دا شمال دسبا وون دی

کوټ په‌کوټ ټوله نړی کی ولسونه‌پا ریدلی
دطا غوت خونه‌ورا نیڕی لورترلورشوی پا ځون دی

دا نهضت دا فغانا نوبه‌ورمیږدکمون ماتکړی
درومی درومی وړا ندی درومی پوری‌وتی‌له‌جیحون دی

دآسیا دزړه‌له‌تل نه‌ستربهیردی خوځیدلی
دموږ من ملت خوځښت دی کمون ګډه جګرخون دی

دا لحا دبټ را نسکورکړد (محمود) نکورزمریانو
(حنیفی) دا ستا دشعرګډه‌خوږشرین مضمون دی

۱۹/۱۲/ ۱۳۶۸ ه ش جها دکلی

رانه لاړ

له غمو ئی په ګریان کړم رانه ولاړ
له ژړائی تر ګریوان کړم رانه ولاړ

چې مین ئی کړم نظرئی په مانو سک
نیران کړم رانه ولاړ

ګرفتار ئی کړم په سترګو جادوګرو
دبدن ئی په سوزان کړم رانه ولاړ

یوستی لکه پتنګ په سرو لمبو شوم
بل رسوائی په جهان کړم رانه ولاړ

خدایه ! څنګه بی وفامی په نصیب شو
زیی دخپل ژوند په ارمان کړم رانه ولاړ

(حنیفی) نه بی جفا وی هیری نه شی
زی په لاره کی حیران کړم رانه ولاړ

۱۳۵۳ هـ ش لوګر

هغه وعدی دې څه شوی؟

هغه احساس او هغه درک هغه جزبی دی څه شوی ؟
هغه دردونه درسره هغه غوسی دی څه شوی ؟

چې شپه او ورځ دی په دښمن باندی بریدونه کول
هغه تودی تودی دننګ ډکی حملی دی څه شوی؟

چې یرغلګرو سرورو سانو ته دی ماته ورکړه
اتل ولی مجاهدتا و حماسی دی څه شوی؟

چې خوبولی ولسونه دی له خوبه ویښ کړه
راپارونکی خوځونکی ولوولی دی څه شوی ؟

چې دیتیم په حال دی ورځ په ورځ په چیغو ژړل
هغه له سترګو سرخونا با وښکی ویالی دی څه شوی؟

چې دې ملت سره لوظونه او وعدی کولی
هغه دستور هغه وصیتاو قوماندی دی څه شوی ؟

په ګردی میزچې له دښمن سره پلانونه تړی
آدافراط له زوره ډکی پټکی دی څه شوی ؟

چې ته له خپل مسیرنه کوږ شوی دغلیم په لیکه
دملت سوال ته ځواب ورکړه فیصلی دی څه شوی ؟

د"حنیفی"دحسرتونو کوردی ړنګ او بنګ کړ
هغه جزابی زړه راښکونکی بیانیی دی څه شوی؟

۱۳۶۸/۱۲/۲۳ هـ ش دجمعیت طلبه دفتر

څه د ظلم پیلامه وه

دا د شورکودتـــا وه ، که دوهمه کربـــــلاوه
چمچه مست د کوولـه وینو ، څه د ظلم انتهـــاوه

دا سما ن لمنې سرې وې ،څه د غم نارې سورې وې
هرسړی وینوکی رنگ و ،وحشتونونــــظارې وې

دا د شورفاجعه وه ،څومره ستره سانحـــه وه
ازادی شمعه ئې مړه کړه ،څه د ظلم پیلامـــه وه

سری گولی را وریدلې ،هرخوا وینی بهیدلـــې
په کابل کې جوړ ماتم وو ،بورې میندې ژړیدلـې

تورې وریځې را خپرې شوې ارزوگانې هیلې مړې شوې
خوشالیو کډې وکړې ،د غم ویرې بسترې شـــوې

د ننگو د ننگو غرو سروکې ،د پغمان ښکلو تپوکـــې
بلبلان په غم اخته شول ،هندوکش په گړنگوکـــې

غم د غم د پاسه غم وه ،کورپه کورویرا وماتـــم وه
ترمې ترمې اوښکې تللې ،هرسړی سترکوکی نم وه

خزان توی گړله گلونه ،نیمه خوا شول امیدونـــه
نن نه دولس کالـه وړاندی ، تا ړاک وځپله زړونـه

دا د شورکودتا وه ،چا ستون کې ویـــرژړا وه
ازادی طوطی بندی شو ،دبلبلو ویـــلاوه

را خپری تورې تیارې شوې ،خپلوا کیو دیوې مړې شوې
(حنیفی) حونه شوه وړانه ،په وطن ئې زلزلې شوې

دفتر طلبه دجمعیت چرات ش هـ ۱۳۶۸/۹/۲۳

راباندی وژړل

زه چی آواره شولم جهان راباندی وژړل
دومره ډیر مظلوم سوم چی آسمان راباندی وژړل

ځکه چی په‌کورمی ستر یاغی فوت راودانکل
غرونه په ژړا شوله‌داما ن راباندی وژړل

زه خو ډیر غریب وم ورک له کوره‌په ډوډی پسی
جنگ ته‌چی مجبور شوم زوړ اوځوان راباندی وژړل

وینی می شوی تویی‌دوطن په‌دښتو غرونوکی
وی ټوکل کلونه بیابان راباندی وژړل

کورمی‌چی تلا ولا دوخت وحشی لښکروکه
ښودیوا لونوکی نالان راباندی وژړل

زه ئی چی زندان ته‌قتل گاته ورروان کړمه
پهپه چوپه‌خوله باندی زندان راباندی وژړل

ځنگه به څوک نه ژاړی دظلم انتها گوره
هر احساس لرونکی آن په آن راباندی وژړل

وسوی غـزرنی له‌قلم د (حنیفی) ځنی
نرک دقلم وچاو دقلمدان راباندی وژړل

۲۰ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش باغبانان پیښور

والله چې مینې دی همت د ابدالي راکړی

وطن ستا ښکلو د روښکلو ورشو ته سلام
ستا د ننګ غرو ښکلو لاښو پلنو میرو ته سلام
د سرپه بیه به لتا نه دښمنان شرمه
ستا د پامیرا وهندوکش لوړو سرو ته سلام

تا دی روزلی خپله غیږکی اتلان وطنه
د احمدشاه "ا و "غزنوي" په خیرځوانان وطنه
ځما وطنه ستا سینه کی عظمتونه وینم
تا پرزولی همیشه خپل دښمنان وطنه

د مسلمانو پر کنو د همتونو کورئی
د سیال دا ریو د ننګو نو غیرتونو کورئی
تا ته کوی سوراستعمار د عظمتونو سجدی
ته د ځوانو غورځنګونو نهضتونو کورئی

تا دوحشت خونه کړه ورانه د همت په توره
تا دکمونزامه کړه ماته دوحدت په توره
تا په کوندو که دبی پته کمونیزم
دسره ښکبلاک مری دی بری کړه دعظمت په توره

تا نه‌زا رشوی په لکونوا فغانا ن په مینه
لاهم زا ریږی ورته‌گو ره شا زلمیا ن په‌مینه
یوشهیدیږی بل وردرومی شها دت په طرف
پروا نه‌گوره ځنکه ځرخي دنیرا ن په‌مینه

زه "حنیفی" ستا په‌جونګړه‌کی لوی شوی یمه
خدا ی (ج) گوهیواده‌طوفا نونولړ زولی یمه
والله چی مینی دی همت دا بدا لی راکړی
دوخت ظلمونوستا سینه‌کی په‌ا ورسوی یمه

مه راځه اختره!

مه راځه اختره! دا زمونږ ورانو کورونو ته
نشته خنداګانې خو را غواړي دي غمونو ته

هر کور کې ماتم دی ویر ژړا وي فریادونه دي
څنګه به دې لمانځو کوره جنګ او جهادونو ته

لا پښه را نه لري خنداګانو ته وزګار نيو
ولې را روان شې سرو په وینو سنګرونو ته

کور په کور د وینو سرې ویالې ګوره روانې دي
وګوره د پیغلو په سرو وینو سرو لاسونو ته

مه راځه اختره! دا زخمي زړونه سکني ولې
وګوره د کرونده بوره ورا رود ریا دونه ته

د ولس کاله وشول چې زمونږ وینې روانې دي
وچې نه شوې ګوره تري روانو سیلابونو ته

څومره د ظالمي ورک شول څومره د پیغلې نیمه خوا شولي
ای دښمنه څنګه الر خو وګوره ظلمونو ته

څو مره مدرسي او جوما تونه موروس وران کـــړله
ورشه ورته ګوره زمونږ ورانو جوما تونو تــــه

زمونږ دينيما نوتړمی ا وښکی څی روا نــی دی
وګوره ا ختره! دا دا وښکو دريا بـونـــوتــــه

کډی شولی وينی تړموا وښکولدريا بـســـــره
زيری دحريت دی دا بيوزله ولسونـــوتـــه

وينی بـه کړی بلی نن سبا دا زا دی دیـــــوی
ای ا ختره! تم شه انتظا روکړه وختونوتـــه

درومی(حنيفی) دا قا فله به خپل هدف ته ځـــی
نه ګوری دهيچا خندا کا نوا وويرونــــوتـــه

۱۳۶۸/۱۱/۲۵ هـ ش با غوا نا ن

مسلمانه ولی؟

په‌پلورل شویوپسی لاړی مسلما نـــه‌ولـــی ؟
په‌ا رتدا دکی خیرغوا ړی ،سلما نــــه‌ولـــی ؟
دحنیفی مذهب سپیڅلی اژردی خوشی کړلـــــه
ددنک ګرنک په‌سرولاړی، مسلما نـــه‌ولـــی ؟

له‌مقدسی‌لاری کوږسوی ضلالت په لیکـــــــه
مذهب‌دی‌پریښودشوی‌روا ن دوها بیت په لیکه
په‌حق دی سترګی شولی پټی دبا طل ملګـــری
موږ من ا فغا ن وی‌اوس دی وینم‌شرارت په‌لیکه

ته‌دچمن تکل کوی خوشی بیا با ن ته‌درومـــی
دجنت‌لاری لټوی څیرشه‌نیرا ن ته‌درومـــــی
حق درته‌ښکا ری سری سکروټی دغلیم‌په‌ژبـــه
سترګی کړه‌لوڅی بیخبره‌ئی زندا ن ته‌درومی

له‌نا جیه‌فرقی بهرشوی بی همته ځلـــــه؟
دحق له‌دلی مرورشوی بی همتـــه ځلــــه؟
دمسلما نوپه‌ټولنه‌کی فتنی جـــــو ړ وی
ما ړدلسونی سدسرشوی بی همتـــه ځلـه؟

دحق لەکربشی منحرف شوی دلوتونو پە لـور
دوها بی(جمیل را مان) دنیرنگونو پـەلـور
کوردی خراب بیږی دوبەشوه خبرشەپـە ځـان
پلوری ایمان دروەی روا ن ئی کنړونوپـەلـور

د(حنیفی)ا فغانستا ن کی دی ماء وا نەوینـم
توری تیا ری دی دی پەمخ درتەرنها نەوینـم
هسی فتنی را جوړوی ځما دملت پـەلـوری
مینځ دا حنا فوکی دی ژوند،پا تە،بقا نەوینم

۱۳۶۹/۱/۲ هـ ش جها دکلی

دی موجونو سره څه وکړو

خدایه له دی ستونزو کړاونو سره څه وکړو
ستا په دی جهان کی دی غمونو سره څه وکړو

شپه چی سباکیږی نوی نوی نتنی سرباسی
موج وهی فتنی دی موجونو سره څه وکړو

خلک پاسبانی دځلالت او بدعتونو کړی
مونږ دی ضلالت او بدعتونو سره څه وکړو

ستا د دین په لارکی خدایه خلک راته خندی شوله
دیرورځنی تنګ سودی خندونو سره څه وکړو

نوی نوی لاری ئی په دینکی راپیدا کړلی
دی اغواکونکو فریبونو سره څه وکړو

نوی مسلکونه‌را پیداشول داسلام په نـــــــــوم
کـړوټـی په زړادی مسلکونو سره خه وکـــــړو

ځوک شوه وها بـــی ، ځوک مودودی،ځوک پنجپیری شولـه
اور دضـلال بـل دی دی اورونوسره ځه وکــــړو

ستا په‌خـوږ اسلام باندی لـه هرپلوه برید شــــــوی
کوم یو برید به شنـه‌کړو دی بریدو نوسره‌څه‌وکړو

بـل طرف موکورکـی دنفاق (زقوم) ریښـی کــــــړی
وائـــی (حنیفـــی)دومره‌گوندونوسره څه وکــــــړو

ته راســره مل شې هول مشکل راته آسانه کـــــړی
مونږه یو عاجـز دی گړنگونو سـره څـه وکــــړو

۲۵ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش

دهجـرت جونگړه پیښـور

اسلامي ترانه

دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دا اسلامي سترنهضت، جوړ شوله مؤمن ملت، جوړ شوله مؤمن ملت
تيرچي له بچوله مال اوسردا ولګان دي
دا مجاهدان دي دا مجدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجدان
ويښ ئي ملتونه کړل، جوړ ئي غورځنګونه کړل، جوړ ئي غورځنګونه کړل
تللي اسمانونو ئي دتکبيرترکهکشان دي
دا مجاهدان دي دا مجدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دا سلامي مينه ده، خوندلري شرينه ده، خوندلري شرينه ده
دا چي په لکونوله اسلام ځني قربان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
مات ئي سرد پوځونه کړل، ويښ ئي ولسونه کړل، ويښ ئي ولسونه کړل
ديرئي پېغورې کې شرمولي کافران دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان

غوا ړي اسلامي نظام ،نه مني دهري نظام ،نه مني دهري نظام
ځي دجنګ ډګرته نوميالي قهرمانان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
کفرا وتورتم سره ،هرباطل ستم سره ،هرباطل ستم سره
کړي به جهاد ونه با همت افغانان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دا د (غزنوي) بچيان ،دا دابدالي بچيان دا دابدالي بچيان
دا د (حنيفي) دسترهدف برادران دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان
دروميي سنګرونوته په مينه ځي روان دي
دا مجاهدان دي دا مجاهدان

۱۳۶۸/۱۰/۲۹ هـ ش جهاد کلي

هلته دلته

هلته ماتم هلته ژړا وخوړم
دلته کټ کټ دنا ز خندا وخوړم

هلته دسرووینو لښتی بهیږی
دلته مزو دلته جفا وخوړم

دلته لګیادی ښی بنګلی جوړه وی
هلته می ورا نوطن بیا بیا وخوړم

هلته یتیم په کړیکو کړیکو ژاړی
دلته سیلونو تماشا وخوړم

دلته آرام آسوده ژوندته ګوری
هلته دتوپ او ټانګ درزا وخوړم

هلته انسان په سرو لمبوکی سوزی
دلته جیفانو تویتا وخوړم

دلته لوټونوسره لوبی کیږی
هلته دکوندو واویلا وخوړم

هلته په وینو غرونه بوټی سره شول
دلته دغدر انتها وخوړم

دلته په ژوند زمونږه لوبی کوی
هلته دویمی کربلا وخوړم

هلته کورونه شول له سیلمی میراث
دلته زمونږ په سر سودا وخوړم

دلته نفاق له خپله حده تیر شو
هلته دبور وویر غوغا وخوړم

هلته دپیغلو هیلی خاوری شولی
دلته رندانو بی حیا وخوړم

دلته خیانت کوری موجونه وهی
هلته تور تم په آریانا وخوړم

یو (حنیفی) دخلکو زړونه چیړی
بل ئی ترخی ترخی وینا وخوړم

۹ / ۸ / ۱۳۶۹ هـ ش جهاد ګلی پبی پیښور

نه مي زړه ځني صبريږي

نن مي زړه دمديني په طرف کيږي
هغه لوړي مناري مي بيا يا ديږي

يا مرغه واى چي الوتى په هوا واى
له غمو نو مي زړگي پسي ځوريږي

اى نسيمه يا رته وايه سلامو نه
چي دا خوارمين دغم په اورسوځيږي

نه قدرت نه مي طاقت شته نه ورتلاى شم
نه دولت شته نه ديدن راته رسيږي

ځما حال له جدائي ځني خراب دى
نه وصال شته نه مي زړه ځني صبريږي

(حنيفى) به تشنه لب له دنيا ځه
په زړگي مي د مرگي شمال وريږي

۱۳۵۲ هـ ش لوگر

څو به ګونګی یم؟

څوبه‌نا ست یم پته‌خوله‌څوبه‌ګونګی یم
څوبه‌بت غوندی بی غږه‌تش لرګی‌یم
نیت می کړی نوربه سپین درته ویل کړم
څوبه ستا خوښی دپاره وړین تندی یم

څوبه‌ستا خاطردپاره ضمیروژنم
څوبه تا نه نظروچا وسپیلنی یم

ما خوستا دپاره دیرڅه په ځان تیرکړل
مګرستا په‌وړاندی تش په‌نوم سړی یم

ستا له لاسه‌می سری وینی هدر دروی
واوره زه دبت‌شکن محمودلسمی یم

ما خوفتحه درته‌را وړه له سنګرنه
ته‌تیرنه‌شولی له خپل شخصی نظرنه

* * *

ما خووګالل بی شمیره کړا وونه
مات را مات می کړه دروس وحشی پوځونه

ستا په‌ویل اوقوماندی می وینه ورکړه
ورځ تربلی می تا وده کړه سنګرونه

ستا ویل ځما لبیک ځواب وو
پدی لرکی می زغملی تکلیفونه

کورمی دک دی له بیوز له یتیمانجو
په ژرا ژرا کری پلارته ا وا زونه

هره‌خوا دبو رو ورا رو چیغی ا ورم
له‌چشما نوئی راخی ا وبکی رودونه

تیرشوم تیرشوم زه له ما لدا وله سرنه
ته‌تیرنه‌شولی له خپل شخصی نظرنه

* * *

ما ویل ته‌به‌خما په غم غمجن ئی
ته‌به‌خما په‌کرا وونوکرا ومن ئی

خما تترپه وینو رنگ زره می پاره‌دی
ما وی ته‌به‌را سره په‌زره دردمن ئی

خما دتن په وینو هره تیره سره‌شوه
خدای خبرچی ته لاخه ته‌هیله من ئی

کورمی ورا ن کلی می گد جوما ت می‌وران‌شو
ته‌خندیری خوش‌خندا ن په هر وطن ئی

حنیفی به‌ستا له کرونه‌لیونی شی
ته‌ورگد دزیروگلوپه چمن ئی

زره‌می چوی ددی دهرله هنرنه
ته‌تیرنه‌شولی له خپل شخصی نظرنه

جها دکلی ۱۳۶۹/۴/۱۸ ه ش

د وینی نذرانه

زه دجها نیا نونا کردوکړم دیوانه
غواړی چی می وتړی ولچکا و ز و لانه

وخت په وخت جوړیږی را ته خلکه دسیسی نوی
څوک می زبیښی وینه څوک می پلوری رندانه

چا می په گریوا ن کی دغرض لاس را بندکړی دی
څوک بیا را ته بولی دښکیلو نوترانه

یوخوا فتنگرو دفتنوجا ل غو ړولی د ی
بلخوا می پوره نده دوینی نذرانه

یوپلومی کورنه دوحدت جنا زه با رشوله
بل پلورا خوشی شول لاسونه بیگانه

تولوجلادا نومی دمرگ فیصله کړی ده
لا س دمرستی را کړی بی غرضه دوستانه

ما په هر ډګرکې دطا غوت خونه خرا بــه کــړه
هروخت جنګیدلی یم په نــره مردا نــه

خپل جنګ ا وجها دبـه ترهغه پوری جاری ساتم
څوچی لـه ا لـحا ده پا کــه نکــړم آ ســتا نـه

زه دمیړنی مرویــس نیکـه پــه تـغرنا ست یمـه
سا تم خپلـه مینه دمولاپــه یــا را نــه

زه لـه (حنیفی) سره ا وږه پرا وږه تلــه کــو م
دا نګوبـه لمبوتـه پتنګ وا را وپــر وا نــه

۱۳۶۹/۴/۱۴ هـ ش چرا ت

مناجات

ربه غواړمه غفران ستا له درباره
اميدواريم هر زمان ستا له درباره

گناهونه مې بې شميره دي خاونده
عفوه غواړم دعصيان ستا له درباره

دغفلت په خوب ويده يم پاکه ربه
بيداري غواړم دځان ستا له درباره

نيک عمل نه لرم وړاندې وارختا يم
عمل غواړم په قرآن ستا له درباره

دالعين مې بدو لارو لره بولي
خلاصون غواړم دشيطان ستا له درباره

حنيفي يمه رنځور په گناهونو
دمرض غواړم درمان ستا له درباره

زړه ته

ځما زړګیه! هوسونه پرېږده
دا د مزونشو خوندونه پرېږده
ستا دخوبونو په چمن اورشو پوری
پرېږده زړګوټی دا خوبونه پرېږده

ستا د هوس خونه ویجاړه وینم
دا ستا خوښی په غم لتاړه وینم
چې وی پرې خوښ هغه جونګړه نشته
درنسره غم غاړه په غاړه وینم

اوس به دردېږې په دردونو باندې
د خپل ولس په کړاوونو باندې
ستا له ټاټوبی لېږ دېدلی خوښي
دا وره لمبه شه په غمونو باندې

څومره ساده ئې وه زړګیه! ځما
اوس هم غولېږې لېونیه! ځما
درسره ښائی چې کړم کړم شی
ته روغ رمټ ئې نازولیه! ځما

د حنیفی زړه اورېدل نکوی
خبرې اوری خو منل نکوی
وطن دی وران که د کمون بریدونو
منمه دا چې ته زخمی ئې خوژړل نکوی

باغوانان ۱۳۶۹/۵/۱۱ ه ش

دیتیم آه نه به جوڕ درته توپان شی

دا سی وخت شوچی غدا رغندلـــی نشــــم
سپین تەسپین ا وتورتەتورویلـــی نشــم
بنەپوهیرم چی بەژبەرا نە پــری شــــی
خدا ی کوورونو دا سی کــڕه زغملـی نشـم

څما دزغم کا سه لبریز شوه را خــوخبــری
دقلم څوکەمی نوره نه دیـــل کیـــری
ځکەغدردنهضت متی کـڕی خـــو څــــی
چی همت ویده کوم نــەویــدە کیـــری

کەمی کوتی را نەپری ا وســرقلـم شـــی
کەمی هد میده میده مرگ پدی دم شـــی
بیا بەهم خا ینەسترگی درنــــه با ســـــم
نوربە کلەڅما متی درنه تـم شــــــی

کەمی خدا یءمل وونطفەبــدی خنشـی کـــڕم
دا دغدرفا رمو لـه بـــدی تبــا کـــــڕم
چی ترڅولەغـــدا ری تـــو بـــکا رنشــی
را نەوا ورە پەجهـــا ن بە دی رسواکــر م

دمهجـوروڵس بەلاس ستا بە گریـوا ن شـــی
حنیفیا ن بە درپسی لکـه زمـریا ن شـــی
ا ی ظا هرپەلبا سّ سپین پەا صـل ســوره!
دیتیم آ ه نەبــە جــوڕ درتە طـوفـان شی

دجها دکلی ۱۳۶۹/۴/۲۰ هـ ش

بهاره غوړ شه!

بهاره غوړ شه څما خبره واوره!
دستا راتلو ته لاوزگارنیو
جنگ او جهاد دی ملحدینو سره
ستا هوسونو ته تیارنیو

بهاره غوړشه څما خبره واوره!
غرونه میری دی رنگینه په وینو
چی لاله وی ریدی به څه کومه،
وطن سورگل دی بناٸسته په وینو

بهاره غوړشه څما خبره واوره!
دلته هرگوټ کی شهیدان پراته دی
لما نځلی نشوستا میلی او خوشی
مونږ ته کرم کرم زخمیان پراته دی

بهاره غوړشه څما خبره واوره!
ستا بارانو ته مواړه نشته
څما په هیوادکی دی دوینو باران
دستا گلونو ته مواړه نشته

بها ره‌غوړ شه ځما خبره وا وره !
دشهیدا نو وینو گل تهو کلی
دجها د گرم سنگرونه گوره
دجنگ دگرته مو زلمی وتلی

بها ره‌غوړشه ځما خبره وا وره !
هلته را درومه چی وطن ا زا دشی
بیا (حنیفی) په‌گرا ن وطن دیره‌شه
چی دمرگ کندی ته‌لاهوا لحا د شی

جها دکلی ۱۵/۳/ ۱۳۶۹ هـ ش

افغانستان جوړ وو

دسوکالۍ په لوری ځونوی جهان جوړ وو
په پاکووینودوبا ره افغانستان جوړ وو

دالحادخونه بکړوورا نه دالله په کمک
دهمتونوغیرتونولوی کاروان جوړ وو

دخپلواکۍ په لوری ځووړاندی قدم په قدم
دسره ښکیلاک نابودولوته پلان جوړ وو

دمظلوما وښکی بهکړوپاکی کهموساوی پهتن
سوځودښمن دځمکی سرورتهنیران جوړ وو

کلی پهکلی ښارپهښارمودا ترون کړی دی
هرخوا هرلوری کمونیزم تهزندان جوړ وو

دآریانا لهدنګو غرونه پاریدلی یومونږ
ځوملحدینوتهنړی نهګورستان جوړ وو

سره یرغلګرمولهتا توبی نهپه تیښتهلاړه
پهنوکرانوئی شبخون سیلی توپان جوړ وو

آرام بهنهکووترمرګهدا موهودکړی دی
درون سبا پهلوری درموخراسان جوړ وو

دآزادی بیرغ بهلوړکړودنکوغروپه سرو
افغانستان نهبهدګلوکلستان جوړ وو

د(حنیفی) داګرمی اوښکی هیرولی نشو
استوګنځی نهبی دمینی باغستان جوړ وو

۱۳۶۸/۱۱/۶ هـ ش باغوانان

د پسرلی موسمه!

دپسرلی موسمه‌را غلی خوویرونوسره
دکونډوورا روله‌ژړا ا وفریا دونوسره

را ودی نه‌ټوگل گلان چی زه‌دی ولما نځمه
را ته‌را ستون شوی له‌یووجها ن غمونوسره

په‌با غستا ن می ا ورکه‌پوری دکمون سیلیو
ته‌هم‌را غبرگ شوی له‌سیلیوتوپا نونوسره

په‌لمبوسوی ورشوگا نې دی زرغونې نکړی
زه‌بدی څکړمچې را درومی خزا نونوسره

ستا دولسم‌دورتیریږی په‌ژړا په چیغو
د(غزنوی) په‌مپنه‌تم نشوې گلونو سره

پوره‌دی نکړې دبیوزلوولسونوهیلی
ورا نوجونکړوته‌ستون نه‌شوی نبعمتونوسر ه

کلی په‌کلی کورپه‌کورما تم‌ویرنه‌گو ره
ته‌ورته‌هم را غلی ویرونوتورتمونو سره

دا سی کورنشته‌چې تری وینی بهیدلی نوی
ورځه‌تیریږه‌چی تم نشی تا ړا کونو سره

زړه سوی دی نشته په بیوزله ولسونو باندی
په با ربا رتیرشوی له ظلمونو ستمونو سره

خومره کورونه را ته وران کړله وحشی لښکرو
ته هم پری ورغلی سپیرو سپیرو با دونو سره

دیرما شومان چی شوبی پلاره یتیما ن دوطن
کړی مشغلادخپلو اوښکو سیلابونو سره

دیرا تلان می تری تیم دی خدایزده ځنګه به ګی
لاس او ګریوان به وی خرخی پله عزا بونو سره

ما ویل سرکا ل به دی لما نځم په خوښیو باندی
ته دپخوا په خیربیا را غلی ما تمونو سره

را شه یوځل د (احمدشاه) پرګنی ونازوه
ورته را درومه خندا ګا نوا وخوندونو سره

د (حنیفی) تا توبی ښکل کړه چی را وتوکیږی
دا نتظا رشپی تیروی له کړا وونو سره

۱۳۶۸/۸/۷ هـ ش باغوا نا ن

زما وطنه!

ځما وجوده ځما تنه تا نه زار شم
ځما له ځانه خوږ وطنه تا نه زار شم

ای ځما دستر ګوتور افغانستانه
ځما ځانګو ځما مدفنه تانه ځار شم

زه چې تا یم زیګولی تا روز لی
ځما په وینو رنګ ګفنه تانه زار شم

ستا د روکی دافغان وینی بهیږی
ای د سروګلو ګلشنه تانه زار شم

(حنیفی) ستا ازادی له خدایه غواړی
ځما ازاد روح او بدنه تانه زارشم

۱۳۶۸/۱۰/۱۶ هـ ش
جهاد کلی

د مجاهد آواز

زه د تورو شپو تورو تیارو پسې رڼا یمه
دا نګم سرو لمبو ته پروانه یمه شیدا یمه

زه مؤمن افغان یم د دښمن ریښې به پرې کړمه
اوریمه لمبه یمه ځلیږم سپین سبا یمه

ټول به ئې ټغر کړم د باطل خونه به ورانه کړم
زه د شرق او غرب په شیاطینو بسم الله یمه

سوځمه خوږیږمه دردیږم په مظلوم ولس
زه د هر خوږمن د هر دردمن د درد دوا یمه

پاکه به نړی کړم دالحاد له وحشتونونه
تورو ترګمو پسې له رعد سره برېښنا یمه

خلاص به کړمه خلک ښکیلاک کړو له منګولونه
زیری یم د فتحې آزادۍ د ښې ښکلا یمه

ماتې مې په جنګ کې یرغلګرې سرې لښکرې کړې
نښه د غیرت را څرګند شوی په اسیا یمه

څیرې به کړم خیټه څوک چې ما سره ټهروهی
زه د هر طاغوت د هر جابر مرګ ته پیدا یمه

سپر مې کړه سینه د یرغلګرو سرو مرمیو ته
جوړ یمه له ننګه نهضتونو مقتدا یمه

سا مې که په تن وه د ظالم خونه به ورانه کړم
تندر پر ظالم یم د مظلوم د لاس عصا یمه

غور څه سرو لمبو ته (حنیفی) بیا به ارمان کوی
اخله لهامونه را ته ګوره رهنما یمه

۱۳۶۸/۱۱/۸ هـ ش جهاد کلی

د مجاهد د زړه ځریکه

دا میدونو دیوې مړې شوې دا به ځه کومه
څما په برخه حادیثې شوې دا به ځه کومه

ددرد یدلی زړه بخښه به چا ته خلاصه کړمه
دهر سړی سترګی ړندی شوې دا به ځه کومه

دوخت سیلیو خدای ګوزښت زیات لړزولی یمه
په تورتمونوکې مې شپې شوې دا به ځه کومه

په وینو لونددورورسنګرمی لاوچ شوی ندی
را باندې لورترلورحملې شوې دا به ځه کومه

څما دجهاد دلړی روانه لاتم شوی نده
چې را ته جوړی دسیسی شوې دا به ځه کومه

دیتیم کوکی می اسمان ته ملایکی اوری
خودانسان غوږنه کړې شوې دا به ځه کومه

ته ترمی سپرودد ښمن دسرو مرمیو پلور
ښکاری چې ببا تورې تیارې شوې دا به ځه کومه

دیرکړا وونه می کاللی دجهاد په لړکی
اوس رانه ورکې نتیجې شوې دا به ځه کومه

په سرنوشت می لوبې کیږی زه خبرنیمه
دمنزل لارې مې کړې شوې دا به ځه کومه

ماچی دانګلی وولمبوته سپین سبا په خاطر
راته رامخ ته ترګمې شوې دا به ځه کومه

(حنیفی) ځه ښه راته وائی دقلم په ژبه
زمه واری مې لادرنې شوې دا به ځه کومه

۱۳۶۸/۱۱/۳ هـ ش جهاد ګلی

له اسلامه قربانېږم

ځم دجنګ ډګرته له اسلامه قربانیږمه
ځان غورځوم اورته له مبو سره لوبیږمه

رب که مل ځما وُدا لحا دخونه به ورانه کړم
سامي چي په تن وي له دښمن سره جنګیږمه

نه کوم آرام ترڅو دښمن نیست او نابود نکړم
پل په پل قدم اخلم هدف ته ورلنډیږمه

مات مي سره پوځونه دا یمان په سترقوت کړله
عظم مي متین دی دهدف په لور خوځیږمه

لاره مي دَه پاکه مقدس لورته روان یمه
ځکه هر ډګر کي په الحاد بریالی کیږمه

څومره مؤمنان مي یرغلګر شهیدان کړله
ښرا ځي خوبونه ورځ تربلې را پخښیږمه

اخلم انتقام دسره وحشي کمون له زیګندی
کړم پرې تاړاکونه په مرچلوئی غورځیږمه

بند په بند که پرې شم له اسلامه نه جا روزمه
هیلي مي دی پاکي خپلو هیلو نه جا ریږمه

ورکې به تیاري کړم ضلالت ځکه له به ووسوم
سترګه دسبا یم لکه لمر داسي ځلیږمه

توروترکموکي څومره ځغلنده سفر کوم
شمعه دا خلاص یم په توپان کې هم بلیږمه

وائی (حنیفی) زه ناکسانو په اورسوی یم
ژاړمه دردیږمه خوږیږمه کړیږمه

۱۱/۱۱/ ۱۳۶۸ هـ ش باغوانان

نوی ورِمی تە گورە

دنوی کا ل نوی فضا نوی ورِمي تـــەگـــور ە
دا دبلبل نوی ا وا زنوی نغمي تـــەگـــور ە

حُما دورا ن وطن جونکروکی خندا وي نشتـــە
کلی پەکلی کورپەکوردغمقیصي تە کـــور ە

ما تەخزا ن دی کەبها روی دنری پەخلکـــو
دسرەبنکیلاک پەلاس مي ورا ن کورکنوالي تەگورە

کەزرغوني شی پلنی دبنتی ا ودری دوطـــن
حُما دهجرت توري جونکري ا وخیمي تەگـــورە

کەدغا تول کلان توکیری زەئی خـەکـومـە
کچەکری(١) ا وا کوری(٢) وچی میري تە کـــورە

کەجها نیا ن خا ندی خوبنیری هوسونە کـــوی
دا فغا نا نو دما تم جشن ا و میلي تـــەکـــورە

هریوا فغا ن تهخپل ا نګړکی یتیما ن ژړیږی
دیتیما نوکونډوبوروترا نې تـــــهګـــور ه

خلک دا من پهدنیا کی بها رونهلما نځـــــی
پها فغا نوتپل شوی جنګ جګړې ته ګـــور ه

هریومین خپلې لیلاتهسرهګلونـــه و روړ ی
د(حنیفی) خزا ن ځپلی سرې غونچې تهګوره

۱۳۶۹/۱/۱ هـ ش پیښور

(۱) کچه کری دمها جروکمپ
(۲) اکوری دمها جروکمپ

درومی دورمی وړاندې درومی

ای موږ منوا فغانانو درومی درومی وړاندې درومی
تیرله سره اتلانو درومی درومی وړاندې درومی

دغه ستاسو قربانی وه چی فارمولد (لینن) مات شو
کورموکډ کړ دروسانو درومی درومی وړاندې درومی

سره روسان موپه ګونډو کړل او سئی وازدی دلاس پوځو
سنګرونوکی غازیانو درومی درومی وړاندې درومی

دالحاد تېغ غرور ټول کړی د آسیا له پاکی ځمکی
اروپا په لورروانو درومی درومی وړاندې درومی

تمامی خلک حیران دی ستا سو ننګ ستا سو همت ته
افغانی قهرمانانو درومی درومی وړاندې درومی

یرغلګری سرې لښکری ګوډی ماتی درنه لاړی
ای غښتلو افغانانو درومی درومی وړاندې درومی

دا سلام زرین تاریخ موپه سرو وینو ښائسته کړ
دا سلام دبڼ طوطیانو درومی درومی وړاندې درومی

دا سی درس موروس تەورکڕچی ترمرگەبەیی‌یادوی
توریا لیومسلما نودرومی درومی وڕاندی درومی

تا سوویبن کړل پەنڕی کبنی خوبولی ملتونە
خوګښتونومخکښا نودرومی وڕاندی درومی

(حنیفی) همستا سووروردی پل پەپل درسرەدرومی
ای ددنگوغروزمریا نودرومی درومی وڕاندې درومی

۱۳۶۸/۱۱/۱۶ هـ ش جهادکلی

حماسي درسره وړه!

که‌تله‌دی په تیا روکی وی دی وی درسره وړه
تکل که دحریت کړی پرګنی درسره‌وړه

که‌غواړی چی خپلواک شی دالحا دکړی کړه‌ماته
همت درسره مل کړه حماسی درسره وړه

که‌غواړی چی دکفر کودی ورانه شی نړی کی
آوازدوحدت‌جګ کړه ترانی درسره‌وړه

مسلم څواکونه یوکړه چی طاغوت پرمخې پریوزی
دنیا کړه‌ورته‌ورانه زلزلی درسره وړه

الحادته‌رودنیل شه‌بیوزلان ورځنی ژغوره
خونی موجونه پیل کړه جپی درسره‌وړه

دکفر جام نسکورکړه له ختیځه‌ترلویدیځه
فاتح دهرډګرشه ولولی درسره‌وړه

په غفلنده قدم دآزادی پەلوری تله کـــــړه
غلیږه چراغان شه توری شپی درســـــرەوړه

دښمن پەکوندوشوی چی همت دی ســـتړی نشـــی
مرچلودجهادته څه حملـــی درســـــرەوړه

داسترکاروان روان دی دمنزل پلوری تله کـــړی
آوازئی دتکبیرشه انگازی درســــره وړه

کەغوررزی سرو لمبوته (حنیفی) درسره بویـــه
دتن‌جامی کفن پەوینـــو ســـری درســـرەوړه

باغوانان ۱۳۶۹/۵/۲۸ هـ ش

دا اسلامی یون دی

جوړ به یتیما نوتړ مې اوښکې سیلابونه کړی
وران به دا لحا ددضلالت زاړه برجونه کړی

جوړ شول غورځنګونه له بې وزله ولسونونه
مات به د (لینن) دا ستعما رسره ځنځیرونه کړی

ګوټ په ګوټ نړی کې دکمون په ضدپاڅون شوی
ټول به ئې ښغرشی کورپه کوروږته تړون شوی

خلاص بې له منګولودا بیوزله ولسونه شی
هرخوا دمحکوم ملتونو پیوستون شوی

ځی دا فغا نا نوسترنهضت دخپلوا کی پخوا
درومی ورروان دی خپل هدف او ازادی پخوا

تیرشوهغه دورچې انسان ئې غلام کړی وو
واوښت له جیحون نه بخارا اوشوروی پخوا

دا اسلامی یون دی ټول جهان ئې پارولی دی
لویه قافله ده کرملین ئې لړزولی دی

ماتې ئې په جنګ کې پیرغلګری سرې لښکرې کړې
دا دایمان زوردی شرق غرب ئې خوځولی دی

هره خوا چی کوری ازادی نعرې خپرې شولې
ځای پرځای دسترووینو څکنکومتې پرې شولې
سترګه دسبا درا ختلو په ورشــــــــــــــه کـــــه
تیټی دوحشت دتوروشپوتورې تیا رې شولې
لړ څه ورته څیرشه چی همت له لاسه ورنکــــړی
خپلې ګونډی رنډی بوری ورا ری درپدرنکړی
یا د (حنیفی) هیلی نیمګړی نیمه خوا نشی
خرڅی دشهیدوینی په ربل په دا لــرنکړی

۲۹/ ۹/۱۳۶۸ هـ ش

چرا ت دجمعیت طلبه دفتر

پوښتنه وکوه

مړا وی شول کلونه دبا غوا ن پوښتنه وکــــوه
مړه ئی بلبلان کړل دبوستا ن پوښتنه وکـــوه

تول وطن می لوټی لوټی ورا ن وحشی لښکروکړ
توری کندوالی دی دپروا ن پوښتنه وکــــو ه

کورپوکور غمونه دی ویرونـــــــه ژړا وی د ی
هرلورته ماتم دها ی سورا ن پوښتنـــه وکـــوه

توری ترګمی دی تورتمونه هجــرتـــونه دی
ظلم دوخت ګوره دهجرا ن پوښتنه وکــــو ه

څومره شاز لمیومی څرخی پله کـــی سا ورکړله
ورشه ا (پلیګون)ته دزندا ن پوښتنه وکـــو ه
سره شوله په وینودتخا را ودکنــــد ز سیمـــه
مړی شوې په کی هیلی بدخشـــا ن پوښتنه وکوه

جوړی هدیری دشهیدا نوګوټ په ګــوټ شولـــی
ژا ړه کا پیسا ته دپغما ن پوښتنـه وکــــو ه

درومه څه لوګرته څه زلمی ئی شهیدا ن شولــــه
حا ل دپکتیا وا خله دبغلان پوښتنـــه وکـــره

نه ورځی خوبونه چې وطن می چا لیـــــدلی وی
څه ورشه غزنی ته دمیدا ن پوښتنه وکــــوه

ځی د (جنیفی) لسترګومړی ا وښکی روا نې دی
لږئی دژړا ا ودپغا ن پوښتنــــه وکـــــوه

۱۸/ ۱۰/ ۱۳۶۸ هـ ش با غوا نا ن

هغه څه ممکن شول چې به تولو ناممکن بلل

جګ دجهاد غرو شو مدرسوا وجوما تونونه
وخوت برا سمان ته هندوکش له ګرنګونونه

وشول خوځښتونه ګوټ په کوټ کلي په کلي کي
جوړشولوی نهضت له کليوا لوخوځښتونونه

ماتی ئی په جنګ کی يرغلګری سری لښکری کړی
وچاودد کمون زړه مجاهد له تکبيرونونه

سترا سلامی ځواک درومی روان دی خپلواکی پخوا
وی ژغوره وطن له يرغلګروسرو پوځونونه

وی ځپل پلانونه د (لينن) فلسفه ماته شوه
پيل ازادی شوه اريا نا له دنګو غرونونه

تير شو هغه دورچې انسان ئی غلام کړی و
خلاصی پرکښی شوی استعمارله ځنځيرونونه

هغه څه ممکن شول چی به تولوناممکن بلل
ټکله خلک ويښ شول په نری کی له خوبونونه

ماتی ککری شوی ملحدينو خونی ورانی شوی
سترا نقلاب جوړشوافغانا نو غورځنګونونه

مات شو هغه ځواک چې په ختيځ ئی بادا ری کړله
تول به ئی نمرشی دختيځ له بلاکونونه

درومی (حنيفی) دا قافله دخپل هدف پلور
جوړئی کړله خلی شجاعت او غيرتونونه

۱۳۶۸/۱۰/۵ هـ ش باغوانان

ای وطنه!

ای ځما له ارزوګانو ډک وطنه
شوی په وینو دافغان ګل ګون چمنه

تا به ساتم که مې سرقلم شي
یا مې خېښې به جګرچري دبم شي

ستا په غیږکې لوبې دلې غیرتونه
نن را وړي دغیرت چمن ګلونه

خود به شم لوګی لوګی بچی دي یمه
زه افغان یمه دغرو زمري دي یمه

تا ځما رګوکي وینه مسته کړي
تا مې وینه په غورځنګ ده را وستلې

ستا سینه کې دښمنان کله پرېږدمه
په خنجرئي دایمان نا بوده ومه

تا لوی کړي (احمدشا) او (غزنوي) دي
(مشک عالم) او (سیدجمال) افغاني) دي

زەبچی د (مەلالی) پشتنی موریم
ددشمن سترگوکی خاردسری اوریم

دامی هوەدی کەپەتن می اوربلیری
تابە سا تم کەمی غوشی شکول کیری

ستا تجانگوکی می دننگ سبق ویلی
ستا دشمن می خو خو وارە تکەولی

دقران پەمدرسە کی دی زلمی کرم
دا سلام پەدرس دی پوهە ننگیالی کرم

دملحددشمن بەماتە ککژی کرم
دکمون زوکرەبەورکەلە نری کرم

دشمنانوتە دی تندرا سمانی یم
پەایمان مسلح شوی (حنیفی) یم

١٣٦١/٣/١۴ ه ش پیښور

د اسلام د کور پاسداره ستړی مه شی

ازادی دباغ مالیاره ستړی مه شې
په خزان پسې بهاره ستړی مه شې

چې دی ورانی کړی مانی دغا صبانو
(ملالی) نسله سرشاره ستړی مه شې

تا هروخت کی لوبه ولی غیرتونه
دهمت په پت سنګاره ستړی مه شې

تا نړی کی دغیرت وینه تو ده کړه
شجاعت دکورمعماره ستړی مه شې

په رښتیا چی د (محمود) ننګیالی زوی ئی
جوړ له ننګه اژدهاره ستړی مه شې

دالحادخونه دی ورانه کړه نړی کی
ددښمن دسترګوخاره ستړی مه شې

چې ویده زړونه دی ویښ کړل له جهان کی
ای مخکښ سپه سالاره ستړی مه شې

دسنګرپه خوشبوئی معطر راغلی
خپلواکی په می خماره ستړی مه شې

(حنیفی) ستاکارنا موځنی لوګی شه
ستړی مه شی هزاربا ره ستړی مه شې

۱۳۶۸/۱۰/۱۵ هـ ش باغوانان

ستڕی اوستومانه شوم

زه لکه ماشوم په سلګو سترِی اوشتومانه شــوم
لاړم دیار درته خو مایو ستری روی ګردانه شوم

بار بار مــی دیار کوڅــه کــی دیری کو کــی وکړلی
نه شولی قبولــی خــوزړه ماتی لـه جانانه شـــوم

ماخو دو فاپه خاطر دیرډیرځه قربان کړلـــــه
بیرته په‌بدل کــی په سرو سترګوله جفانه شـــوم

خلکو لیونی یم‌که داکړه دلیونوکــــــــــــوم
تلم دیار حرم ته خو لـه تلونه پښیلمانه شـــوم

هځــه مــی دګلو کړه از غیو ته ورستون شومـــه
نه پو هیږم ورونو ! داپه څه دومره نادانه‌شوم

یارمــی لیونــی بولی خوزه لیونی نـه یمـــــه
خیردی که‌ژر یـږم لـه بیلتونه لـه هجرانه شــوم

روغ رمټ به شمـه که دیار په دَر واصل شومـــه
نه غواړم فنا لـه عشقـــه نه تــری روی ګردانه‌شوم

زه د (حینفــی) په خیر دعشق په اوروریت شوی‌یم
بل دخپل انشاپه مینه تیرترمالاو ځانه شـــــوم

۱۵ / ۸ / ۱۳۶۹ هـ ش

دهجرت جونګړه پیښـــور

غرونه سحرا لټوم

ګرزم په دښتوکی لیلی لټوم
لکه مجنون غرونه سحرا لټوم

خلکه دمینی سمندر یم وړی
په کی غوپی وهم آشنا لټوم

ورکه می شوی سرګر دانه ګرزم
کوڅی می وکتی بیدیا لټورم
جرګی داو ښکو په محبوب پسی وړم
کلی په کلی محبوبا لټوم

دنیا په مخه کړه جفا وو خلکه
زه لیونی په کی وفا لټوم

پرهر پرهر زړه به ټکور کړم په څه
دزړ ګی خوږیکو ته دوا لټوم

ځان وریتوم دا زادی پـــــه میــــــنه
په ور یښـــیدوکی مــی بقا لټــــــوم

سربه قربان کړم د الله لــه دینـــــه
دی قــربانــی کــی ئــی رضـــا لټــــوم

کــه د فتنو ســـړی سیلی چلیـــــږی
زه به بهار د مصطفـــی لټــــــوم

دمقـدس هـدف په لوری ځمـــــــه
په دغو تلو کــــــی سپیــن سبا لټــــوم
از غیو تول دځمکـــی مخ نیــو لــــــنی
حوزه تتکل کـــوم کیمیا لټــــــوم

زه (حنیفــی) ځــم دادب کـــوڅـــی تــــه
هلته لــه ســـوز دکه وینـــا لټـــوم

۱۳۶۹/۸/۸ هـ ش دهجرت جـونګـړه
پیښـــور

ترکومه

دا دوینورودروان بـه وی ترکومه
دا دوخت نیشه مستان بـه وی ترکومه

ښو بـه یو لـه بـله وژنو په خپل مینځ کی
دا گوندویش افغانستان بـه وی ترکومه

ښو بـه شپه او ورځ په وینو کی لمبیږو
دا سیلی او دا توپان بـه وی ترکومه

دا بـه کله قیادت زمونږه یوشی
په درجنو مشران بـه وی ترکومه

دا ترکومه بـه اوسیږو بل وطن کی
دا هجرت او دا هجران بـه وی ترکومه

دا بـه کله خپل وطن غیږی ته درومو
دربـه درمهاجران بـه وی ترکومه

دا بـه څه وخت تورا وسپین سره بیلیږی
دا گدوده افغانان بـه وی ترکومه

دا بـه ښو پوری غریب نـبدای ښکار وی
اربابی او اربابان بـه وی ترکومه

دبیوزلەحق بەڅوپروی پا یمال وی
دا سخت زړی با دا ران بەوی ترکومە

دا مزی بەپا نگورکوی ترخومره
دا دبل دمت خانان بەوی ترکومە

دا بەکلەدخا ینن اوا مین فرق شی
دا بی ننگە غدا ران بەوی ترکومە

دا بەڅودا وربمونە را غورځیږی
درانە "سکڼ" او "اورا گان" بەوی ترکومە

پەوطن کی می سری وینی دی روانی
داهملی دا ملحدان بەوی ترکومە

دا بەکلەدکمون زړەپەمونږیخ شی
دا دروس تیکە دا ران بەوی ترکومە

دا بەکلەدا لحا دتغر تو لیږی
دا بی ننگە بی وجدان بەوی ترکومە

دا بە کلە (حنیفی) زړە پەا رام شی
هرەورځ دا شهیدان بەوی ترکومە

۱۳۶۸/۱۰/۲۳ هـ ش

په الحاد جملي دی نوې نوې

دلته دحق او دباطل جګړې دي نــوې نـوې
دلته جهاددې په الحاد دي نـــوې نـــوې

دلته دوینوسره لښتې لاهغــه شان بهـــیږي
دلته میرې خما په وینوسرې دي نــوې نــوې

دلته په وینوکې غوټې خورې دافغان بچو نهـــي
دلته دظلم دوحشت کردې دي نـــوې نـــوې

دلته پراته دي شهیـــدان لکه مرژوانـــده لالـــه
دلته دبورودفریا دنغمـــې دي نـــوې نـــوې

دلته سوردیو په غرمبهاردې ورانـــوې کورونـــه
دلته له ظلمه دهجرت کیسې دي نوې نـــوې

دلته څرخې پله‌کې نوکان له موږ مندانـــــوزې
دلته عزاب دلته‌کړاوشکنجـــې دي نـــوې نوې

دلته‌زامن دخپلوورکوپلـــرو لتـــه کـــوي
دلته هروخت دیتیم ســــترګې سرې دي نوې نوې

دلته دوا راری خورپه وړاندې وروړشلتګې وهــــی
دلته دکوندې د ژړاناری دی نــــوې نــــوې

دلته کمون په ګوندوشوی هرډګرکــــی ورونـــــــــو
دلته روڼا دآزادی دیوی دی نــــوې نــــوې

دلته لهوینودشهیدنـه تـوکیـدلی ګـــــــلان
دلته خوری دپســرلی وږمی دی نوې نـــــوې

دلته قلم دحنیفی نه ملغـلــــــــرې اوری
ځکه دشعـــر ئی جملــــی خوری دی نــــوې نـــوې

جهاً دکلی ۶۵/۵/۸ هـ ش

ځمونږ جهاد دی

زمونږ جهاد دی چی له خوبه جهانیان ویښه‌وی
الهام بښونکی دی هر لورته مؤمنان ویښه‌وی

خلک ئی ویښ کړل له خوبه دومو دونه
له آموپوری په هردوټکی مسلمان ویښه‌وی

وینه ئی ګرمه کړه رګو نوکی دهروګړی
دا یشیا زړه نه زمزمه شو آذریان ویښه‌وی

را پاڅوی را خوځوی را ویښه‌وی پرګنی
دهند په وړاندی دکشمیر دغروبازان ویښه‌وی

هلته پاڅون دلته پاڅون ټوله نړی شوه ویښه
دکمون بوټی ورکه‌وی اروپایان ویښه‌وی

واخله کشمیر تر رومانیا او تر برلینه پوری
دسره ښکیلاک زنځیر ئی مات که آلمانیان ویښه‌وی

په بخارا تا شکند قوقند کی ګنګوسی شو لی پیل
دکمون خیته ځنی لاندی مظلومان ویښه‌وی

دا به لانورهم زمزمه‌شی لا پونښـوی نــــــه‌دی
له چین نه‌وا خله ترلنـــده نه‌به‌ځوا نان ویښـــه‌وی

دا دا فغان ولس جها دوچـــی بتا ن ما تیـــــږی
دا دغفلت په خوب ویده بُت‌شکنـــا ن ویښـــــه‌وی

ټول مظلوما ن ئی سره یوکړل دطا غوت پـــه وړاندی
(حنیفی) وا ئی لیکوا لان ا وشا عـــرا ن ویښـــه‌وی

دهجرت جونکره‌با غوا نا ن
پیسور ۱۳۶۹/۷/۸ هـ ش

د مجاهد آواز

کله په چیغو شم ژړیږمه ویرونه کوم
کله دوران وطن په مینه کی سوچونه کومه

وطن می وران که لوټی لوټی ا لحادی لښکر و
کله بیا سر په زنګا نه شمه غمونه کوم

دهوسونو دیوی مړی کړی دکمون سیلیو
کله دغم له خوبه وزانګم خوبونه کوم

شینکی باغونه دنیا ل بمونو وسوز و ل
چی را په یادشی فریادی شمه آهونه کوم

څومره ظلمی می ا رمانی خا وروته ښکته شوله
ا خلم کساټ په ملحدینو تا ړا کونه کوم

دیری میرمنې دوطن می ورا ری بوری شولی
دیتیم ا وښکوته ولاړیم فریا دونه کوم

دیری پیغلوټی می په ژوندشوې نیمه خوانیمکړې
په آرزوګانوئی دردیږم ا رمانونه کوم

دا لحا دمورچی بوره نکړم آرا م نه کومه
دژوند ترپا یه به جنګیږم جها دونه کوم

چی په وطن دآزادی دیوه روښا نه نکړم
په دښمنا نو دوطن به غورزنګونه کوم

دبدن وینه می توده ده سړه شوې نده
د(حنیفی) ترڅنګ دریږمه لوطونه کوم

۱۳۶۸/۱۰/۲۹ هـ ش باغوانان

شاعرته

واوره شاعره! مینه‌پریره‌دله‌خوبانو سره
کچکول ترخنگ کړه ژوندکړه‌پیل له ملنگانو سره

کندولی مات کړه جام چپه‌کړه‌میخانی گړه‌گډی
پریږده تړون دخال او خط له‌شاعرانو سره

ما ته‌به‌نوری دبورا اوگل خبری نکړی
بوراکړه‌خوشی چی مشغول وی له گلانو سره

نوری به‌نه‌کوی دمستوشین خال او خبری
درومه سنگرته دا سلام له‌ننگیالانو سره

هغه‌وخت تیرشوچی به‌تا دعشق کیسی کولی
اوس غزه‌وه دغم نغمی له یتیمانو سره

کورپه‌کورکوندی بوری وراری څه په چیغو زاری
ته لاترا وسه‌ئی پیوند له‌گلروخانو سره

دنیا پیروحرم نه راشه گرنگونو په‌لور
دا سلام شمعی نه تا ویره‌پتنگانو سره

دا سا رت زولنی ما تی کړه پی مخی پریږده
دتکبیرچیغې بدرگه کړه له غا زیا نو سره

دا خوبولی بی احسا سه له خوبونو ویښ کړه
متهی را نغا ړه له موږ منووطنوا لو سره

د (حنیفی) خبری وا وره ښه په ځیره ځیره
په‌جها دی حرم ورگډشه له ځوا نا نو سره

۱۳۶۹/۶/۱۶ هـ ش با غوا نا ن

ترانه

زه مؤمن افغان یم له باطل سره جنګیږمه
جنګ ته روانیږمه
جنګ ته روانیږمه
ځان لوګی کبومه له اسلامه قربانیږمه
جنګ ته روانیږمه
جنګ ته روانیږمه
زه دکمونیزم پټیا روپسی رنها یمه
سترګه دسبا یمه
سترګه دسبا یمه

ماتبه تورتمونه کرمه شمعه یم بلیبرمه
جنگ ته روانیبرمه
جنگ ته روانیرمه
زه به دالله له دین نهسراومال قربان کرمه
ننگ به په قران کرمه
ننگبه په قران کرمه
عزم کی محکم یموړاندی تله کرمه خوځیږمه
جنگ ته روانیږمه
جنگ ته روانیږمه
پاکبه خپل وطن کړم دالحاد له غلامانونه
دی وطن پروشانونه
دی وطن پروشانونه
غوځی بی ریښی کړم ورځ له بلی راپخځیږمه
جنگ ته روانیږمه
جنگ تهروانیزمه
رعدیمه بریښنا یم دکمون زړه می چودلی دی
بیرته می شړلی دی
بیرتهمی شړلی دی
تندرداسمان په ځیرله بره پری رالویږمه
جنگ ته روانیږمه
جنگ تهروانیږمه
کوردا ستعماربهورانوم دحق آوازیمه
دنگوغرو نوبازیمه
دنگو غرونو بازیمه
زه دهربیدین اوهرملحدپه کوررولویږمه
جنگ ته روانیږمه
جنگ تهروانیږمه

زه دفتحی زیری یم فاتح دهرمیدان یمه
زوی دمسلمان یمه
زوی دمسلمان یمه
فتحه به آسیاکړم اروپاته به رسیږمه
جنګ ته روانیږمه
جنګ ته روانیږمه
زه داسلامی نهضت پیاوړی مجاهدیمه
مرګ دهرفاصدیمه
مرګ دهر فاصدیمه
وائی (حنیفی) ستاله جهادنه به جاریږمه
جنګ ته روانیږمه
جنګ ته روانیږمه

باغوانان ۱۳۶۹/۵/۹ هـ ش

دمجاهد په یاد

مجاهده قهرمانه ستړی مه شې
با همته باایمانه ستړی مه شې

تا دوخت دفرعونیا نوموړ کړه بوره
ننګیالی زوی دافغانه ستړی مه شې

تا چې ماتې کړې لښکرې د روسانو
ای فاتحه پهلوانه ستړی مه شې

همدا ته وې چې باطل دې په ګوندو کړ
ای دحق پهلار روانه ستړی مه شې

په اسیا کې دې دظلم کورخرا ب کړ
دمظلوم ددرددرمانه ستړی مه شې

چې نړۍ ګوته په غاښ در ته نیولې
ای غازی مردمیدانه ستړی مه شې

چې دخدای (ج) پهلارکې سرښندې په مینه
ای موږ منه تیرترځانه ستړی مه شې

چې نړی دی لهخوبونوکړه راویښه
ای مخکښه دکاروانه ستړی مه شې

دهریت خونهدې ورانه پههمت کړه
ای دحق ستر پاسبانه ستړی مه شې

(حنیفی) ستاکارنا موځني لوګی شه
لهخپل ځانه ورتهکرانه ستړی مه شې

۱۹/ ۹/ ۱۳۶۸ هـ ش
باغوانان

بهار راشه!

راځه بهاره! دچمن ګلونه وغووړوه
دشهیدانو په قبرونو پرخی و وروه

هروخت خزان دی برپوکی دی خړګردونه پکی
یوځل راځه! خزان ځپلی زړونه وتختوه

داستا راتلو ته موبهاره! شوګیری کړی دی
راځه رادرومه! دخزان برجلی ونه ړوه

لږدمالیار کړیکوته غوږ شه: څه په کړیکوژاړی
دا کړیدلی مالیار بیا په کرښها روخندوه

ټوله نړی کی ګوټ په ګوټ دابهارونه ګوره!
افغانستان کی دخزان سپیره بادونه ګوره

* * *

څه نا کردیدی چی افغان ولس ګالل نه دی؟
کوم یوکړاودی چی په هغه کړیدلی نه دی؟

ځومره تا ړاک ځومره بریدونه ووچی وئی زغمل
کوم یودګردی چی په ځغرده جنګیدلی نه‌دی ؟

دروس کولوته‌ئی غوښینی سینی سپرنیولی
کوم یوسنګر دی چی ئی هلته وردانګلی نه‌دی ؟

کوم استعماردی چی ئی زامه‌ورته ماته نه‌کړه ؟
کوم یرغلګردي چې ئې شاته تمبولی نه‌دی ؟

حنیفی ماتا وکوډتری تللی سره‌پوځونه‌کوره
دافغانانودا سلام په دین جنګونه‌ګوره

۱۳۶۹/۶/۵ هـ ش

شهیدان مې ژړوي

عالمه ! ددې دهرظالمانـــــــې ژړ وي
سبا بیگا ژړیږم پټ پنهانـــې ژ ړ وي

له سترگومې داوښکوپه ځای وینې شــوي روانـــې
لانه‌شول رانه غلی آن په آن مـــــې ژ ړ وي

لگیادي ورانول کړي دمظلوموکــــو دې ســـوزي
داظلم بربریت چوراوتالان مـــــــې ژ ړوي

یرغل دی تاړاکونه دي بریدونــــه دي په نــورو
ختیځ اولویدیځ پریږده صدامیان مې ژ ړ و ي

نړۍ کې گوټ په‌گوټ چې دبا روتوا وربلیـــــږي
وریت شوي په‌کې بې گنا انسانـــــې ژ ړ وي

جنگونه دي وژل دي قتلـــول دي هـــري خواتــــه
په‌وینوکې دوب شوي جهانیانـــــــــې ژړوي

روسی وژنکوخومره بی گنا قتلونه وکړل
ددوی په‌گولوسوری سوری افغانانمی ژړوی

ترڅو به‌تا ړاکونه‌وی ترڅو به‌دا سبکیلاک وی
با وروکوی ورنوداجریانمی ژړوی

دردیرمه کریږم لکه موم داسی ویلیږم
دشمی په خیرسوځم شهیدانمی ژړوی

پوهیږم چی ازل کی می په برخه ښادی نشته
که‌نورنوی ژړا دمسلمانمی ژړوی

گریوان د(حنیفی) دځگروینورنگینه کړ
ژړیږم دهغه رنگین گریوانمی ژړوی

پیښورخیبربازار هوټل ۱۳۶۹/۶/۴ ه ش

چي غزل وليکم

ځه‌لـه‌ا سلام ځنی قربا ن شه‌چي غزل ولیکـــم
دسپین سبا په‌خوا روا ن شه‌چي غـــزل ولیکـــم

توری تیا ری دی په‌کی خلک تندکونه‌وهـــی
دسها رستوری درخشا ن شه‌چي غزل ولیکـــم

ستا په‌هیوا دکی ملحدین په‌نا زخوبونـــه‌کو ی
ورته‌تریخ تندردا سما ن شه‌چي غزل ولیکـــم
همت دی ولی ویده‌کیږی ورځ په‌بلـــه‌پـــی
په‌کوندوورا رورمهربا ن شه‌چي غزل ولیکـــم

دا لوځی پښی ببرسرونه‌یتیما ن هیـــــروی
دمینی ځلی شه‌زړه‌سوان شه‌چي غزل ولیکـــم

دشهیدوینی لاروا نې وچي ښوی نـــــــدی
لږورته‌تم‌پدی میدان شه‌چي غـزل و لیکـــم

مسلمه‌ولی سنگرونه‌سړوې پـــــه خپـلـــه
دتوری شرنک ترکهکشا ن شـــه چي غزل ولیکـــم

دښمن کمین درته‌نیولی ته‌خوبونـــه‌کـــوی

ورته‌سیلی ورته‌توپا ن شه‌چې غزل ولیکم

دا خپل مینځې ترخې کړه‌هیری سترګې‌وغړه‌وه
دبې ا سری ملت پا سبا ن شه چې غزل ولیکم

په‌دا بې وزله‌ولس ورحمیږه رحم وکړه
کړم‌کړم‌زړونودرما ن شه‌چې غزل ولیکم

دڅا ن ځا نې صفونه‌غوڅ کړه‌دوحدت په نوره
لاربنوددلوی سترې کا روا ن شه‌چه‌غزل ولیکم

د(نا ګا ر)شعرددښمن دزړه‌رګونه شکوی
د(ګوهری)په‌خیرګویا ن شه‌چې غزل ولیکم

همت همت شه‌ملحدینوخونې ونړوه
د(حنیفی)دقلم‌توا ن شه‌چې غزل ولیکم

۱۵/۱۰/۱۳۶۸ هـ ش جها دکلی

بیدار شه!

مسلمانه ویښ شه وخوځه بیدار شه
په دښمن باندې د تندر کړنګهار شه

ویښ شه پور ته شه دخوب وختونه تیر شول
مبارزو مجاهدو په قطار شه

دا دې ولې دعیزت مهی شوی غوخې
ئې افغان د ازادۍ په مینه زار شه

دوطن بوټي دی سره شوله په وینو
ځه مسیر دانقلاب کی لاس په کار شه

اریانا باندې دشپی تیاره خپره ده
کړه همت وربانديتندردا سمان شه

دا سیاره دشهید په وینو سوردی
ځان قربان کړه ازادۍ دباغ مالیار شه

دوطن ګلونه وسول خزان توی کړه
دخزان تورو تیارو باندې بهار شه

بدبختی لـه تورو ښا وونـه را خیـــږه
را بهرشه ددښمن دسترګو خا رشه

دنفا ق پـه ځیل خا نوکی بنـدی نـه شـی
ا تحا دجا مـونـه وښکـه لالـه زا رشـه

دوطن زلـمی پـه وینوکـی لمیـــږی
دنفـا ق لـه ګوډا ګیـو نـه کنـا رشـه

لږ غیرت پـه یښتیما نوکـونډو ووکـړه
دملت لـه مظلومیت نـه خبـردا رشـه

ا فغا نـی مسلمـی پیغلـی قـربا نیـږی
تـه زلـمی ئی قربا نـی تـه جـوړ تیا رشـه

تـه ا فغا ن ئی دروسا نو مـرګ تـه جوړ ئـی
حیدری نـعری کوه پـه روس غـور زا رشـه

(حنیفی) جا می کفن تهـو پـک را وا خلـه
دزرین تا ریخ دهسکـی غا ړی هـا رشـه

۲۲/۱/۱۳۶۵ هـ ش پیښورسا ر

خوشحال دی

دکمون خونه ورانیږی ورانیدل دی
دوحشت تغرتولیږی تولیدل دی

دا سیا په زړه کی سترنهضت جوړشوی
سره ښکیلاک ځنځیرماتیږی ماتیدل دی

دا سلام په مینه مست زلمی می گوره
سرولمبولره غورځیږی غورځیدل دی

سری لښکرې ماتی کوډی ترې نه لاړی
افغانی همت پخښیږی پخښیدل دی

افغانان دنهضتونو مخکښان شول
ورځ په ورځ خلک خوشحیږی خوشحیدل دی

افغانانو په ختیځ کی بدلون راووست
د (لینن) فارسول بدلیږی بدلیدل دی

دوا رسا پهٔ غږیو تبه لګیدلی
د (برلین) دیوال نږیږی نړیدل دی

سرووحشیانو پهٔ کورخږسیلاب ورغلی
کی دوبیږی کی غرکیږی غرکیدل دی

ملتونه راویش شوی دی لهٔ خوبه
لهٔ روسانو راخرخیږی خرخیدل دی

(حنیفی) اوس دشهیدله پاکووینو
سرهٔ ګلونه راټوکیږی ټوکیدل دی

۱۰/۲۳/ ۱۳۶۸ هـ ش جهادکلی

دې پښتون ته پښتون مه وایه

بس کړی نوری پریږدی ترانی دپرون مه وائی
زړه می ترینه چوی دی پښتون ته پښتون مه وائی

مه می کړوی دکړیدلوتوان می نشته دی
ژوندنه مووبیزار کړم دی ژوندون ته ژوندون مه وئی

ډیرو تیندکونومی دزړه مراندی راغوخی کړی
خلکه دی تیارونه لاسباسباوون مه وائی

لاس دمرستی راکړی چی دمنه اوسانیولی شه
ماغموخوړلی ته لقب دجنون مه وائی

زه دابنکیلاکی تو پات له مخی سرهوری یم
ورک په گردلوکی یم دی حالته بدلون مه وائی

جبراووحشت می تمام شته رانه لوټلی دی
ماچی کوم لیدلی دی شبخون ته شبخون مه وائی

حومره چې ځوریږم په خو چندوم پخوالــدي
واوري مانـه خلکه راته اوس ځیگرخونمه وائی

ځان مـی چې لوګی نه کړدیاردکوڅی خاورونـه
بیاراته عالمه ددی عصر مجنون مه وائـی

ماته داشنادکوڅی هرڅه مینه مینـه دی
ځارکه تری نه نشومه دی تلوته می یون مه وائـی

غرق می که دښمن نه کړداوښکو دریابونو کـی
بیاد (حنیفـی) داوښکورودته جیحون مه وائی

۳ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش سکپ باغوانان پیښور

د میړنو وطنه

دمسلمانو پرگنو دهمتونو کوره
دمیړنیو افغانانو دننگونو کوره

تاکړله ماتسره یرغلگر پوځونه
دتوریالیو جنگیالیو ولسونوکوره

تازیگولی پرگنی لهغیرتونوسره
لهسیال دا ریوهمتونوعظمتونوسره

زړهدا سیاکی دی دیوه دهمت بلهکړله
میدان دی وگا تهلهستروکړا وونوسره

تاکی میشتهدی باهمته پرگنی وطنه
پهوینوساتی ستادا کونهاومیړي وطنه

اوس خودي ولیدل چې څومرهقربانی شول پتا
پهشهیدانو دی زیبا شوی هدیری وطنه

(دغزنوی) دمسلمانو پرگنو میهنه
ای ! دتاجکو دازبکو پښتنو میهنه

ستا په سینه کی په گوندوشوې دګمون لښکری
دمجا هدو شا زلمیو دپښتو میهنه

ستا په دروکی با همنه موږ منا ن وینمه
په دنګو غروکی دی سپیڅلی مسلمان وینمه

نا کی لوی شوی دی پیا وړی ننګیا لیا تلا ن
دهندوکش په ګرنګوکی دی زمریا ن وینمه

د (حنیفی) دپلارنیکه ا ودکا کا دیا ره
د (ملالی) دپت پرونی ئی ریښتیا دیا ره

دوخت ځوا کونه درنه بیرته په ژړا وتلی
دننګ نښا نه د (میرویس) ا و (ا حمدشاه) دیاره

۱۶/۱۰/۱۳۶۸ هـ ش با غوا نا ن

زه تولي دنيا ته ستړی شوی یم

زه د جهانیا نوله جفا نه ستړی شوی یم
زړه مې په چا پړ دونو دي دنیا نه ستړی شوی یم

ډیر ډیر کړیدلی یم دد هر ظالما نو نه
زه له خپل پردي دوست اوا شنا نه ستړی شوی یم

ماریمه خوړلی اوس له پړی نه هم تښتمه
نه مې شته با ور په چا هر چا نه ستړی شوی یم

ډیری نا نوا تې که د هر چا کور ته ورولم
کله مې غربا وری هری خوا نه ستړی شوی یم

یوخوا ته روسا ن بل خوا غربیا ن راته یوشوی دی
ډیر وفیصلو د جینوا نه ستړی شوی یم

ټولوطوا غیتو زما ورکی ته تړون کړی
ان له خلع شوی ظا هرشا نه ستړی شوی یم

لری که نیر دې دی را ته ستر کی برګول کوی
خپل ګا وند خو څه ټولی آسیا نه ستړی شوی یم

هر چا د مطلب په غرض ما ته لاس را کړی دی
لری خوا لا پریر د ه خپل کا کا نه ستړی شوی یم

هر وخت (حنیفی) ظلم وستم په لمبو سوی دی
وائی په والله خپلی وینا نه ستړی شوی یم

۱۳۶۹/۲/۲۰ هـ ش جها دکلی

توري شپې به سبا کیږي

توري شپې به سبا کیږي
افغانان په دین جنګیږي

دا زمونږ دجهاد خرپ دی
چې دروس بیړی ډوبیږي

زمونږ جهاد دنه الهام اخلي
ورځ په ورځ خلک خوځیږي

په اسیا او اروپا کې
سره ښکیلاک کړی ماتیږي

دافغان دتورې شرنګ دی
چې ویده خلک ویښیږي

دتورزنو افغانانو
نهضت د روم نه دریږي

له جیحون نه پوري وتي
ځي مسکو ته به رسیږي

سره ښامار مري به پریکړي
داسي نښې خرګندیږي

ولسونه به ترې ژغوري

افغانی زلمی کوا ښیږی
دا غښتلی ځوا ک روان دی
په ما دیا تو نه بندیږی

دسره دیو مری به پریکری
وراندی خی پیاوری کیری

* * *

له باطل سره جنګ دی
په اسلام موکړی ننګ دی

دالحاد تیغ به تیول کړو
اسلامی زمونږ غورځنګ دی

که تمام پرې شهیدان شو
لا موا وس کفن ترخنګ دی

شهادت دی زمونږ هیله
دا سی نبدی چی کړنګ دی

چی مین په سرو لمیو وو
ستی شوی پرې پتنګ دی

خپل هدف ته به رسیری
افغان په دین جنګیری

* * *

مونږ درب په دین قربان یو
پرې مین یو عاشقان یو

هر باطل به تار و مار کړو
موءِ منان یو تیرترګان یو

پرغلگر روسانه موماتکړه
دسنگر پهلوانان یو

وس ئې وار دی ولاسپو څو
راوتلی په میدان یو

(حنیفی) ارام به نکړو
څو منزل ته به روان یو

توری شپې به سبا کیږی
افغانان په دین جنیکږی

۱۳۶۹/۱/۱۲ هـ ش باغوانان

شهیدان به کله هیرکړم

په لکونو سره په وینو شهیدان به کله هیرکړم
بې اسرې او دربدره یتیمان به کله هیرکړم

چې روسانو می وطن په کنډوالو راته بدل کړ
جوماتونه مدرسې کورونه وران به کله هیرکړم

له هرکورنه بهیدلې دسرو وینو سره ویالې
دخپل وروروپه وینو سورافغانستان به کله هیرکړم

داسې څوک به نوی پاته چې دجنګ اورسوی نوی
جنګ ځپلی کړیدلی افغانان به کله هیرکړم

لوړدنګ غرونه پلنې دښتې شهیدانو بایسته کړی
چې لاله په کی شنه کیږی قبرستان به کله هیرکړم

دوطن بوټواوکانومی دوینورنګ خپل کړی
دادسرو ووحشی لښکرواړمغان به کله هیرکړم

چې دی پروت ورته په مخ کې زوی په وینوکی لت پت دی
داده بوری مورژړاکوکی فغان به کله هیرکړم

چې انسان کی شکنجه کیږی او نوکان ورځینې وزی
دخرخی پله بلاکونه دزندان به کله هیرکړم

چې دظلم په بټی کې مظلومان په اورکی سوځی
داپه سرولمبوکی سوی مظلومان به کله هیرکړم

چې زلمی ورورورته پروت ټیکه ټیکه او وراړی خورته
(حنیفی) ددا سی ورارې لوندګریوان به کله هیرکړم

۱۳۶۸/۱۱/۲۰ هـ ش باغوانان

دا جذبې مولې مړې شوې؟

ای باتورو مسلمانو دا جزبې موولې میړیشوې
ای ریښتونو مؤمنانو دا جزبې موولې مړیشوې

دا موولې سترکا روان دتم کیدوخواته ستنیږي
دسنګرقهرمانانو دا جزبې موولې مړې شوې

دا خوتاسووی چې روس موبیرته تللوته مجبورکړ
ای فاتحوسربازانو دا جزبې موولې مړې شوې

همدا ستاسوانقلاب ووچې نړی په خوځیدوشوه
نهضتونو مخکښانو دا جزبې موولې مړې شوې

د (لینن) فلسفه ماته ستاسوننګ ستاسوهمت کړه
دا سلام دبڼ ګلانو دا جزبې موولې مړې شوې
چې روسان موپه کوندوکړل نوکران موخله پرینې

دخپل عصرا بدالیانو دا جزبې موولې مړې شوې
لږدا خپلوکوندو ،بورو ،یتیمانوته نظرکړئ

دملت زوکړه غازیانو دا جزبې موولې مړې شوې
په سرووینوګټل شوې هدف بل ته نشي پاته

دهدف خواته روانو دا جزبې موولې مړې شوې
(حنیفي) همدمنزل پخوا قدم په قدم تله کړې

ای جزا بوا فغانانو دا جزبې موولې مړې شوې

۱۳۶۸/۱۱/۳ هـ ش باغوانان

چې غزل وليکم

موءُ منه دروِمه روانيږه چې غزل وليکم
دا زا دي پـه لورخوځيږه چې غزل وليکم

کړه ورته ماتي دکمون دغلامانو متمې
شه ورته تندرپري رالويږه چې غزل وليکم

توري تيا رې دي را خپرې د(غزنوي)په مېهنه
دخپلوا کي شمعې بليږه چې غزل وليکم

تا کړلې ما تي ملحدينو سري وحشي لښکري
روستي پرا وته ورسيږه چې غزل وليکم

دتکبيرونوا نگا زي دي ترا سما نه لاړې
دميني خلي شه درديږه چې غزل وليکم

دا سيا زړه کي دي ما ني دکفرورا نبه کړله
مسلمه ځه وړا ندي غځيږه چې غزل وليکم

دحيرت گوته هرسړي ذرته په غا ښ نيولي
له سرولمبوسره لوبيږه چې غزل وليکم

دښمن دمرگ سلگي وهي گوره ستوما نه نشي
ترآ خري برې جنگيږيږه چې غزل وليکم

دپسرلي موسمه را شه گلان وغوړوه
را ځه را دروِمه را رسيږه چې غزل وليکم

(حنيفي) تا تها نتظا رکړې گوره ځندونکړې
په گران وطن ئې ديره کيږه چې غزل وليکم

د جنت په مینه

څوک پریشا ن ا ولیونی شول دقدرت په مینـــه
څوک سپیلنی لوګی لوګی شول دیانت په مینه

څوک غلاما ن حلقه بګوش شول ځا ن ئې وپلورلـــو
چا دخپل تـن جا مې کفن کړی دحریت په مینـــه

څوک دننګو دننګو محلونوکی خوبونه کــــوی
څوک دسنګرشپې تیره وی دشهـا دت په مینـه

څوک وژنی خلک قتلول کړی شوم غرض په خا طر
چا زولنې کړلې قبولې دملت په مینـــــــه

څوک ددوزخ لارلټوی لګیا دی هځـــه کــــوی
څوک شها دت جا مونه غکی خا ص دجنت په مینـه

څوک تا ړا کونه په بیوزله ولسونـــو کـــوی
څوک بیوزلان ژغوری ظا لم نه ا نسا نیت په مینه

ځوک خوه‌ښوی جنګ ا وجګړی دولسونوترمنځ
چا قربانی دوینی ورکړه‌دا منیت په مینه

چا دا لحا دخونه‌کړه‌ورا نه‌دا یشیا په‌زړه‌کی
چا بیا وطن که‌خرڅ په‌نوروشرا رت په‌مینه

چا کړه‌را خلاص ا فغانستا ن ته‌دیرپردی لاسونه
جا دمذهب نه‌ا نکا روکړوها بیت په مینه

چا (حنیفی) په‌خیررسی دخپل مذهب نیولی
ځوک بیا پردی دول ته‌نخیری ضلالت په‌مینه

۱۳۶۹/۱/۱۹ هـ ش

جها دکلی

ټرکومه

دا دوینو رودروان بـه وی ترکومه
دا دوخت نیشه مستان بـه وی ترکومه

خو به یو لمبله وژنو په خپل مینځ کی
دا گوندویش افغانستان بـه وی ترکومه

خو به شپه او ورځ په وینو کی لمبیږو
دا سیلی او دا توپان به وی ترکومه

دا به کله قیادت زمونږه یوشی
په درجنو مشران به وی ترکومه

دا ترکومه به اوسیږو بل وطن کی
دا هجرت او دا هجران به وی ترکومه

دا به کله خپل وطن غیږی ته درومو
در په در مهاجران به وی ترکومه

دا به څه وخت تورا و سپین سره بیلیږی
دا کدوده افغانان به وی ترکومه

دا به خو پوری غریب دبدای ښکار وی
اربابی او اربابان به وی ترکومه

دبیوزلەحق بەخوپروی پا یمال وی
دا سخت زړی با دا ران بەوی ترکومە

دا مزی بەپا نکورکوی ترخومره
دا دبل دمت خانان بەوی ترکومە

دا بەکلەدخاین اوامین فرق شی
دا بی ننگە غداران بەوی ترکومە

دا بەخودا وربمونه را غورځیږی
درانه "سگه" او "اوراگان" بەوی ترکومە

پەوطن کی می سری وینی دی روانی
داهملی دا ملحدان بەوی ترکومە

دا بەکلەدکمون زړەپەمونږیخ شی
دا دروس تیکە داران بەوی ترکومە

دا بەکلەدا لحا دتغر تولیږی
دا بی ننگە بی وجدان بەوی ترکومە

دا بە کلە (حنیفی) زړه پەارام شی
هرەورځ دا شهیدان بەوی ترکومە

۱۳۶۸/۱۰/۲۳ هـ ش جها دکلی

ستړی مه شی

ای فاتحو افغانانو ستړی مه‌شی
ای ریښتونو مسلمانو ستړی مه شی

چې دروس وحشی لښکری موکړی ماتې
ای باتورو مسلمانو ستړی مه‌شی

دکمون سورکی نیلی مو پــه‌گوندوکړ
دحمزه (رض) په‌پله‌روانو ستړی مه شی

دپا طل مخی ته‌صدیی دفــو لادو
ابدالی بابا بچیانو ستړی مه شی

ازادی شمعی موبلې په جهان کړې
نهضتو نه‌مخکښانو ستړی مه‌شی

دا لحا دجورې مووهایستې له بیخه
دا سلام د ښن ګلانو ستړی مه شی

سره‌ښکیلاک کړی موماتې په همت کړې
افغانی مجاهدانو ستړی مه شی

سنګرونه موتودیږی ورځ تر بلې
وحدانیت دکو رزمریانو ستړی مه‌شی

په تکبیرمولړزولی کرملین دی
بت شکنو اتلانو ستړی مه‌شی

چې را ویښ موولسونه کړه له خوبه
د (میرویس) نیکه لمسیانو سترې مه شی

چې ملحدی ککړی موکړلې ما تې
خو ځښتونو رهبرانو سترې مه شی

(حنیفی) مودسپیڅلی لاری مل دی
دا سلام پا سبانانو سترې مه شی

۱۳۶۸/۱۰/۸ هـ ش
باغوانان

د خشم د پیښه خشم

دا د جدی فاجعه وه، څومره ستره سانحه وه
آزادی ناوی ئی مړه کړه، څه د ظلم منظاره وه

سرو لښکرو یرغلونه، کور په کور ماتم غمونه
څه د وینو سیلابونه، څه لښکری څه تیانگونه

سرې گولی را وریدلې، هر خوا وینی بهیدلې
په هیوادمې جوړ ماتم ؤ، بورې میندې ژړیدلې

دا د جدې ارمغان وو، چې د وینو رود روان و
د وحشیانو تاړاکونه، هر خوا چیغې های سوران و

د آسمان لمنې سرې وې، څه د غمنارې سورې وې
هر سړی په وینو رنگ و، وحشتونو نظارې وې

کور په کور ویرا وژړا وه، که د وهمه کربلا وه
سرو لښکرو وژل خلک، څه د ظلم انتها وه

توري وريخي را خپري شوې آرزوګانې هيلې مړې شوې
خندا ګانوکډې وکړې، کورپه کوردغم ناري شوې

دنګودنګوغروسروکې، دپغمان ښکلوتپوکې
بلبلان په غما خته شول، هندوکش په ګړ نګوکې

غم دغم دپاسه غم وه، هره خوا ويرا وماتم وه
ترمې ترمې اوښکې تللې، هرسړې سترګوکې نم وه

خزان توي کړله ګلونه، نيمه خوا شول اميدونه
نن نه يولس کالـه وړاندې، تاړاک وځپله زړونه

دا دجدې تورتمونه، په وطن کې ويرغمونه
ازادي طوطي بندي شو، دبلبل مات شووزرونه

را خپرې توري تيارې شوې خپلواکيودیوې مړې شوې
(حنيفي) خونه شوه ورانه، په وطن ئې زلزلې شوې

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۶۸ هـ ش
حها دکلي

جوړ بشه کور دي وران شه

کړه پاکي ورته او ښکي يتيمان مه کړوه
په سرئي لاس راکاږه کمکليان مه کړوه

ظالمه! دمظلوم دزړه له آه نه ويره وکړه
ډک جام به دي نسکورشي مظلومان مه کړوه
دکوندو بورو ورا روپه حالت دي رحم نشته

زړه سواندي شه ظالمه ! عاجزان مه کړوه
دجبر په ښتي کي چي انسان کباب ول کړي

طاغوت دشرق او غرب جهانيان مه کړوه
چي وران دي کړه کورونه دمظلوموافغانانو
روسيه نورئي پرېږده افغانان مه کړوه

چي راغلي سعودي ته حرمين ذي اشغال کړه
جوړ بشه کوردي وران شه موء منان مه کړوه

دکويت په نازولودي بي حده ظلم وکه
صدامه زړه دي مات شه عربان مه کړوه

ډيلي کي ورته ناست ئي په کشمير کوي ېريدونه
ددنګو دنګوغرونوکشميريان مه کړوه

چي لاړي دمذهب له ليکي کوږشوي بلي خواته
په داسي نارواکړوحنيفيان مه کړوه

باغوانان ۳/۶/ ۱۳۶۹

ځما د زړه ټکوره

جهادنه دی قربان شم کارنامونه دی لوکی
ځما دزړه ټکوره! حوصلونه دی لوکی
مورال دی څومره لوړدی ستا مورال ته می سلام
دښمن دی ملاماتی که حملونه دی لوکی

دا ته وی ستا جهاد وچی زبینباک په ختمیدوده
دروس ټغرټولیږی دالحاد ساپه وتوده
نړی درته نیولی دحیرت ګوته په غاښ
دجهل جال دی وسوجهالت په ورکیدوده

کمون دی په ګوندوکه آریانا په دنګو غروکی
ښکیلاک دی په زړه چاودکه دآسیا په سردروکی
تاریخ دی دبلال (رض) او حنظله رض دوبارتازه که
همت دی راژوندی که خوب یدلو په ګنوکی

داستاله برکته کمونیزم متی په ری شوی
آسیاکی ګو ټ په ګوټ دآزادی بلی ډیوی شوی
جوړیږی نهضتونه الهامونه درنه اخلی
سوردیوراپرزیدلی تری آزادی پرګنی شوی

دازه (حنیفی) ستادقدم خاورونه ځارېږم
داستا دتوری شرنګ نه نظرو چ سپیلنی کیږم
رانجې دی دپله خاوره ده افراط که په کی نه وی
والله باوردی وشه په ډیردونو دی دردیږم

۲/۶/ ۱۳۶۹ هـ ش جهادکلی دفتر

لندن ته روانیږم

بیا ولي ؟ دسروونو سري ویالي را یـــا د وي
احساسه زیاتي وومره څه جګـړي را یـــا دوي
ما پریږده چې خمار یم ددي دهر میخا نـــوکـــي
کړي په کـړي ولي ؟ معرکـــي را یـــا د وي

تیرشوي مي هیرکـــړي دنشو پـــدي جهـــا ن کي
ما پریږده چې سرمســـت یم دمزو پــه ګلستا ن کي
جها ن دبې دردي کي خوبیدلي یـم زنګیـــږ م
احساسه لږویده شه مه وردا نګه په نیـــرا ن کـــي

جګړوکي خودویني او سرونو قربـــا نـــي وي
مرچلو دجها دکـــي خوســـرورکـــړه په سیا لي وي
لانه یم تیا رشوي چې دتـــن وینه قربا ن کـــرم
احساسه لږ څه دپل شه دپل کیدلوکي خوښـــي وي

احساس مي چې ویـــده کـــه (حنیفي) را ته ګویا ن شو
لندن ته روا نیږم تنګ په ما افغا نســـتا ن شـــو
دنیکي ځا ي مي نشته کورکهول را با ندي تنـــګ دي
جها دنه یم په تیښته خپل وطن را ته نیـــرا ن شـــو

۱۳۶۹/۵/۲۲ هـ ش جها دکلي

د اوږمې د آزادۍ

کمونیزم په کوندو شو زموږ دنګو دنګو غروکی
سره ښکیلاک کړی شوی ماتی هندوکش په کړنګوکی
دافغان ولس له توری دا لحاد تېغ رټولیږی
ورځ په ورځ خلک خوځیږی دختیځ پـ بلاکوکی

دموءمن ملت همت ووچی سور بت ئی را نسکور کړ
دمسکو دواکدا را نوئی نړی کی مخ ور تور کړ
دی اتلو افغانانو دسره دیوزامه کړه ماته
له آسیا تر اروپائی ټول وطن کمون ته اور کړ

نن مظلومی پرګنی دی پاڅیدلی خوځیدلی
دظالم کور به خراب کړی پخڅیدلی قهریدلی
دکابل دزړه له تل نه ستر ولس کاروان تړلی
قافلی دموءمنانو له جیحون نه اوړیدلي

دپامیر له دنګی څوکی د (برلین) دیوال نړیږی
دمیوند له عظمتونو الهامونه اخذ کیږی
له محرابه له ممبرنه نهضتونه ولاړ شوی
ځی روان دی وړاندی درومی کرملین ته بهرسیږی

دا وږمی دآزادی دی دا موسم دخپلواکی ده
سری لښکری موکړی ماتی په نصیب موسوکالی ده
دا سلام زرین تاریخ موبیا په وینو رنګینه که
(حنیفی) وائی ځوانانو رنګ را وړی قربانی ده

۱۳۶۹/۲/۸ هـ ش باغوانان

مؤمن زلمیه!

سه چی اسلام ځنی قربان شوی ای مؤمن زلمیه!
نا می تورزن دټول جهان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی په وینو کړ خړوب دا سلام ښکلی حرم
والله چی کران په مسلمان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی جامی خپلی کفن کړی وحدانیت په مینه
لاړی برلوړترکهکشان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی بریدونه په دښمن په شجاعت کوله
دویا ړفاتح په هرمیدان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی میدان دکربلا دوباره گرم کړلو
دسترحسین په خیرقربان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی فرعون دزمانی باندی نړی کړه تنگه
جگ په توکل دپاک سبحان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چی سوربت دسره وحشت پړ مخی پری یستلو
ثانی محمود شوی قهرمان شوی ای مؤمن زلمیه!

تا چې له روس سره جنګونه شپه او ورځ کوله
واکدار دخپل افغانستان شوی ای موږ من زلمیه!

تا چې کړا وِ دهجرتونو په ځان وومنلو
دخدای په درکی قدردان شوی ای موږ من زلمیه!

تا چې دمینې وروروولی فضا را مینځ ته کړله
دهرموږ من دزړه درمان شوی ای موږ من زلمیه!

تا چې دوخت دنمرودیانو ورته ودا ننګلو
د (حنیفی) دزړه جانان شوی ای موږ من زلمیه!

۱۳۶۹/۳/۶ هـ ش دهجرت جونکره

شهیدان لټوه

په کلیو گرزه کندوالی کورونه وران لټوه
ورانو جونگړوکی بی موره ماشومان لټوه

چی دماښام په ترگموکی بی څراغه ناستوی
هغه بی وسه اوبی کسه یتیمان لټوه

ورشه ورتیرشه دسنگر پلو ته وراندی ورشه
پاره پاره په بمو ټیری شهیدان لټوه

چی دالله په لارکی سربندی په مینه مینه
داسی دخدای (ج) په دین مین وعاشقان لټوه

چی دښکیلاک او دزبیښاک په لاس کیوتی دی تل
داسی بیوز له بی اسری ستړی ستومان لټوه

دهر مظلوم په درد خبر شه چی عمر (رض) صفت شی
په نیمو شپوگرزه کوڅوکی مظلومان لټوه

دتکبیر چیغی زمزمه‌کړه ترجیحونه پوری
په بخارا ترک او تاجک کی موږ منان لتهوه

هری نه واخله‌ترکشمیره پرگنی کړه ویبنی
دبُت شکن (محمود) په مینه کی څوانان لتهوه

دحق آواز داسلامی فرصت شپیلی نه پو کړه
ویښ شه له خوبه دردیدلی مسلمان لتهوه

دوهابی مسلک په مخ‌رمرگ څاپیره ورکړه
متهی رانغاړه توره واخله (حنیفیان) لتهوه

۱۰ - ۷ - ۹ ۱۳۶ هـ ش

دهجرت جونگرم پیسور

خپل واکی په طرف

مسلمه پا ځیدې روا ن شوې خپلوا کي په طرف
ټولې نړی کې قهرما ن شوې خپلوا کي په طرف

دا ستعما رمری دې پرې کړه دهمت په توره
ورته سیلی ورته توفا ن شوې خپلوا کی په طرف

له سره بنکیلاک ځخه دی وژغورل بیوزله خلک
زړه دا سیا کی نما یا ن شوې خپلوا کی په طرف

دحیرت گوته هرسړی درته په غا بن نیولې
ته چی فا تح په هرمیدا ن شوې خپلوا کی په طرف

دیرغلګروسرې لښکری دې بې پته کړلی
چی ورته تندردا سما ن شوې خپلوا کی په طر ف

ستا خوځیدل وچی نړی کې خوځښتونه وشول
ځکه مخکښ دلوی کا روا ن شوې خپلوا کی په طرف

دړحشتونوکډی با رشوې یوه په بله پسې
دهر مظلوم دردردرما ن شوې خپلواکی په طرف

تا ولسو نه کړه را ویښ دغلامی له خوبه
دنهضتونو قهرما ن شوې خپلوا کی په طر ف

چی په نړی کی دی ما ښی دکفرورا نه کړله
ځلانده ستوری په جها ن شوې خپلوا کی په طرف

ستا سربښندنه به ترمرگه را نه هیری نه شی
د(حنیفی) دقلم توا ن شوې خپلوا کی په طرف

۱۰/۱۰/۱۳۶۸ ه ش چرا ت دجمعیت طلبه دفتر

ای مؤمنو افغانانو

ننگیا لیو جنگیا لیو افغانانو
ورمیږونه موکړه مات دسروروسانو

دا مونږ دا موا یمان دا موهمت وو
چې کوپړی موکړی میده دغاصبانو

دوباره مودنیکونو یا دژوندی کړ
دمیرویس او دمحمود با زماندگانو

دسره دیو وحشی لښکری موکړی ماتی
دملالی مورزا منوا تلانو

ملحدینو ته مو داسی ماته ورکړه
چې سر تیټی شرمنده شول دسیالانو

بیا به سترگی ستا سو لورته گرځینکی
نه به بیا وکړی یرغل په مظلومانو

پر له پسی دسره کمون خونه ورا نیږی
پا څو ن کړی لیتوا نیا او آذریا سو

لەا سیا نەئـــی شـــری پـه تــهــو لیـــــدودە
دمرگی سلـگــی کـــری پیـــل کمونســتا نــو

دغه ستا سو دجها دلـــــه بـــرکـــمــــتـه
دوحدت لاســو نـه ورکــــړل بیوز لانـــــو

ولسونەمو را ویـــښ کـــړل لەخـــو بـــونــو
دخپلـواکو نهضتو نـــو مخکښــــا نـــو

(حنیفی) څومـــره خوا ږه شعرونـــه لیکـــی
ستا سومدحـــی کــړنا مـــی دشــا عــرا نـــو

با غوا نا ن ۱۳۶۹/۲/۲۴ هـ ، ش

را پاڅه هله هله

تکبیرچی زمزمه شو کورپه کورکلو باندوکی
سره وینه توده شوه دافغان دتن رګوکی

همت په خو حیدو شو په غور حنګ ئی پیل وکړ
بوتان په پرزیدوشول دکمون په بتخانوکی

دی وی په بلیدوشوی دتیارو پردی شوی څیری
دفتحی آواز جګ شو هندوکش په ګړنګوکی

شپیلی نه دجهادچی دپاڅون قومنده پوشوه
لبیک لبیک آواز شو دافغان په پرګنوکی

آریانه چی خوځښت داسلامی انقلاب وشو
نو پیله زلزلی شوی دالحاد مشتعروکی

راپاڅه هله هله (حنیفی)چی‌وخت تیریری
الهام درخخه اخلی دکشمیر په دنګو غروکی

۱۹ - ۸ - ۱۳۶۹ هـ ش سکپ باغبانان پیښور

د مجاهد غږ

کهٔ مې بلې په تېتر باندې لمبې شي
یا مې غوښې په چړوکترې کترې شي

مسلمان یم چا ته ټیټ کتلې نهٔ شم
کهٔ مې بند په بند بدن اړی اړی شي

له دښمن سره سازش منلی نهٔ شم
کهٔ مې خښې په جګر د بم چرې شي

زهٔ به اخلم انتقام له دښمنانو
که په وینو مې جارې وچې ویالې شي

یم لوی شوی د قرآن په نیغه لاره
ځکه پورته په جهان مې ولولې شي

ما ته درس دی (غزنوی محمود) راکړی
د دښمن به دا ړندې سترګې ړندې شي

یا به وا ړه افغانان شهادت مومي
یا به ډکې په کفار ژهدیرې شي

(حمدي) چې وي ژوندی دا ئې ایمان دی
که پردا ریا په بموټوټې ټوټې شي

تکلونه

چې وی مین هغه له یاره تیریدلی نه شی
څوک چې آزادوی اسارت دچا منلی نه شی

زړه چې سینی نه را بهـرشی دا شنا پـه تکل
بیا په هیڅ رنګ هغی سینی ته ستنیدلی نه شی

پتنګ ته ګوره چې په شمې څنګه ځان وریته وی
چې مینه نه وی څوک پدا ورکبا بیدلی نه شی

مینه کډا ورده خوعاشق ته له ګلزارنه بنده ده
پرته له مینی څوک هدف ته رسیدلی نه شی

دچا په زړه کې چې دیوه دآزادی شی بله
بیا توپا نونه وسیلی هغه وژلی نه شی

دچا رګونو کی چې وینی غورځنګونه پیل کړه
هغه غورځنګ دچا یرغل کرا رەولی نه شی

دچا احساس چې راویښ شوی وی له خوبه ځنی
هغه راویښ احساس بیا څوک ویده کولی نه شی

ځوک چې روا ن وی خپل هدف ته رسیدل غـــوا ړی
هغه دچا په خندا وخا رحصا ریدلـــی نـــه شـــی

دچا مورا ل چې وی آسما ن پلـو ته لـــوړختلــــی
هغه بیا ځوک پـــه زورا وجبرټیټه ولــی نه شـــی

هغه ولس چې دا یما ن په زورا وځوا ک سمبـــا ل وی
دهغه لیا ره کی کمون سنګرنیولـــی نـــه شـــی

هغه کا روا ن چې ښه په خغرده خپل هـدف ته درومـــی
دهغه مخه بیا با طل را ګرزولی نـــه نشـــی

د (حنیفی) خوږی جملې ددښمن زړه ما تـــــه وی
دتندر کړیکی دی دښمن ئی ا وریدلـــی نه شـــی

۱۳۶۹/۶/۱۰ هـ ش   دهجرت جونګړه

حماسی جوړ وه

دمحمد (ص) په دین قربان شه حماسې جوړه وه
سنګر ته درومه تیر تر ګان شه حماسې جوړه وه

ورا نوجونګړو ته دی وګوره همت هم شه
په دښمن تندر دا سمان شه حماسې جوړه وه

خومره ځوانان دی قربانی شول له ا سلامه ځنې
دزخمی شو یو زړو درمان شه حماسې جوړه وه

کوره دبوروورا روا وښکی درنه هیری نه شی
په هر بیوزله مهربان شه حماسې جوړه وه

خومره پیغلوتی نیمه خوا خا وروته ښکته شولی
ځه انتقام ته ئی روان شه حماسې جوړه وه

درنه سوړ نشی دحیل وروروپه وینو ګرم سنګر
دسنګرونو قهرمان شه حماسې جوړه وه

دښمن دمرګ سلګی وهی چی ورته ستړی نشی
ورته سیلۍ ورته توپان شه حماسې جوړه وه

دملحدینو مټی پریکړه دا یمان په توره
پری دلیندی عیسی رسان شه حماسې جورو ه

دکمون توری ترگمی دې په وطن خـــپرې دی
تیا ری کړه ما تی چرا غا ن شه حما سې جـــوړه وه

دآ زا دی کا روا ن بـه نن سبا هــدف تـه رســی
ورته ملگری دکا روا ن شه حما سې جـــوړه وه

دتکبیر غږ دی لـه آ سیا نـه ا روپـــا تـــه رســی
جیحون نه پورې خوا عیا ن شه حما سې جـــوړه‌وه

ستا لـه همته خودیوا ل د (برلین) ونـــړیــده
په بخا را کی هم گلان شه حما ســې جـــوړه‌و ه

وا خله قلم په لاس کی ونیسه شعـرونه‌لیکـــه
دا تلانو صفت خوا ن شـه حما سې جـــوړه‌وه

مبا رزی دکرته‌دا نگه خـه خوبـونه‌کـوی
د (حنیفی) په‌خیرکویا ن شه حما سې جوړه وه

۱۲/۱۱/۱۳۶۸ هـ ش جها دکلی

PROPERTY OF ACKU 1859



ملا اسد الله (حنیفی)

څیرکی به تاسو سره پاته یو یادښت وی ورونو!
زه ځینې به خاوری خاوری شم له خاورو سره

جمعیت طلبه حرکت انقلاب اسلامی افغانستان